مجله علمی سلام
Salam Academic Journal
*Journal Homepage: [https://www.resaearch.salam.edu.af](https://www.resaearch.salam.edu.af)*
اووم کال، یوولسم گڼه، پسرلی ۱۴۰۱هـ.ش

# د بهرنيو هېوادونو سره د اسلامي امارت اړيکې د اسلامي شريعت په رڼا کې

# The Relations of an Islamic Emirate with Other Countries in the Light of Islamic Sharia

DOI: 10.64104/v6.Issue11.n2.2022

پوهنوال دکتور مصباح الله عبدالباقی[1]
ORCID: [https://orcid.org/0009-0004-4224-2339](https://orcid.org/0009-0004-4224-2339)

ISSN: 3078-9583 (Online) ISSN: 3078-9575 (Print)
تاریخ نشر: ۱۴۰۱/۵/۱۰ تعداد صفحات: ۴۵ از ۲۷ تا ۷۱

## لنډيز

په دې مقاله کې تر هر څه دمخه د اسلام په رڼا کې د بهرنيو اړيکو په اهميت او اړتيا خبره شوې، او دا خبره شوې چې دا بايد د مصلحت او مفسدې د قاعدې لاندې وڅېړل شي، دا د ولاء او براء قضيه نه ده چې پر بنسټ يې د تکفير بازار گرم کړى شي، په اوسنيو شرايطو کې چې کوم هېوادونه وجود لري چې د يو اسلامي هېواد له لوري اړيکې ورسره ټينگې کړى شي دوه ډوله دي، لومړى: کافر هېوادونه، دويم: مسلمان هېوادونه، په پخوانيو فقهي کتابونو کې د کافرو هېوادونو سره په اړيکو بحث شوى، ځکه چې په هغه وخت کې اسلامي هېوادونه متعدد نه ؤ، او ټولو مسلمانانو د يو خلافت تر سيوري لاندې ژوند کاوه، په دې مقاله کې په دې بحث شوى چې د اسلامي هېوادونو تعدد بايد شرعا د يو واقعيت په حيث ومنل شي، چې هلته خلک د خپلو امورو د تنظيم لپاره بايد اداره رامنځته کړي، ځکه اسلام بې نظمي نه مني، مگر د دې هېوادونو په مشرانو کې د هيڅ هېواد مشر هم د خليفة المسلمين حيثيت نه لري، او د دې مسلمانو هېوادونو سره هم بايد د هماغه اصولو سره سم اړيکې جوړې کړى شي د کومو اصولو پر بنسټ چې د کافرو هېوادونو سره مسلمان هېواد اړيکې جوړوي، خو د اسلامي هېوادونو ترمنځ د اړيکو لپاره يوازې دوه اصله اضافه دي چې هغه د اسلامي اخوت، او د مسلمانانو ترمنځ د ولاء او دوستۍ اصل دى.

کليدي کليمې: دار الاسلام، دار الحرب، دار الکفر، بهرنۍ اړيکې، د اسلامي هېوادونو تعدد

[1]. رئيس پوهنتون سلام، +93771694474، [Misbah.abdulbaqi@gmail.com](mailto:Misbah.abdulbaqi@gmail.com)

**مقدمه**

الحمد لله رب العلمين والصلاة والسلام على سيد الأنبياء والمرسلين وعلى آله و أصحابه أجمعين وبعد.

قرآن کریم یو داسې کتاب دی چې د الله تعالی له لورې د بشریت لپاره د اخیري پیغام او اخیري هدایت نامې په توګه رالیږل شوی دی، بیا یې الله تعالی د حفاظت او مصئونیت ضمانت په خپله کړی دی، لکه په قرآن کریم کې چې فرمايي: **{إِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا الذِّكْرَ وَإِنَّا لَهُ لَحَافِظُونَ} [الحجر: 9]** بې له شکه همدا موږ دا هدایت نامه نازله کړې ده، او همدا موږ یې حفاظت کونکي یو.

په دې حفاظت کې د قرآن کریم د حفاظت دواړه اړخونه (لفظي او معنوي) شامل دي، نو الحمد لله د قرآن کریم الفاظ هم محفوظ دي او همدا راز قرآن کریم د معنوي تحریف څخه هم محفوظ پاتې دی.

او له دې امله چې دا کتاب د الله تعالی له لورې رالیږل شوی دی، چې زموږ خالق او مالک دی، نو د یو مسلمان په نزد چې د الله په ذات او د هغه په خالقیت او مالکیت ایمان ولري، د قانون لپاره له دې کتاب څخه پرته بل کوم غوره مصدر نه شي کېدلی.

نو کله چې قرآن کریم په دې توګه محفوظ دی، او د مسلمانانو لپاره د قانون تر ټولو بنسټیز مصدر دی، نو د ژوند په بېلا بېلو اړخونو کې اسلامي امت ته د افرادو، ټولنو او هېوادونو په حیث د ورپېښو مسائلو لپاره د حلولو تر ټولو بنسټیز مصدر همدا قرآن کریم دی، نو هر کله چې مسلمان د فرد په حیث او یا هم د ټولنې او هېواد په حیث د کوم مشکل سره مخ کیږي، نو باید د هغه مشکل حل په قرآن کریم کې ولټوي، په اوسني عصر کې قرآن کریم ته د بېلا بېلو قضایاو د حلولو د لټولو لپاره د تفسیر یوه نوې تګلاره وټاکل شوه چې هغې ته موضوعي تفسیر وویل شو، موږ په دې لنډه لیکنه کې ددې هڅه کوو چې د قرآن کریم په رڼا کې د یو مسلمان هېواد نړیوالې اړیکې د نورو هېوادونو سره وڅیړو، مګر له دې امله چې دا قضیه نوې ده، او تکییف ته اړتیا لري، همدا راز دې ته اړتیا لري چې موږ لومړی هغه هېوادونه مشخص کړو چې یو اسلامي هېواد باید ورسره اړیکې ولري، نو کله کله به پرې د موضوعي تفسیر پر ځای د یو عام فقهي بحث رنګ غالب وي چې له دې څخه خلاصون نشته.

**نړیوالې اړیکې څه ته وايي؟**

د نړیوالو اړیکو تعریف له یوې زمانې څخه بلې زمانې او د یو فرهنګ څخه بل فرهنګ ته فرق کوي، خو په اوسنۍ زمانه کې د نړیوالو اړیکو تعریف په لاندې ډول شوی دی:

نړیوالې اړیکې هغه ټولو اړیکو ته ویل کیږي چې یو خپلواک هېواد یې د خپل قلمرو څخه بیرون د نورو هېوادونو سره د سولې او جنګ په حالت کې لري، د داسې اړیکو د رامنځته کېدو لپاره لاندې دوه شرطونه اړین دي:

لومړی: په نړۍ کې د متعددو خپلواکو هېوادونو موجودیت؛ ځکه که مستقل او خپلواکه هېوادونه وجود ونه لري نړیوالې اړیکې نه شي متصور کېدلی.

دویم: دا مستقل او خپلواک هېوادونه باید په خپلو کې په همیشنیو، سوله ایزو اړیکو کې سره ښکیل وي[2].

2- اصول العلاقات الدولية فى فقه الامام محمد بن الحسن الشيباني ج۱ ص ۱۷۷، دكتور عثمان جمعه ضميرية، چاپ دار المعالي، صويلح، عمان، اردن، لومړی چاپ ۱۹۹۹م.

**د نړیوالو اړیکو د قانون او علم تعریف**

د دې اړیکو د تنظیمونکي قانون چې نړیوال عمومي قانون بلل کیږي تعریف داسې شوی دی چې: دا د هغه قواعدو د مجموعې او ټولګې نوم دی چې د هېوادونو ترمنځ اړیکې تنظیموي، او د سولې او جنګ په وخت کې د هر یو حقوق او مسؤولیتونه ټاکي[3].

نو هغه علم چې د هېوادونو ترمنځ د اړیکو د تنظیم، او د سولې او جنګ په حالت کې د هېوادونو د حقوقو او مسؤولیتونو څخه بحث کوي، هغه ته د نړیوالو اړیکو علم ویل کیږي.

له دې تعریف څخه څرګندیږي چې نړیوالې اړیکې د دوو مستقلو هېوادونو ترمنځ وي، دا دوه هېوادونه که مسلمان هېوادونه وي او که دوه کافر هېوادونه وي، او که یو مسلمان او بل کافر هېواد وي، دا خو د نړیوال عمومي قانون غوښتنه ده، مګر د اسلام د نړیوالو اړیکو د قانون (السیر) له نظره دا اړیکې باید څرنګه وي، د دې لپاره دا اړینه ده چې دا وکتل شي چې اسلام نړۍ څرنګه تقسیموي؟ ایا په دې اعتراف کوي چې متعدد مسلمان هېوادونه دې وجود ولري؟ تر څو یې ترمنځ اړیکې وجود ولري؟ د غیر مسلمانو هېوادونو سره اړیکو ته په کومه سترګه ګوري؟ ایا ټولو غیر مسلمانو هېوادونو ته په یوه سترګه (د دار حرب په توګه) ګوري، که دار الحرب هم متفاوت حیثیتونه لري؟ دا ټول هغه مسائل دي چې باید په دقت سره وڅیړل شي، مګر د دې ټولو څخه دمخه باید د دې نړیوالو اړیکو په اړتیا او ضرورت خبره وشي، ځکه تر څو د یو کار اهمیت او اړتیا و نه څیړل شي د هغه تفصیلي احکام څېړل اړین نه وي.

**د یو مسلمان هېواد لپاره د نړیوالو اړیکو اهمیت**

د اسلامي امارت او هر مسلمان هېواد لپاره نړیوالې اړیکې خورا مهمې دي، دا اړیکې یوازې په دې کې نه را خلاصه کیږي چې نور هېوادونه او نړیوالې ادارې یو هېواد په رسمیت وپېژني، په دې کې شک نشته چې دا یې لومړی پړاو دی، بلکې د دې ترڅنګ دې ته هم اړتیا ده چې اسلامي امارت د نړۍ د ټولو هېوادونو سره مثبتې اړیکې ولري، داسې اړیکې چې د هېوادونو اعتماد را جلب کړی شي، د اعتماد په فضاء کې موږ خلک په دې قانع کړو چې موږ یو ازاد ملت یو، د خپلو معتقداتو سره سم د ژوند کولو حق لرو، موږ د ټولو سره د متبادل احترام په فضاء کې مثبتې اړیکې جوړول او پالل غواړو، یوازې په رسمیت پېژندل ځکه کفایت نه کوي ځکه چې موږ ګورو د ایران او سوډان په څېر هېوادونه له مودو راهیسې نړۍ او د نړۍ هېوادونه په رسمیت پېژني مګر هغه اهداف او مقاصد چې د دې اړیکو په نتیجه کې باید تر لاسه شي نه یې دي تر لاسه کړي.

یوه قضیه چې ورته اشاره کول غواړم هغه دا ده چې د نړۍ د هېوادونو سره اړیکې د ضرورت د احکامو تابع دي، او کله کله خو حاجت هم د ضرورت قائمقام ګرځي، لکه فقهي قاعده چې وایي: الحاجة قد تقوم مقام الضرورة[4]، نو دا اړیکې ایجادول د اړتیاو د رفع کول لپاره دي، نو د دې اړیکو د عقیدې او کفارو سره د دوستۍ او دښمنۍ (ولاء او براء) سره هیڅ ټکراو نشته، له دې امله چې دا د ضرورت غوښتنه ده، که اړتیا نه وي، او د نړۍ سره د پریکون سره سره په نړۍ کې ژوند ممکن وی نو کېدلی شو چې د دې اړیکو په جوړولو دومره تأکید نه وی شوی.

---

3 - الشريعة الاسلامية والقانون الدولي العام ص ۸۰ د المستشار علي علي منصور تأليف، الجمهورية العربية المتحدة، المجلس الأعلى للشؤون الاسلامية، القاهرة، لومړی چاپ ۱۹۷۱م موافق ۱۳۹۰هـ ش.

4 - معلمة زايد للقواعد الفقهية والأصولية 7/275 رقم القاعدة: 260. دا قاعده په ډیرو الفاظو راغلی ده لکه «الحَاجَةُ تُنَزَّلُ مَنْزِلَةَ الضَّرُورَةِ: عَامَّةً كَانَتْ أَوْ خَاصَّةً» او لکه «الحاجات تتنزل منزلة الضرورات في إباحة المحظورات» او «حاجة الناس تجري مجرى الضرورة» او «اعتبار الحاجة في تجويز الممنوع كاعتبار الضرورة في تحليل المحرم».

نړیوالې اړیکې له دې امله ډیرې مهمې دي ځکه چې ډیر داسې اهداف وجود لري چې د ښو او مثبتو نړیوالو اړیکو پرته یې ترلاسه کول ممکن نه دي، نو د هغه فقهي قاعدې پر بنسټ چې وايي «ما لا يتم الواجب الا به فهو واجب»[5] دا اړیکې اړینې ګرځي، اسلام چې د بشریت لپاره د الله متعال اخیري پیغام او رسالت دی، دا یې د ټول بشریت لپاره رالیږلی دی، د دې دا عمومیت د دې د نړیوالتوب ښکارندوی دی، او همدا یې د دې د نړیوال اړیکو لپاره بنسټ هم دی، دا دین او د الله تعالی دا اخیري پیغام هر څوک په خپل ځای کې مخاطب کوي، او د هغوی لپاره احکام لري، کله د سولې احکام او کله هم د جنګ احکام، دا ټول د نورو سره د اړیکو بنسټ ګرځي، له دې امله چې اوس هغه حالت نه دی چې علماو کله د اسلام د نړیوالو اړیکو په اړه تأصیلي لیکنې کړې دي، کله چې په نړۍ کې یو اسلامي خلافت وه، بلکې اوس متعدد مسلمان هېوادونه هم وجود لري، له دې امله دا اړیکې به یا د مسلمانو هېوادونو سره وي او یا به د غیر مسلمو هېوادونو سره، نو دا اړیکې که د مسلمانو هېوادونو سره وي او که د غیر مسلمو هېواونو سره وي، دلته موږ په لنډ ډول د هغه اصولو او بنسټونو یادونه کوو چې د هر چا سره د اړیکو د جوړولو او پاللو غوښتنه کوي، د دې په ضمن کې به هغه مجالات هم را په ګوته شي چې د اسلامي امارت له پلوه د بهرنیو اړیکو له لارې پرې ترکیز وشي، دا بنسټونه په لاندې ډول دي:

**لومړی بنسټ: د انساني اصل یو والی**

قرآن کریم په دې تأکید کوي چې ټول انسانان د یو اصل څخه دي، ټول د آدم علیه السلام او حضرت حوا اولاد دي، او د یو جنس د افرادو ترمنځ اړیکې اړینې دي، دا اړیکې که ایجابي وي او که سلبي، د دې اړیکو څخه هیڅ چاره وجود نه لري، الله تعالی فرمايي: **{يَاأَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوا رَبَّكُمُ الَّذِي خَلَقَكُمْ مِنْ نَفْسٍ وَاحِدَةٍ وَخَلَقَ مِنْهَا زَوْجَهَا وَبَثَّ مِنْهُمَا رِجَالًا كَثِيرًا وَنِسَاءً } [النساء: 1]**

ای انسانانو د خپل پالونکي (رب) څخه وویریږئ چې تاسې یې د یو نفس (حضرت آدم) څخه پیدا کړي اوسئ، او د هغه څخه یې د هغه جوړه هم پیدا کړې ده، او د هغوی دواړو څخه یې ډیر سړي او ښځې خپاره کړي دي.

د دې ایت کریمه په تفسیر کې امام المفسرین ابن جریر الطبري وايي:«ومُنَبِّهَهُم بذلك على أن جميعهم بنو رجل واحد وأم واحدة، وأن بعضهم من بعض، وأن حق بعضهم على بعض واجبٌ وجوبَ حق الأخ على أخيه، لاجتماعهم في النسب إلى أب واحد وأم واحدة، وأن الذي يلزمهم من رعاية بعضهم حق بعض، وإن بَعُدَ التلاقي في النسب إلى الأب الجامع بينهم، مثل الذي يلزمهم من ذلك في النسب الأدنى، وعاطفًا بذلك بعضهم على بعض، ليتناصفوا ولا يتظالموا، وليبذُل القوي من نفسه للضعيف حقه بالمعروف على ما ألزمه الله له»[6].

الله تعالی د دې په ذریعه (چې انسانان ټول د یو مور او پلار څخه پیدا دي) انسانان دې لور ته متوجه کوي چې دوی د یو سړي او یوې ښځې بچیان دي، دوی یو د بل برخه دي، دوی یو پر بل باندې داسې حق لري لکه یو ورور یې چې پر بل ورور لري، ځکه دوی ټول یو پلار او یوې مور ته په انتساب کې سره یو شانته دي، د دوی ترمنځ چې یو پر بل د حقوقو کوم رعایت لازم دی – سره له دې چې دوی کوم پلار کې سره شریک دي هغه ډیر لیرې هم دی ـ د دې سره سره د دې حقوقو

5 - دا یو د هغه قواعدو څخه ده چې د ټولو فقهاو ترمنځ اتفاقي ده، د مراجعو او مصادرو لپاره یې وګورئ: معلمة زايد للقواعد الفقهية والأصولية 27/429، د قاعدې شمېره: 1836، دا قاعده د دې لفظ تر څنګ په نورو الفاظو هم نقل شوی ده، لکه: «الأمر بالشيء يكون أمرا بما لا يتم ذلك الشيء إلا به» او «ما لا يتوصل إلى الواجب إلا به فهو واجب»او «ما لا يحصل الواجب إلا به فهو واجب ».

6 - «تفسير الطبري (جامع البيان في تفسير آي القرآن) ط دار التربية والتراث» ج 7 ص 512- 514.

رعایت په هماغه ځیر لازم دی لکه څرنگه چې په نږدی نسب کې د شریکو خلکو لپاره لازم دی، او د دې په ذریعه الله تعالی انسانان په خپلو کې عطوفت او نرمۍ ته رابللي دي؛ تر څو یو د بل سره د انصاف تعامل وکړي، یو پر بل ظلم و نه کړي، او قوي په خپله خوښه د ضعیف حق په هغه توگه اداء کړي چې الله تعالی لازم کړی دی.

کومو شیانو ته چې امام ابن جریر الطبري اشاره کړی ده، په حقیقت کې هغه حقوق دي چې د دې بهرنیو اړیکو له لارې باید تر لاسه شي، او د دې مبنی یې په نسب کې د انسانانو گډون ښودلی دی، چې ټول ـ مسلمانان دي که کافر ـ د حضرت ادم او حوا اولاد دي او په نسب کې سره گډ دي، نو تر منځ یې اړیکې اړینې دي.

الله تعالی په یو بل ایت کریمه کې هم همدې حقیقت ته اشاره کوي، فرمایي: { **يَاأَيُّهَا النَّاسُ إِنَّا خَلَقْنَاكُمْ مِنْ ذَكَرٍ وَأُنْثَى وَجَعَلْنَاكُمْ شُعُوبًا وَقَبَائِلَ لِتَعَارَفُوا إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِنْدَ اللَّهِ أَتْقَاكُمْ إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ خَبِيرٌ} [الحجرات: 13].** ای انسانانو موږ تاسې د یو سړي او یوې ښځې څخه پیدا کړي اوسئ.

او د بقرې په سورت کې او همدا راز په المائدة سورت کې الله تعالی فرمایي چې انسانان یو امت وه، او اختلاف وروسته په کې را پیدا شوی دی، الله تعالی **فرمايي: وَمَا كَانَ النَّاسُ إِلَّا أُمَّةً وَاحِدَةً فَاخْتَلَفُوا ۚ وَلَوْلَا كَلِمَةٌ سَبَقَتْ مِنْ رَبِّكَ لَقُضِيَ بَيْنَهُمْ فِيمَا فِيهِ يَخْتَلِفُونَ [يونس: 19].** خلک (ټول) یو امت ؤ، نو په خپلو کې سره اختلاف وکړ.

د شیخ المفسرین امام ابن جریر طبري د تفسیر سره سم دا ټول ایتونه په دې دلالت کوي چې انسانان (کافر وي او که مسلمان) حضرت آدم علیه السلام ته د انتساب له امله یو پر بل باندې حقوق لري، او دا حقوق په هماغه ځېر لازم او ضروري حقوق دي لکه څرنگه چې په نږدی نسب کې د شریک خلکو حقوق پر انسان باندې لازم دي، او دا حقوق یوازې هغه وخت سرته رسېدلی شي کله چې د نړۍ انسانان یو د بل سره مثبتې اړیکې ولري.

**دویم: تعارف (پیژندگلوي) د نړیوالو اړیکو بل بنسټ**

الله تعالی په انسانانو کې ټولگي، قبیلې او قومونه د دې لپاره جوړ کړي دي چې په خپلو منځونو کې یو د بل سره وپیژني، او د پیژندلو په نتیجه کې یو د بل سره د محبت او عطوفت تعامل ولري، الله تعالی فرمایي: **يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ إِنَّا خَلَقْ◌ٰنَكُم مِّن ذَكَرٍ وَأُنثَىٰ وَجَعَلْ◌ٰنَكُمْ◌ شُعُوبًا وَقَبَآئِلَ لِتَعَارَفُوٓاْ◌ۚ إِنَّ أَكْ◌رَمَكُمْ◌ عِندَ ٱللَّهِ أَتْ◌قَىٰكُمْ◌◌ۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَلِيمٌ خَبِيرٌ [الحجرات: 13].**

ای خلکو موږ تاسې د یو سړي او ښځې څخه پیدا کړي اوسئ، او تاسې مو ملیتونه او قبائل گرځولي یاست تر څو یو بل سره وپیژنئ، ستاسې ترمنځ د الله په وړاندې تر ټولو معزز هغه څوک دی چې تر هر چا ډېر تقوا لرونکی وي، یقینا الله تعالی ډېر عالم او ډېر باخبره دی.

قرآن کریم چې ځای پر ځای انسان یو اصل ته ورگرځوي، او په ډېر آیتونو کې ددې یادونه کوي چې انسانان د یو مور او پلار (آدم او حوا) اولاد دي، همدا قضیه په احادیثو کې هم ډېره زیاته تکرار شوی ده، د بیلگې په توگه په هغه اوږد حدیث کې چې په سننو او مسانیدو کې روایت شوی دی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم به د لمانځه نه وروسته دا دعاگانې لوستلی، او په یوه برخه کې یې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایی: «أَنَا شَهِيدٌ أَنَّ الْعِبَادَ كُلَّهُمْ إِخْوَةٌ»[7]. زه د دې گواه یم چې بندگان ټول سره ورونه دي.

7 - «سنن أبي داود» (2/ 83) ت محيي الدين عبد الحميد.

دا پيژندګلوي پخپله هدف نه دی، بلکې د پيژندلو وروسته چې کوم محبت او الفت بايد رامنځته شي هغه بايد د دې تعارف او پيژنګلوۍ په نتيجه کې رامنځته شي، امام الوسي همدې ته اشاره کوي او وايي: «جعلناكم كذلك ليعرف بعضكم بعضا فتصلوا الأرحام وتبينوا الأنساب والتوارث». تاسې مې په مليتونو او قبيلو د دې لپاره ويشلي ياست تر څو يو بل وپيژنئ، او په خپلو کې خپلولي وپالئ، خپل نسبونه وپيژنئ، او دا وپيژنئ چې څوک د چا وراث ګرځي.

او د همدې تعارف، په نتيجه کې عطوفت، محبت، ګډ کار او يو بل سره مرسته رامنځته کيږي، او همدې حالت ته موږ د ملتونو او هېوادونو ترمنځ اړيکې وايو، کله چې تعارف مطلوب دی، نو دا اړيکې په هغه مبتني دي نو دا به هم اړينې او ضروري وي.

**دريم بنسټ: په نړۍ کې ګډ ژوند او يو بل ته اړتيا**

1- په نړۍ کې ګډ ژوند د دې غوښتنه کوي چې انسانان(کافر وي او که مسلمان) بايد يو د بل سره اړيکې ولري، هغه که په انفرادي توګه وي او که په جمعي توګه وي، د هېوادونو په کچه وی او که د ټولګيو په کچه، په دې اړه الله تعالی فرمايي: **هُم يَقسِمُونَ رَحمَتَ رَبِّكَ نَحنُ قَسَمنَا بَينَهُم مَّعِيشَتَهُم فِي ٱلحَيَوٰةِ ٱلدُّنيَا وَرَفَعنَا بَعضَهُم فَوقَ بَعضٖ دَرَجَٰتٖ لِّيَتَّخِذَ بَعضُهُم بَعضٗا سُخرِيّٗاۗ [الزخرف: 32].**

ايا دوی ستا د پروردګار رحمت تقسيموي؟ موږ د دوی ترمنځ د دنيا په ژوند کې د دوي معيشت او اقتصاد تقسيم کړی دی، او (په مالدارۍ کې مو) يو شمېر خلکو ته په يو شمېر نور فوقيتورکړی، تر څو يو شمېر خلک د يو شمېر نورو څخه د خپلو اړتيا د پوره کولو لپاره استفاده وکړي.

امام ابو حفص نسفي وايي چې د (ليتخذ بعضهم بعضا سخريا) معنی دا ده چې هره طبقه د بلې څخه استفاده وکړي، په خپله حرفه او صنعت کې ترې هغه کار واخلي چې اړتيا ورته لري، او کارګر د هغه څخه د هغه مزدورۍ په ذريعه استفاده کوي چې له هغه څخه يې ترلاسه کوي، نو هر يو د بل څخه اقتصادي ګټه لاس ته راوړي[8].

په تفسير الكشاف کې وايي: «وأنّ الله عزّ وعلا هو الذي قسم بينهم معيشتهم وقدرها ودبر أحوالهم تدبير العالم بها، فلم يسوّ بينهم ولكن فاوت بينهم في أسباب العيش، وغاير بين منازلهم فجعل منهم أقوياء وضعفاء وأغنياء ومحاويج وموالي وخدما، ليصرف بعضهم بعضا في حوائجهم ويستخدموهم في مهنهم ويتسخروهم في أشغالهم، حتى يتعايشوا ويترافدوا ويصلوا إلى منافعهم ويحصلوا على مرافقهم، ولو وكلهم إلى أنفسهم وولاهم تدبير أمرهم، لضاعوا وهلكوا»[9].

جار الله زمخشري هم همدا خبره کوي، وايي: الله تعالی د هغوی ترمنځ د هغوی رزق او معيشت تقسيم کړی، او ټاکلی دی، او د هغوی د حالاتو څخه د يو باخبره او عالم ذات په حيث يې د هغوی د ظروفو او حالاتو اداره او تدبير کړی دی، هغوی يې سره مساوي نه دي ګرځولي، بلکه د هغوی ترمنځ يې د رزق په وسائلو کې تفاوت رامنځته کړی دی، د هغوی مراتب يې هم مختلف کړي دي، نو يو شمېر يې قوي پيدا کړي او شمېر يې ضعيف، يو شمېر بډاې او نور يې محتاج ګرځولي، څه يې مالکان او څه يې غلامان جوړ کړي، تر څو يو شمېر خلک نور په خپلو کارونو کې مصروف کړي، او دهغوی

8 - تيسير التفسير ج ۱۳ ص ۲۷۹ تأليف: نجم الدين عمر بن محمد بن أحمد النسفي الحنفي (۴۶۱- ۵۳۷هـ) (دا د امام أبو البركات النسفی (ت 710) د مدارک التنزيل د مؤلف څخه بيل عالم دی چې له هغه څخه ډير مخکې تير شوی دی، او هغه يې د تفسير څخه ډيره استفاده هم کړی ده) تحقيق: ماهر اديب حبوش، ناشر: دار اللباب للدراسات وتحقيق التراث، اسطنبول، ترکيا، لومړی چاپ کال ۲۰۱۹م – ۱۴۴۰هـ.

9 - الكشاف عن حقائق التنزيل، وعيون الأقاويل في وجوه التأويل (4/ 248). أبو القاسم محمود بن عمرو بن أحمد، الزمخشري جار الله (المتوفى: 538هـ) الناشر: دار الكتاب العربي – بيروت، الطبعة: الثالثة - 1407 هـ.

ځخه په خپلو حرفو کې کار واخلي، او هغوی د خپلو اړتیاو لپاره استخدام کړي، تر څو یو د بل سره ګډ ژوند وکړي، او یو بل ته ګټه ورسوي، او په عین وخت کې خپلو ګټو ته هم ورسیږي، او خپلې فائدې هم ترلاسه کړي، که الله پاک دا کار دوی ته سپارلی وی، او د خپلو معاملاتو اداره او تدبیر یې پخپله دوی ته ورکړی وی، نو له منځه به تللی وی او تباه شوی به وی[10].

نو دا ایتونه په دې دلالت کوي چې په انسانانو کې تفاوتونه الله تعالی د لوی حکمت لپاره ایښي دي، او لکه څرنګه چې افراد یو بل ته الله تعالی محتاج پیدا کړي دي، او هیڅ یو انسان هم خپل ټولې اړتیاوې په ځانته ځان نشي پوره کولی، د بیلګې په توګه که څوک وغواړي یو جوړه لباس واغوندي دا په دې کار کې دومره خلکو ته اړتیا پیدا کوي چې که په ځانته ځان وغواړي دا ټول کارونه سرته ورسوي شاید ډیر زیات وخت او جهد ترې وغواړي، او شاید و نه توانیږي، په همدې شکل هېوادونه هم د خپلو ضرورتونو په پوره کولو او سرته رسولو کې یو بل ته اړ دي، ډیر داسې کارونه او ضرورتونه دي چې یو هېواد که هر څومره قوي، بډای او توانمند هم وي په ځانته ځان هغه کارونه سرته نه شي رسولی، دا خو لا پرېږده چې یو ضعیف او ناتوانه هېواد یې په ځانته ځان سرته ورسوي، له دې امله نورو هېوادونو ته به اړتیا پیدا کوي، او دا اړتیاوې دا هېوادونه ګډ ژوند ته اړ کوي، او دا ګډ ژوند، او متبادلې ګټې د بهرنیو اړیکو غوښتنه کوي، چې له هغوی پرته دا ګډ ژوند پرمخ وړل ناممکن ګرځي.

**څلورم بنسټ: انساني کرامت یو بل بنسټ**

د قرآن کریم د بیان سره سم الله تعالی انسان ته عزت او کرامت وربخښلی دی، الله تعالی فرمایي: **وَلَقَدۡ كَرَّمۡنَا بَنِيٓ ءَادَمَ وَحَمَلۡنَٰهُمۡ فِي ٱلۡبَرِّ وَٱلۡبَحۡرِ وَرَزَقۡنَٰهُم مِّنَ ٱلطَّيِّبَٰتِ وَفَضَّلۡنَٰهُمۡ عَلَىٰ كَثِيرٖ مِّمَّنۡ خَلَقۡنَا تَفۡضِيلٗا** [الإسراء: 70].

موږ د آدم اولاد معزز کړي دي، او هغوی ته مو په وچه او بحر کې د سپرلۍ اسباب او وسائل برابر کړي دي، او هغوی ته مو پاکه روزي ورکړی، او په ډیرو مخلوقاتو مو ورته فضیلت ورکړی دی.

په روح المعاني کې وايي: «وَلَقَدْ كَرَّمْنا بَنِي آدَمَ أي جعلناهم قاطبة برهم وفاجرهم ذوي كرم أي شرف ومحاسن جمة لا يحيط بها نطاق الحصر»[11].

الوسي د قاضي ابو السعود د تفسیر ځخه په استفادې د دې ایت د مفهوم په اړه وايي چې موږ د آدم علیه السلام ټول اولادونه معزز ګرځولي دي هغوی که نیکان دي او که بدان، او دا عزت او شرف او محاسن دومره دي چې د حصر په دائره کې نه راځي.

د تکریم تر ټولو لوی مظهر عقل او معرفت دی، هغه عقل او معرفت چې له امله یې الله تعالی پرېښتو ته امر وکړ چې حضرت آدم علیه السلام ته سجده وکړي، او همدا معرفت او عقل دي چې په نړۍ کې د تمدن د پرمختګ لامل ګرځي چې هغه پخپله د اسلام د مقاصدو ځخه یو مقصد دی، نو دا الهي تکریم د دې غوښتنه کوي چې انسان هم د بل انسان تکریم وکړي، او په هغه ډول عزت ورکړي چې اسلامي شریعت ورکړی، او دا تکریم هغه وخت سرته رسېدلی شي چې انسان د بل انسان سره مثبتې اړیکې ولري، او لکه مخکې مو چې ورته اشاره درلوده د انفرادي اړیکو ډیر اصول د هېوادونو په اړیکو باندې د انطباق وړ دي، نو بناء انسان لپاره «الهي تکریم» د بین المللي اړیکو یو بنسټ دی، او دا اړیکې د دې الهي ارادې (انسان ته من حیث انسان تکریم ورکول) د عملي کولو او پلی کولو یوه مهمه وسیله ده.

10 - الكشاف عن حقائق التنزيل، وعيون الأقاويل في وجوه التأويل (4/ 248) مخکینی مصدر.
11 - روح المعاني في تفسير القرآن العظيم والسبع المثاني ج8 ص 112، تأليف: شهاب الدين محمود بن عبد الله الحسيني الألوسي (المتوفى: 1270هـ)، تحقيق: علي عبد الباري عطية، خپرونکي اداره: دار الكتب العلمية – بيروت، لومړی چاپ: ۱۴۱۵هـ..

**پنځم بنسټ: د خير په کارونو کې همکاري**

الله تعالی مسلمانانو ته يو داسې جامع حکم ورکړی دی چې د هر چا سره هغه که مسلمان وي او که کافر نه يوازې دا چې د اړيکو جوړولو بنسټ ګرځي بلکې د اړيکو جوړولو نه پورته د عملي همکارۍ غوښتنه هم کوي، هغه د الله تعالی دا وينا ده، چې فرمايي: **وَتَعَاوَنُواْ عَلَى ٱلبِرِّ وَٱلتَّقوَىٰ وَلَا تَعَاوَنُواْ عَلَى ٱلإِثمِ وَ ٱلعُدوَٰنِ وَ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ إِنَّ ٱللَّهَ شَدِيدُ ٱلعِقَابِ** [المائدة: 2].

د نيکۍ او تقوی په کارونو کې يو د بل سره همکاري او مرسته وکړئ، او د ګناه او ظلم په کارونو کې مرسته مه کوئ، او د الله تعالی څخه وويرېږئ، بې شکه الله تعالی سخت عذاب ورکونکی دی.

په دې ايت کې د «بر» لفظ د مفسرينو د تصريح سره سم په هر هغه څه دلالت کوي چې په شريعت کې يې امر شوی وي، او د «تقوی» لفظ هغه ټول څه په ځان کې رانغاړي چې شريعت ترې منع کړې ده، نو دا دواړه لفظونه دومره عموميت لري چې ټول ښه کارونه (امر و نهي) يې احاطه کړي دي.

او بله دا چې دا ټولو انسانانو ته امر دی، امام قرطبي وايي: «وَهُوَ أَمْرٌ لِجَمِيعِ الْخَلْقِ بِالتَّعَاوُنِ عَلَى الْبِرِّ وَالتَّقْوَى، أَيْ لِيُعِنْ بَعْضُكُمْ بَعْضًا»[12]. دا ټولو انسانانو ته امر دی چې د نيکۍ او تقوی په کارونو کې يو د بل سره مرسته وکړي. هدف يې دا دی چې دا يوازې د مسلمانانو سره د تعاون او همکارۍ غوښتنه نه کوي بلکې د ټولو انسانانو هغه که مسلمانان وي او که غير مسلمانان دا ايت ورسره د نيکيو او تقوی په کارونو کې د همکارۍ او مرستې غوښتنه کوي.

د اسلامي هېواد لپاره همدا الهي امر د نړيوالو اړيکو لپاره يو بنسټ مهيا کوي، ځکه د دې اړيکو له لارې د نيکيو او تقوی په ډېرو قضاياو کې مسلمان هېوادونه همکاري کولی شي، د بيلګې په توګه:

- د لوړو انساني اخلاقياتو او ارزښتونو ترويج لکه عدل او انصاف، ازادي، د قانون پر واړندې د ټولو يو شانته والی، رېښتيا، عفت او داسې نور داسې انساني او تمدني اخلاقيات دي چې هره ټولنه يې تأييدوي، له دې امله اسلامي هېوادونه دا لوړ اخلاقي ارزښتونه د بهرنيو اړيکو د تقويې له لارې ترويجولی شي، او دا به د تعاون على البر والتقوی يو ښه مصداق وي.
- همدا راز د مظلومانو ترڅنګ درېدل، د مليتونو د جايزو او عادلانه حقوقو څخه دفاع کول، په نړۍ کې د ظلم، بربريت، تعصب او نژاد پرستۍ په مخ کې درېدل، او د مظلومانو سره مرسته کول، د هغوی د عادلانه قضاياو څخه دفاع کول، ټول د تعاون على البر والتقوی په ضمن کې راځي، رسول الله صلى الله عليه وسلم د جاهليت په زمانه کې د مظلومانو د حمايت لپاره په يو تړون چې «حلف الفضول» نومېده ګډون کړی وه، د هغه په اړه فرمايي: «لَقَدْ شَهِدْتُ فِي دَارِ عَبْدِ اللهِ بْنِ جُدْعَانَ حِلْفًا مَا أُحِبُّ أَنَّ لِيَ بِهِ حُمْرَ النَّعَمِ، وَلَوْ أُدْعَى بِهِ فِي الْإِسْلَامِ لَأَجَبْتُ»[13]. د عبد الله بن جدعان په کور کې د يو تړون شاهد وم، نه خوښوم چې له هغه محروم شوی وی، او ډېر سره اوښان مې لاس ته راوړی وی، که په اسلام کې هم داسې کوم تړون ته (چې د مظلومانو د حمايت لپاره وه) دعوت شم نو حتما به دا دعوت قبول کړم. او د مظلومانو د قضاياو څخه دفاع او د ظلم په مقابل کې درېدل د نړيوالو اړيکو له لارې تأمينيدلی شي، او دا کارونه شرعا مطلوب دي نو د مطلوب او واجب کار وسيله به هم همداسې وي.

12 - الجامع لأحكام القرآن» (6/ 46، تأليف: أبو عبد الله محمد بن أحمد بن أبي بكر بن فرح الأنصاري الخزرجي شمس الدين القرطبي (المتوفى: 671هـ)، تحقيق: أحمد البردوني وإبراهيم أطفيش، خپرونکی اداره: دار الكتب المصرية – القاهرة، دويم چاپ 1384هـ - 1964 م.

13 - «السنن الكبرى (6/ 596) تأليف: أحمد بن الحسين بن علي بن موسى الخُسْرَوْجِردي الخراساني، أبو بكر البيهقي (المتوفى: 458هـ) تحقيق: محمد عبد القادر عطا، خپرونکی اداره: دار الكتب العلمية، بيروت – لبنان، دريم چاپ: 1424 هـ - 2003 م.

### شپږم بنسټ: د هېوادونو ترمنځ ګډ اهداف تر لاسه کول

نړیوالې اړیکې له دې امله هم اړینې دي چې ډېر داسې مصالح او مقاصد دي چې له دې اړیکو پرته یې لاس ته راوړل ممکن نه دي، او په دې مصالحو کې ځینې داسې دي چې د هېوادونو بقاء او دوام ورپورې تړلی دی، او په شریعت کې خو دا قاعده ده چې: «ما لا يتم الواجب إلا به فهو واجب»[14]. د نړۍ حالاتو ته په کتو هغه وختونه تللي دي چې یو هېواد دا تصور وکړي چې موږ د چا سره سروکار نه لرو، نه چا سره اړیکو ساتو او نه ورته اړتیا لرو، نه دې موږ سره څوک اړیکې ساتي او نه دې راسره کار لري، په خپل هېواد کې دننه دې موږ په آرام پرېږدي، دا تصور ځکه درست نه دی ځکه چې که څوک وغواړي که ونه غواړي نور هېوادونه ترې اغیزمن کېږي او دا هېواد د نورو څخه اغیزمن کېږي، د هغه امورو له جملې څخه چې د بین المللي اړیکو څخه پرته نه شي ترلاسه کېدلی او هغه د هېوادونو د بقاء لپاره اړین دي، دې لاندې امورو ته اشاره کول اړینه بولم:

#### أ- د هېواد د ځمکنۍ پشپړتیا او ازادۍ ساتنه

هر هېواد په طبیعي توګه دې ته اړتیا لري چې د هېواد د ځمکنۍ بشپړتیا ساتنه وکړي، خپل جغرافیایي حدود محفوظ وساتي چې څوک پرې تیری ونه کړي، او د نورو هېوادونو د عسکري او سیاسي لاس وهنو څخه یې محفوظ وساتي، ځمکه او هوا یې په خپل لاس کې وي، دومره توانایي ولري چې خپل ملي امنیت وساتي، وګړي یې د نورو هېوادونو د تیري څخه په ویره کې نه وي، او دا یو لوی نعمت دی چې په ښبلا ښبلو آیتونو کې یې الله تعالی یادونه کړې ده، لکه په سورت قریش کې چې فرمايي: **فَلۡيَعۡبُدُواْ رَبَّ هَٰذَا ٱلۡبَيۡتِ ٱلَّذِيٓ أَطۡعَمَهُم مِّن جُوعٖ وَءَامَنَهُم مِّنۡ خَوۡفِۭ** [قریش: ۳-۴]. او دا خو یو ښرګند حقیقت دی چې دا امن، او د خپل هېواد ساتنه یوازې د اقتصادي او عسکري ځواکمنتیا په نتیجه کې نه تر لاسه کیږي، بلکې هر هېواد دې ته اړتیا لري چې د بهرنیو اړیکو او د نورو هېوادونو سره د معاهداتو په نتیجه کې خپل ځان د دې ډول تیریو څخه وساتي، له دې امله بهرنۍ اړیکې د هر هېواد بنسټیزه اړتیا ده.

#### ب- د ګډو ګټو ساتنه او راکړه ورکړه او تجارت

په دې کې شک نشته چې هر هېواد د دې هڅه کوي چې په ټولو مواردو کې خود کفاء وي، هیڅ کوم بل هېواد ته اړتیا و نه لري، مګر دا کار نا ممکن دی، هیڅ یو هېواد هم خپلې اړتیاوې په ځانته ځان نه شي پوره کولی، د خوراکي توکو څخه نیولی په صنعتونو کې د استعمالیدونکو موادو پورې، د خفیفو ماشینونو څخه نیولي تر ثقیلو ماشینونو پورې یو د بل څخه واردوي او خپلې اړتیاوې پرې پوره کوي، همدا راز مهارتونه، علوم، او متخصصین یو د بل څخه اخلي، یو شمېر هېوادونه خام مواد لري خو د صنعت لپاره کارخانې، امکانات او متخصص افراد نه لري، بل هېواد بشري ځواک لري، کارخانې او ماشینونه لري خو خام مواد نه لري، دا ټول هېوادونه دې ته اړ کوي چې یو د بل سره راکړه ورکړه ولري.

او دا راکړه ورکړه یوازې هغه وخت ممکنه ده چې هېوادونه په خپلو کې سره اړیکې ولري، د یوکراین او روسیې د جنګ له امله د روسیې سره د اروپایانو اړیکې خرابې شوې، په ډېره لږه موده کې د خوراکي توکو د شدید بحران سره مخ شول ځکه چې د خوراکي توکو لپاره یې ټول اعتماد په یوکراین او روسیه باندې وه، همدا راز د المان حکومت او خلک په ډېر صراحت سره وایي چې د روسیې د وارداتي ګاز په نه شتون کې به ورته ژمی تیرول نا ممکن وي، د دې راکړې ورکړې او ګټو د تبادلې

---

14 - الأشباه والنظائر (2/ 88) تأليف: الإمام العلامة / تاج الدين عبد الوهاب بن علي ابن عبد الكافي السبكي، خپرونکی اداره: دار الكتب العلمية، لومړی چاپ: 1411 هـ - 1991م، همدا راز وګورئ معلمة زايد للقواعد الفقهية، مخکې یاد شوی مصدر.

لپاره سیستمونه هغه وخت فعالیدلی شي چې د هېوادونو ترمنځ اړیکې وجود ولري، اوس خو لکه چې ویل کیږي د نړۍ هر هېواد نورو هېوادونو ته دومره اړتیا لري چې هیڅ یو هېواد خپل واقعي وجود هغه وخت ساتلی شي چې د نورو هېوادونو سره مثبتې اړیکي ولري.

**ج- د هېوادونو ترمنځ سوله ایز ژوند**

په دې کې شک نه شته چې د هېوادونو ترمنځ د شخړو او جنګونو ډېر لاملونه وجود لري، او دا هر وخت د دې هېوادونو ترمنځ د یو تمام عیار جنګ لامل کېدلی شي چې په نتیجه کې یې خلک له منځه تللی شي، هېوادونه ورانېدلی شي، او بې شمېره بدمرغۍ رامنځته کېدلی شي، د دې بد حالت د مخنیوي یوازینۍ لار د هېوادونو ترمنځ اړیکي دي، دا اړیکې دومره مهمې وي چې د جنګ د شدت سره سره ادامه باید ولري، د دې څرګند مثال د اسلامي امارت او امریکایانو ترمنځ اړیکې وی چې د جنګ د شدت سره سره متوقفې نه شوی، همدا راز که له یوې لورې د روسیې او یوکراین ترمنځ شدید جنګ روان دی، خو له بل پلوه د یوکرایني غلو بیرون ته لیږد په اړه د دوي ترمنځ اړیکې او تماسونه جریان لري، نو د هېوادونو ترمنځ د تناو او جنګ څخه د ځان ساتلو تر ټولو غوره وسیله د هېوادونو ترمنځ بهرنۍ اړیکې دي.

**د- نړیوال امنیت**

نړیوال امنیت د هېوادونو ترمنځ د شخړو او جنګونو په نتیجه کې له منځه تللی شي، او د هېوادونو ترمنځ شخړې او جنګونه هغه وخت رامنځته کېدلی شي چې د هېوادونو ترمنځ غلط فهمۍ راولاړې شي او اړیکې شتون و نه لري، له همدې امله نړۍ د دوو خطرناکو نړیوالو جنګونو نه وروسته دې ته اړ شوه چې د ملګرو ملتونو ترنامه لاندې داسې اداري رامنځ ته کړي چې نړیوال امنیت ته د ورپېښېدونکو تهدیدونو مخه ونیسي، او دا ټول د نړیوالو اړیکو په نتیجه کې ممکن دي، اوس هم که کوم هېوادونه دې اړیکو ته په مثبته سترګه ونه ګوري هغه نړیوال امنیت د خطر سره مخ کولی شي، او که دا ځل داسې کومه پیښه وشوه نو د اتومي وسلو په شتون کې به د بشریت د بچ کېدو چانس وجود و نه لري، نو دا اړیکې ډېرې مهمې او اړینې دي.

**هـ - د یو هېواد د وګړو اړتیاوې او نړیوالې اړیکې**

له کوم وخت څخه چې په نړۍ کې معلوماتي انقلاب رامنځته شوی، سفرونه او د سفرونو وسائل اسان شوي دي، له هغه وخت څخه نړۍ د یوې وړې قریبې حیثیت غوره کړی دی، د خلکو ترمنځ اړیکې همدومره ساده شوي لکه په یوې قریبې کې د خلکو ترمنځ اړیکې، بلکې له دې هم ډېرې ساده، کله انسان د هغه پیښې څخه چې په څنګ کې یې شوی وي د داسې چا په ذریعه خبرېږي چې په بله قاره کې ژوند کوي، د همدې اړیکو په نتیجه کې د خلکو ترمنځ د مصالحو او ګټو تبادله هم په همدې کچه زیاته شوی ده، او دا ټول د سفرونو، تګ راتګ، غوښتنه کوي، د یو هېواد د اتباعو ګټې د بل هېواد د اتباعو د ګټو سره تړلی دي، په دې کې د سفر، تجارت، تعلیم، صحت او بې شمېره نورې ګټې شاملې دي، او د یو هېواد د اتباعو دا ګټې هغه وخت په درست شکل خوندي کېدلی شي چې متبوع هېواد یې د نورو هېوادونو سره اړیکي ولري، سفري وثائق یې د اعتماد وړ وي، هر څومره چې دا هېواد د نړۍ د نورو هېوادونو له نظره محترم هېواد وي د هغه اتباعو ته په هماغه اندازه د احترام په سترګه لیدل کیږي، او ګټې په هماغه اندازه خوندي وي او اړتیاوې یې پوره کیږي، او دا ټول هغه تر لاسه کېدلی شي چې د مثبتو اړیکو له لارې هېوادونه دا احترام تر لاسه کړي.

**اوم بنسټ: د اسلام خپرول او د اسلام لور ته بلنه**

اسلامي امت د قرآن کريم په اصطلاح د دعوت امت دی، او هر اسلامي هېواد د دې امت د ممثل په حيث همدا مسؤوليت په غاړه لري، لکه چې الله تعالی فرمايي: **وَكَذَٰلِكَ جَعَلۡنَٰكُمۡ أُمَّةٗ وَسَطٗا لِّتَكُونُواْ شُهَدَآءَ عَلَى ٱلنَّاسِ** [البقرة: 143]. لکه څرنګه مو چې ستاسې قبله غوره قبله ګرځولی، همداسې مو تاسې امت وسط (چې دين او منهج يې د اعتدال دين دی) ګرځولی، تر څو د دعوت په نتيجه کې په خلکو شاهدان وه اوسيږئ.

او لکه الله تعالی چې فرمايي: **كُنتُمۡ خَيۡرَ أُمَّةٍ أُخۡرِجَتۡ لِلنَّاسِ تَأۡمُرُونَ بِٱلۡمَعۡرُوفِ وَتَنۡهَوۡنَ عَنِ ٱلۡمُنكَرِ وَتُؤۡمِنُونَ بِٱللَّهِ** [آل عمران: 110]. تاسې تر ټولو غوره امت ياست چې د خلکو لپاره راويستل شوي ياست، چې خلکو ته د نيکيو حکم وکړئ، او د بديو څخه يې منع کړئ، او په الله تعالی باندې ايمان ولرئ.

په نړيوالو اړيکو کې د دين دعوت خلکو ته د رسولو يو بهترينه نمونه په هغه اړيکو کې څرګنده ده چې حضرت سليمان عليه السلام د ملکه سبا سره جوړې کړی وی، د قرآن کريم د وينا سره اولين سفارت چې حضرت سليمان ورته وليږه په هغه کې د حضرت سليمان عليه السلام دربار ته د مسلمانانو په حيث د راتګ خبره بنستيزه وه، د ملکه سبا په دربار کې د حضرت سليمان عليه السلام د سفارت د ځواب په اړه مشوره او بيا د هداياو تبادله، او په پايله کې يې د ټول امت اسلام منل او د الله د پيغمبر په اطاعت کې راتلل هغه نتايج ؤ چې د دې اړيکو په نتيجه کې ترلاسه شول، الله تعالی فرمايي: **{قَالَتْ رَبِّ إِنِّي ظَلَمْتُ نَفْسِي وَأَسْلَمْتُ مَعَ سُلَيْمَانَ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ}** [النمل: 44]. ملکه سبا چې کله د حضرت سليمان عليه السلام په دربار کې کوم عظمت وليده نو د خپل اسلام اعلان يې وکړ.

د رسول الله صلی الله عليه وسلم د نړيوالو اړيکو او نړيوالو سفارتونو تر ټولو لوی مقصد د دين دعوت رسول ؤ، د يو مسلمان هېواد څخه د مسلمانانو توقع دا وي چې په نړيواله کچه د اسلام په اړه د ناوړه تبليغاتو (اسلاموفوبيا)، د اسلام په اړه د غلط فهميو د ليری کولو لپاره هلې ځلې وکړي، او په دې توګه د دعوت الی الله فريضه اداء کړي، همدا راز د اسلام د درست فهم د ترويج لپاره نړيوال کانفرانسونه، سيمينارونه او پروګرامونه ترتيب کړي، په نړيوالو فورمونو کې د اسلام درست تصور نړيوالو ته په داسې توګه وړاندې کړي چې عاقل خلک يې واوري او فکر کولو ته په کې اړ شي، او دا ټول کارونه هغه وخت کېدلی شي چې اسلامي هېواد مثبتې بهرنۍ اړيکې ولري، د نړيوالو فورمونو غړيتوب ولري.

**اتم بنسټ: د اسلامي امت پر ضد د دسائسو شنډول**

کله چې يو هېواد مثبتې بهرنۍ اړيکې ولري، او نور هېوادونه ورته د احترام په سترګه وګوري، هغه په نړيوالو ټولو فورمونو کې د ګډون حق لري، په ډېرو مجالسو کې مثبت رول لوبولی شي، مسلمانان همېشه د اسلام مخالفو قوتونو څخه شکوې او شکايتونه لري، او دا ځکه چې د همدې اړيکو له امله ټولو مؤثرو فورمونو کې موجوديت لري، او له همدې فورمونو څخه د اسلام، اسلامي امت او مسلمانانو پر ضد دسائس په لاره اچوي، که چېرې په دې فورمونو کې د اسلامي امارت وجود ولري دا ډول ټول دسائس شنډولی شي، نه يوازې دا چې دا دسائس شنډولی شي بلکه په ايجابي توګه داسې طرحې او پروګرامونه وړاندې کولی شي چې د اسلام، اسلامي امت او مسلمانانو ګټې خوندي کړي، خو په دې فورمونو کې حضور هغه وخت ممکن دی چې اسلامي امارت او نور مسلمان هېوادونه د نړۍ سره مثبتې اړيکې ولري.

**نهم بنسټ: د مسلمانو اقليتونو او اسلامي قضاياو حمايت**

مسلمانان د قرآن کريم په صريح نص سره يو د بل دوستان او حمايت کونکي دي، په دې اړه الله تعالی فرمايي: **وَٱلَّذِينَ كَفَرُواْ بَعۡضُهُمۡ أَوۡلِيَآءُ بَعۡضٍۚ إِلَّا تَفۡعَلُوهُ تَكُن فِتۡنَةٞ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَفَسَادٞ كَبِيرٞ [الأنفال: 73].**

هغه خلک چې کفر يې کړی دی يو د بل حمايت کونکي او دوستان دي، که تاسې دا کار (يو دبل حمايت او يو بل سره دوستي) و نه کړئ نو په ځمکه کې به فتنه او لوی فساد خپور شي.

همدا راز په بل آيت کريمه کې الله تعالی فرمايي: {**وَٱلۡمُؤۡمِنُونَ وَٱلۡمُؤۡمِنَٰتُ بَعۡضُهُمۡ أَوۡلِيَآءُ بَعۡضٖۚ يَأۡمُرُونَ بِٱلۡمَعۡرُوفِ وَيَنۡهَوۡنَ عَنِ ٱلۡمُنكَرِ} [التوبة: 71].**

مؤمنان سړي او مؤمنانې ښځې يو د بل حمايت کونکي او دوستان دي، چې د نيکيو حکم کوي او د بديو څخه منع کوي.

دا حمايت او دوستي په انفرادي توګه هم په مسلمانانو لازم ده، او د امارت او حکومت په توګه هم ضروري او اړينه ده، او مسلمانان په نړۍ کې په ډېرو هېوادونو کې د اقليتونو او لږه کيو په څېر ژوند کوي، او ډېر وختونه د ډېرو شديدو ستونزو سره مخ کيږي، لکه څه موده وړاندې چې په برما کې د روهنګيا مسلمانان د بودايانو په لاس بې پته او قتل عام شول، همدا راز موږ په نړۍ کې داسې ستونزې لرو چې د مسلمانانو سره تړاو لري او د لسګونو کلونو راهېسې نه حل کيږي بلکه په خلکو يې ظلمونه کيږي، د دې ټولو مؤثر حمايت او دوی سره همکاري، او د دوی په حمايت کې اواز پورته کول هغه وخت ممکن دي چې اسلامي امارت د نړۍ سره مؤثرې اړيکې ولري.

دا ټول هغه دلائل دي چې د اسلامي امارت څخه د دې غوښتنه کوي چې دې قضيې ته اولويت ورکړي، ځکه د دې پورې داسې ګټې تړلی دي چې هغه د يو هېواد لپاره حياتي حيثيت لري، او هيڅکله ممکن نه دي چې يو نظام يې له نظره وغورځوي، او د فقه الأولوياتو قواعدو ته په کتلو سره هغه موانع او خنډونه بايد وڅيړل شي چې د دې اړيکو د جوړولو په مخ کې خنډ واقع دي په هغه بيا کتنه وشي که ګټې يې د دې اړيکو څخه کمې وي او موږ پرې لوی ګټې له لاسه ورکوو نو د فقهاو د تصريح او د ډېرو فقهي قاعدو سره سم هغه پرېښودل پکار دي او د کوم کار چې فائده يې زياته وي هغه مخ ته وړل پکار دي، په دې اړه خو فقهي قاعدې ډېرې دي خو امام سرخسي وايي: «وَمَا يَكُونُ أَكْثَرَ نَفْعًا فَهُوَ أَفْضَلُ»[15].

**اړيکې د چا سره؟**

اسلامي امارت د چا سره اړيکې جوړې کړي؟ دا يو داسې سوال دی چې د دې د ځواب د تر لاسه کولو لپاره بايد موږ لومړی دوه قضيې حل کړو، لومړی قضيه د پخوانيو او معاصرو علماو د تصريحاتو سره سم وګورو چې نړۍ د اړيکو له پلوه په څو ډوله ويشي؟ او دويم دا چې که نړۍ دوه تقسيمه شي چې يو دار الاسلام او دويم دار الحرب شي، نو آيا دار الاسلام په متعددو هېوادونو تقسيمېدلی شي؟ يا په بل عبارت اسلام د دې اجازه ورکوي چې اسلامي هېوادونه دې متعدد وي، تر څو يو مسلمان هېواد د بل مسلمان هېواد سره اړيکې جوړې کړي؟

**د نړۍ تقسيم؛ دار الاسلام او دار الحرب**

په پيل کې يو حقيقت ته اشاره کول غواړم چې دفقهاو له لورې دار الحرب او دار الاسلام ته د نړۍ د تقسيم بنسټيز هدف

15 - المبسوط (4/ 194) تأليف: محمد بن أحمد بن أبي سهل شمس الأئمة السرخسي (المتوفى: 483هـ)، خپرونکی اداره: دار المعرفة – بيروت، د طبعې شمېر: نا څرګند، د چاپ کال: 1414هـ - 1993م.

او موخه نړيوالې اړيکې نه وی، بلکه په شريعت کې ډير داسې احکام شته چې په اختلاف دار باندې مرتب دي، لکه د ارث احکام، د حدودو او شرعي عقوبات تطبيق په دار الحرب کې او داسې نور[16]، فقهاو چې کله دا تقسيم کړی دی تر ډيره يې همدا شرعي احکام په نظر کې ؤ، د اسلامي حکومت بهرنۍ اړيکې يې ضمني په نظر کې وی، مګر اوس دا بحثونه د دې اړيکو لپاره بنسټيز حيثيت لري، له دې امله بايد دا وڅيړل شي، نو په دې اړه چې کوم بنسټيز سوال راولاړيږي هغه دا دې چې ايا نړۍ او د نړۍ هېوادونه په دوه يا درې ډول ويشل درست دي؟ په دې اړه بېلا بېل نظريات وجود لري چې دلته يې په لنډ ډول مناقشه کول غواړم.

**لومړی نظر: په ديني لحاظ د نړۍ تقسيم درست نه دی**

يو شمېر غير مسلم ليکوالان په دې نظر دي چې د نړۍ تقسيم «دار الاسلا» او «دار الحرب» و لو که د دار الکفر په معنی هم وي، درست کار نه دی، ځکه دا د مسلمانانو له لورې په استعلائي تصور باندې ولاړ تقسيم دی، چې په نتيجه کې يې هغه هېوادونه چې «دار الحرب» يا «دار الکفر» ګڼل کيږي د هغوی د کم ګڼلو تصور په کې نغښتی دی، او دا د ملګرو ملتونو د هغه اصل سره په ټکر کې دی چې د ملګرو ملتونو غړي هېوادونه په قانوني لحاظ سره مساوي دي، همدا راز د عقيدې په لحاظ د خلکو په تقسيم ولاړ تصور دی، چې يو شمېر مسلمانان او نور کافران ګڼل کيږي چې هغه د عقيدوي تبعيض بنسټ ګرځي[17].

دا خو يوه داسې ادعاء ده چې په کې د عيني واقعيتونو څخه سترګې پټې شوی دي، د بشريت د تنوع بنياد همدا نظريات، تصورات او معتقدات دي، هغه که د بشر له لورې جوړ شوي نظريات وي او که د الله تعالی له لورې راليږل شوي اديان وي، او که د الله تعالی اخيرنی پيغام اسلام وي، ايا تر اوسه پورې د شرق او غرب بلاکونو په نوم په نړۍ کې تنوع وجود نه درلود، ايا تر اوسه د تمدنونو په نوم چې په مدار کې يې دين قرار لري نړۍ نه تقسيميږي، ايا دې ته چا تبعيض ووايه، همدا نن هم ويل کېږي، مسيحي غربي تمدن، اسلامي تمدن، بودائي تمدن، هندي تمدن، همدا راز چنايي کنفيوشسي تمدن او داسې نور، لنډه دا چې د بشريت په داخل کې د نظرياتو او معتقداتو تنوع موجود دی، او اسلام د دې ادعاء لري چې د بشريت د دنيوي او اخروي سعادت تر ټولو ښه نسخه د ځان سره لري، او غواړي د دې سعادت څخه ټول بشريت برخمن شي، نه چا ته د تحقير په سترګه ګوري او نه څوک د دې حق منلو ته اړ کوي، بلکې ځانته امت دعوت وايي، په استدلال او منطق دا حق خلکو ته وړاندې کوي، او له همدې امله د ټولو سره د مثبتو اړيکو غوښتنه کوي، او وايي چې د غير مسلمانانو سره اصل سوله ده مګر دا چې جنګ ته اړتيا پيښه شي، همدا د شرعي نصوصو په رڼا کې د معاصرو جمهورو فقهاو نظر هم دی.

**دويم نظر: دار الاسلام او دار الحرب ته د نړۍ تقسيم درست نه دی**

يو شمېر معاصر علماء وايي چې دار الاسلام او دار الحرب ته د نړۍ تقسيم درست نه دی، بلکې دا تقسيم بايد درې ګونی وي، په دې معنی چې يو بل قسم هم بايد په کې اضافه کړی شي چې هغه ته «دار العهد» ويل کېږي، ځکه اوس په عامه توګه «دار الحرب» وجود نه لري، بلکې په نړۍ کې اوس يا «دار الاسلام» وجود لري او يا «دار العهد» وجود لري، دار الحرب

16 - د تفصيل لپاره يې وګورئ د شيخ وهبة الزحيلي ليکنه چې په اصل کې د هغه د دکتوراه رساله ده او عنوان يې دی آثار الحرب في الفقه الإسلامي دراسة مقارنة، دار الفکر، دمشق د دريم چاپ کاپي کال ۱۹۹۸م.
17 - دې لپاره وګورئ: من اجل نظرية فی القانون الدولي، د ادمون رباط ليکنه، ترجمه ابراهيم عوض په (المجلة المصرية للقانون الدولي په کال ۱۹۵۰م) ص ۱-۲۳ کې چاپ شوی دی.

ځکه وجود نه لري چې دا په يو موقت حالت کې د يو هېواد نوم کېدلی شي، او دا هغه وخت کله چې د چا سره جنګ روان وي هغه منطقه دار الحرب ګڼل کيږي، که کله د جنګ حالت راپيدا هم شي ژر له منځه ځي، ځکه د اسلام اړيکه د نورو سره اصلا په سوله باندې ولاړه اړيکه ده نه په جنګ.

د فقهاو په اصطلاح کې «دار الاسلام» او «دار الحرب» ته د نړۍ تقسيم د نصوصو څخه مستفاد نه دی، بلکې دا د هغه وخت د ظروفو غوښتنه وه کله چې دا تقسيم رامنځته شوی دی، په دويمه هجري پيړۍ کې د اسلامي خلافت او کفري نړۍ ترمنځ په پرله پسې توګه حالات جنګي ؤ، او دا تقسيم په هغه وخت کې رامنځ ته شوی دی، او جنګ دائمي حالت نه دی، ځکه چې د کفارو سره د مسلمانانو عادي حالت سوله ده جنګ نه دی، نو کله چې د جنګ حالت ختم شو هغه مناطق هم چې غير مسلمانان په کې اوسيږي هغه هم دار الحرب نه پاتې کيږي، همدا تقريبا د معاصرو علماو څخه د شيخ ابو زهرة او دکتور وهبة الزحيلي نظر دی.

شيخ ابو زهرة وايي: "وتكاد كلمات الفقهاء أجمعين تجمع على أن دار المخالفين تسمى دار حرب، لأنها فعلا كانت في عصر الاجتهاد الفقهي دار حرب بسبب تلك الاعتداءات المتكررة من الأعداء والمدافعة المستمرة من المسلمين"[18].

تقريبا د فقهاو په دې اتفاق دی چې د مخالفينو وطنونو او هېوادونو ته «دار حرب» ويل کيږي، او دا ځکه چې د فقهي اجتهاد په زمانه کې (کله چې د السير په اړه احکام فقهاو استنباطول او تدوينول) حالت همداسې وه، د مخالفينو مناطق د دښمن له لورې د بيا بيا تيريو او د مسلمانانو له لورې د پرله پسې دفاع له امله «دار حرب» ګڼل کېدلې.

هدف يې دا دی چې دا اوصاف د شرعي نصوصو څخه مستفاد نه دي، بلکه د اسلامي خلافت او د غير مسلمانو هېوادونو ترمنځ قائم حالت د جنګ وه نو له همدې امله هغه منطقې دار حرب ګڼل کېدلی چې د اسلامي خلافت د ولکې څخه بيرون وی، او د همدې مستمر جنګي حالت څخه يو شمېر خلکو ته دا شبهه هم پيدا  شوه چې د اسلام او کفر ترمنځ اصلي حالت جنګ دی، او سوله د ضرورت حالت دی، خو شيخ ابو زهرة دا خبره ـ د نورو ډيرو فقهاو په څير ـ درسته نه ګڼي، او وايي چې د مسلمانانو او کفارو ترمنځ اصلي حالت سوله ده، او جنګ يو غير عادي او طارئ حالت دی چې د اړتيا په وخت کې رامنځته کيږي.

بيا وروسته کله چې د امام ابو حنيفه له نظره د دار حرب شرطونه بيانوي او وايي چې په اوسنۍ زمانه کې د دار حرب دا شرطونه په هيڅ هېواد نه منطبق کيږي، بيا لږ وروسته کله چې د يو دريم دار «دار عهد» ذکر کوي نو له هغه وروسته په يو عبارت کې وايي چې اوس اصلا دار حرب وجود نه لري، ټوله کفري نړۍ دار عهد بلل کيږي؛ ځکه ټول هېوادونه د ملګرو ملتونو د منشور او اصولو سره سم يو د بل سره تړونونه لري، د سوله ايز ژوند معاهدې لري، نو ټول هېوادونه دار عهد بلل کيږي

او شيخ وهبة الزحيلي تقريبا همدا خبره لږ په نور تفصيل سره کوي او وايي: "و إذ قد عرفنا أن هذ التقسيم مبني على أساس الواقع لا على أساس الشرع، ومن محض صنيع الفقهاء في القرن الثاني الهجري، و أنه من أجل ترتيب بعض الأحكام الشرعية في المعاملات ونحوها، و أن الحرب هي السبب في هذا التقسيم، فيمكننا أن نقول إن دار الحرب هي مجرد منطقة حرب ومسرح معركة بالنسبة لدار الإسلام التي فرضت عليها الأوضاع في الماضي أن تتكتل وأن تعتبر البلاد غير الإسلامية في

18 - العلاقات الدولية في الإسلام ص 55، د امام محمد ابو زهرة ليکنه، د چاپونکی او نشرونکی اداره: دار الفکر العربی، مدينة نصر ـ القاهرة، د چاپ کال ۱۴۱۵هـ / ۱۹۹۵م.

مركز العدو الذي برهنت الأحداث على نظرته العدائية للمسلمين فهو تفسيم طارئ بسبب قيام حالة الحرب أو الحرب نفسها، فهو ينتهي بانتهاء الأسباب التي دعت إليه والحقيقة أن الدنيا بحسب الأصل هي دار واحدة كما هو رأي الإمام الشافعي ولهذا قال مع جمهور الفقهاء: إن الحدود تجب على المسلم أينما وقع سببها.."[19].

کله چې مو دا درک کړ چې دا تقسیم (د هېوادونو تقسیم دار حرب او دار اسلام ته) د هغه وخت د فعلي حالت پر بنسټ شوی وه، نه د شرعي نصوصو پر بنسټ، دا په دویمې پیړۍ کې یوازې د فقهاو اجتهاد وه تر څو پرې د معاملاتو په اړه یو څه شرعي احکام مرتب کړي، او دا چې په هغه وخت کې د مسلمانانو او کفارو ترمنځ په پرله پسې توگه روان جنگ د دې تقسیم لامل وه، د دې حقیقت د درک کولو نه وروسته موږ ویلی شو چې «دار حرب» د «دار اسلام» په نسبت یوازې هغه سیمه گڼل کیږي چیرته چې بالفعل جنگ روان وه کله چې په ماضي کې پر «دار اسلام» باندې داسې حالات مسلط کړی شوي ؤ چې مسلمانان د هغه (حالاتو) په مقابل کې سره را یوځای شي، او غیر اسلامي هېوادونه د دښمن مرکز وگڼي، ځکه چې حوادثو د مسلمانانو په مقابل کې دوی په دې دښمنانه تصور دلالت کاوه، نو (لنډه دا چې) دا تقسیم یو موقت تقسیم دی ځکه چې په هغه زمانه کې (کله چې د فقهاو له لورې دا اجتهادی تقسیم رامنځته شو) یا خو جنگي حالت وه او یا بالفعل جنگ جریان درلود، نو دا موقت تقسیم باید د هغه اسبابو د له منځه تللو په نتیجه کې له منځه ولاړ شي چې د دې تقسیم لامل گرځیدلي ؤ، حقیقت دا دی چې دنیا په اصل کې یو «دار» دی ـ لکه څرنگه چې د امام شافعي نظر دی، له همدې امله جمهور فقهاء وایي: چې پر مسلمان باید حدود تطبیق شي په هر ځای کې یې چې سبب واقع شي (د احنافو د نظر برخلاف چې په دار حرب کې څه شرعي جزاگانې د تطبیق قابل نه گڼي).

لنډه دا چې د معاصرو علماو څخه یو شمېر علماء «دار الحرب» په دې معنی اخلي چې دار الحرب هغه هېواد ته ویل کیږي چې د کوم هېواد سره بالفعل جنگ روان وي، او یا هم بالقوة جنگي حالات وي، په دې معنی چې هیڅ کوم تړون وجود و نه لري، او هر وخت چې هر هېواد فرصت پیدا کړي پر بل حمله خپل حق وگڼي او د هیڅ څه پرواه هم و نه لري، کله چې د دار الحرب معنی د هغوی په نزد دا شوه نو طبیعي خبره ده چې د نړۍ د هېوادونو سره اوسنی حالت داسې نه دی، نو د دوی له نظره اوس دائمي دار الحرب وجود نه لري، کله کله د کوم کافر هېواد سره داسې حالات رامنځته کېدلی شي چې د جنگ غوښتونکي وي، کله که داسې حالت رامنځته شو هغه ته به دار الحرب ویل کیږي، مگر نورو هېوادونو ته اوس په دې معنی دار الحرب نه شي ویل کېدلی.

په هغه مفهوم چې دوی د دار الحرب څخه اخېستی دی، د دوی خبره درسته ده، مگر فقهاء دار الحرب په دې معنی نه اخلي، بلکې که مختصرا ووایو د فقهاو په اصطلاح کې «دار الحرب» او «دار الکفر» په یوه معنی دي، یعنې هغه هېواد چېرته چې غلبه او سیادت او قیادت د مسلمانانو په لاس کې وي هغه ته دار الاسلام، او چېرته چې غلبه او سیادت د کفر او کافر په لاس کې وي هغه ته «دار الحرب» او یا «دار الکفر» ویل کیږي، او په دې معنی خو دا ثنائي تقسیم درست دی، له دې څخه کوم بل تقسیم متصور نه دی، ځکه د نړۍ هر هېواد به یا د اسلام تر سیادت او غلبې لاندې وي او یا به د کفر د غلبې لاندې وي، بل کوم صورت نه شي کېدلی، که د کفر د غلبې لاندې وي، د هغه سره مسلمان هېواد تړون لري یا به یې نه لري، په هر صورت دا دواړه په هغه عام تعریف چې فقهاو د دار الحرب څخه وړاندې کړی دی په دار الحرب کې شامل دي، یوازې

19 - آثار الحرب فی الفقه الاسلامی دراسة مقارنة ص ۱۹۴-۱۹۵، طبع دار الفکر ۱۹۹۸م.

دومره خبره کېدلی شي چې د «دار الحرب» اصطلاح هغه مفهوم پوره نه شي رسولی چې فقهاء يې ترې اراده لري، نو که دا اصطلاح بدله کړی شي او دار الحرب پر ځای دار الکفر ورته وويل شي، شايد ډېر ابهامات له منځه ولاړ شي.

**درېيم نظر: د جمهورو فقهاو نظر**

د جمهورو فقهاو نظر دا دی چې نړۍ بايد په همدې دوه سيمو «دار الاسلام» او «دار الحرب» باندې تقسيم شي، او «دار العهد» يا د امام محمد بن الحسن شيباني او نورو فقهاو په تعبير «دار الموادعة» په اصل کې د «دار الحرب» يوه نوعه ده، د دوی د نظر خلاصه دا ده چې «دار الحرب» د «دار الکفر» سره مرادف دی، له همدې امله د فقهاو په عبارتونو کې د «دار الحرب» لپاره ډېر ځله د «دار الکفر» اصطلاح استعمالېږي، او دا خو څرګنده خبره ده چې د نړۍ هيڅ سيمه له دې څخه خالي نه ده چې هلته به يا د اسلام احکام غالب وي او يا به د کفر احکام غالب وي، که د اسلام احکام غالب وي هغه «دار الاسلام» بلل کيږي او که د کفر احکام غالب وي هغه سيمه «دار الحرب» بلل کيږي، دلته د «حرب» لفظ د جنګ په معنی نه دی، په دې اړه يو حنبلي فقيه وايي: «والحربي منسوب إلى الحرب وهو القتال والتباعد والبغضاء أيضا يقال قتل حال الحرب أي حال القتال ودار الحرب أي دار التباعد والبغضاء فالحربي بالإعتبار الثاني»[20].

حربي د دوه جذرونو څخه اخيستل شوی دی، د لومړي جذر معنی يې «جنګ» دی، لکه چې ويل کيږي قتل حال الحرب، د جنګ په حالت کې ووژل شو، او بل جذر چې د هغه څخه «دار الحرب» هم مأخوذ دی، د هغه معنی ده «هغه سيمه چې ورسره پريکون، او بد بيني وي» نو دلته د حربي معنی د محارب او جنګ کې د ښکېل انسان نه ده، بلکې حربي د دې دويم جذر څخه اخيستل شوی دی.

نو کله چې د دار الحرب معنی دار الکفر شو نو جمهور فقهاء چې نړۍ دې دوه سيمو ته تقسيموي، دوی وايي چې «دار الحرب» او «دار الاسلام» ته د نړۍ د تقسيم مدار پر دې باندې نه دی چې د کومې سيمې يا هېواد خلک د مسلمانانو سره په جنګ وي هغه به دار الحرب ګڼل کيږي، او که په جنګ نه وي نو هغه به دار الحرب نه ګڼل کيږي، چې دا حالت عارضي وبلل شي چې د هغه وخت د ظروفو څخه مستفاد وبلل شي چې کله د فقهې تدوين شوی دی يعنې د هجرت دويمه پېړۍ لکه امام ابو زهرة او شيخ وهبة الزحيلي چې وايي، بلکې دا فقهاء وايي چې د دې تقسيم مدار په دې لاندې امور دی چې دا د دائمي حالت ښکارندوی دي:

1 -هلته تسلط او حاکميت د مسلمانانو دی که د کفارو؟

2 -هلته غالب احکام د اسلام دي که د کفر او شرک؟

3 -هلته مسلمانان په امن کې دي که نه، په دې معنی چې د اسلام د شعائرو په عملي کولو کې خو د کفارو څخه د خوف او خطر احساس نه کوي؟

دا ټول د دې غوښتنه کوي چې د نړۍ هېوادونه په دوه برخو وويشل شي چې يو يې دار الحرب (چې د دار الکفر مرادف دی) او بل يې دار الاسلام بلل کيږي.

**اصلي دار الحرب يا دار الکفر څه وخت دار الاسلام ګرځي؟**

همدې معيارونو ته کتلو علماو د دار الاسلام تعريفونه کړي دي، چا يو معيار په نظر کې نېولی دی، او چا بل معيار، خو

20 - المطلع على أبواب المقنع ص 226، د ابو عبد الله شمس الدين محمد بن ابي الفتح البعلي الحنبلي (ت 709هـ) ليکنه، ناشر: المکتب الاسلامي، بيروت، ۱۹۸۱م، تحقيق: محمد بشير الادلبي.

دلته يوازې دې ته متوجه کېدل پکار دي چې دا تعريفونه دې ته په کتلو فرق کوي چې کومه سيمه د دار الحرب څخه څه وخت دار الاسلام ته منتقل کېږي؟ او کومه سيمه څه وخت د دار الاسلام څخه دار الحرب ته انتقال پيدا کوي؟ حنفي فقهاء خو په دې اتفاق لري چې دار الحرب هغه وخت د دار الاسلام برخه ګرځي کله چې په هغه سيمه باندې د اسلام احکام غالب شي، له همدې امله امام علاء الدين کاساني وايي: «لَا خِلَافَ بين أَصْحَابِنَا في أَنَّ دَارَ الْكُفْرِ[21] تَصِيرُ دَارَ إسْلَامٍ بِظُهُورِ أَحْكَامِ الْإِسْلَامِ فيها»[22].

زموږ د علماو ترمنځ په دې کې اختلاف نشته چې دار الکفر هغه وخت دار الاسلام ګرځي چې د اسلام احکام په کې غالب وي.

او هغه نور دوه شرطونه چې د مسلمانانو تسلط او مسلمانانو ته د امنيت تر لاسه کېدل دي، د اسلام د احکامو د غلبې په نتيجه کې بالتبع تر لاسه کيږي، ځکه که مسلمانان هلته حاکم نه وي، او يا مسلمانان په امن کې نه وي د اسلام د احکامو غلبه نه متحققه کيږي.

د علاء الدين کاساني له نظره خو په همدې نښه باندې يو هېواد د دار الاسلام برخه ګرځي، همدا نظر د څه نورو علماو هم دی، له دې جملې څخه دا لاندې د يادونې وړ دي:

د شيخ زکريا انصاري له نظره هم په کوم ځای کې چې مسلمان د خپل دين اظهار وکړی شي او د فتنې ويره ورسره نه وي هغه سيمه «دار الاسلام» ګڼل کيږي، هغه وايي: «فَإِنْ قَدَرَ على الِاعْتِزَالِ وَالِامْتِنَاعِ في دَارِ الْحَرْبِ مع كَوْنِهِ قَادِرًا على إظْهَارِ دِينِهِ ولم يَخَفْ فِتْنَةً فيه حَرُمَتْ أَيْ الْهِجْرَةُ منها لِأَنَّ مَوْضِعَهُ دَارُ إسْلَامٍ فَلَوْ هَاجَرَ لَصَارَ دَارَ حَرْبٍ»[23].

که مسلمان د دې توان درلوده چې په دار الحرب کې ځان وساتي او د خپل دين اظهار هم وکړي، او د فتنې ويره هم ورسره نه وي، نو له هغه سيمې څخه ورته هجرت حرام دی، ځکه چې هغه سيمه دار اسلام دی، او که داسې تول مسلمانان له هغه سيمې هجرت وکړي نو هغه به په دار الحرب بدل شي (اوله دې امله چې دا کار ناروا دی نو له همدې امله دا هجرت هم ناروا ګرځي).

تقريبا همدا خبره شهاب الدين رملي چې په شافعي صغير شهرت لري هم کوي، هغه وايي: «كل محل قدر أهله فيه على الامتناع من الحربيين صار دار إسلام»[24]. هر هغه سيمه چې اوسيدونکي يې د کفارو څخه د ځان د حفاظت توان لري، هغه دار اسلام ګرځي. د ځان د حفاظت معنی دا ده چې د اسلام د شعائرو په علمي کولو کې د ويرې او ترس احساس و نه کړي.

همدا خبره ابن مفلح هم کوي، هغه وايي: "فكل دار غلب عليها أحكام المسلمين فدار الإسلام، وإن غلب عليها أحكام الكفار فدار الكفر، ولا دار لغيرهما"[25].

په هره سيمه کې چې د مسلمانانو د احکامو غلبه وي هغه دار اسلام دی، او که د کفارو د احکامو غلبه وي هغه دار کفر دی، له دې پرته بله سيمه وجود نه لري (يا به دار اسلام وي او يا به دار کفر وي).

---

21 - دلته علاء الدين کاساني د دار الحرب څخه په دار الکفر تعبير کوي، همداسې نور فقهاء هم کوي، چې له دې ټولو څخه دا معلوميږي چې دار الحرب او دار الکفر د دوی له نظره يو مفهوم افاده کوي.

22 - بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع (7/ 130) دار الكتب العلمية، بيروت، لبنان، دويم چاپ ۱۹۸٦م.

23 - أسنى المطالب في شرح روض الطالب (4/ 204) د شافعي عالم شيخ الإسلام زكريا بن محمد بن زكريا زين الدين أبو يحيى السنيكي الأنصاري (ت ۹۲٦) ليکنه، د دار الکتاب الاسلامي چاپ.

24 - نهاية المحتاج (8/ 82) د شمس الدين محمد بن أبي العباس أحمد بن حمزة بن شهاب الدين الرملي الشهير بالشافعي الصغير (ت ۱۰۰۴هـ) چاپ دار الفكر للطباعة، د چاپ کال ۱۹۸۴م.

25 - الآداب الشرعية ج ۱ ص ۲۱۱- ۲۱۲ د عبد الله بن محمد بن مفلح مقدسي (ت ۷٦۳هـ) ليکنه، تحقيق: شعيب الآرناؤوط، مؤسسة الرسالة، بيروت، د چاپ کال ۱۹۹۹م دريم چاپ.

لنډه دا چې هغه هېوادونه چې اصلا دار الکفر یا دار الحرب دي هغه یوازې په دې نه دار الاسلام کېږي چې هلته څوک د خپلو عباداتو او معتقداتو په اظهار کې په امن کې وي، بلکې د دې لپاره شرط هغه دی چې امام کاساني او نورو فقهاو يې یادونه کړې ده او هغه د اسلام د احکامو غلبه ده، معنی یې دا ده چې په ټولنه اسلامي رنګ رغالب وي، نو په دې معنی که په کوم غربي یا اروپايي هېواد کې مسلمان خپل عبادت او دیني شعائر تر سره کوي او هیڅ کوم خوف او خطر هم ورته نه وي، په دې کار هغه سیمې دار الاسلام نه شي بلل کېدی، ځکه هلته هغه بنسټیز وصف او شرط نه دی متحقق.

**دار الاسلام څه وخت دار الحرب ګرځي؟**

خو هغه سیمې چې یو ځل «دار الاسلام» وګرځي هغه بیرته کله «دار الحرب» بلل کېدلی شي؟ په دې اړه دوه نظره موجود دي:

لومړی: د صاحبینو (امام ابو یوسف او امام محمد) نظر دی، دوی وایي چې دلته هم معیار د اسلام د احکامو اظهار او غلبه ده، په کوم ځای کې چې د اسلام احکام غالب وي هغه دار الاسلام ګڼل کیږي او په کوم ځای کې چې دا احکام غالب نه وي هغه بیرته دار الکفر ګڼل کیږي، کاساني وايي: «وقال أبو يُوسُفَ وَمُحَمَّدٌ رَحِمَهُمَا اللَّهُ إنَّهَا تَصِيرُ دَارَ الْكُفْرِ بِظُهُورِ أَحْكَامِ الْكُفْرِ فيها»[26]. امام ابو یوسف او امام محمد رحمهما الله وايي یوه سیمه (چې مخکې دار الاسلام وي) هغه وخت دار الکفر ګرځي چې د کفر احکام په کې څرګند او غالب وي. هدف یې دا دی چې په ټولنه غالب رنګ که د اسلام وه نو هغه دار الاسلام ګڼل کیږي او که غالب رنګ د کفر وه نو دار الکفر ګڼل کیږي.

د صاحبینو د قول د دلیل په توګه کاساني وايي: «وَجْهُ قَوْلِهِمَا أَنَّ قَوْلَنَا دَارُ الْإِسْلَامِ وَدَارُ الْكُفْرِ إضَافَةُ دَارٍ إلَى الْإِسْلَامِ وَإِلَى الْكُفْرِ وَإِنَّمَا تُضَافُ الدَّارُ إلَى الْإِسْلَامِ أو إلَى الْكُفْرِ لِظُهُورِ الْإِسْلَامِ أو الْكُفْرِ فيها كما تُسَمَّى الْجَنَّةُ دَارَ السَّلَامِ وَالنَّارُ دَارَ الْبَوَارِ لِوُجُودِ السَّلَامَةِ في الْجَنَّةِ وَالْبَوَارِ في النَّارِ وَظُهُورُ الْإِسْلَامِ وَالْكُفْرِ بِظُهُورِ أَحْكَامِهِمَا فإذا ظَهَرَ أَحْكَامُ الْكُفْرِ في دَارٍ فَقَدْ صَارَتْ دَارَ كُفْرٍ فَصَحَّتْ الْإِضَافَةُ وَلِهَذَا صَارَتْ الدَّارُ دَارَ الْإِسْلَامِ بِظُهُورِ أَحْكَامِ الْإِسْلَامِ فيها من غَيْرِ شَرِيطَةٍ أُخْرَى فَكَذَا تَصِيرُ دَارَ الْكُفْرِ بِظُهُورِ أَحْكَامِ الْكُفْرِ فيها وَاَللَّهُ أَعْلَمُ»[27].

د صاحبینو د قول دلیل دا دی چې کله موږ د «دار» نسبت اسلام یا کفر ته کوو، نو (حقیقي معنی خو یې مراد نه ده، مګر حقیقت ته نږدې) معنی یې دا ده چې هغه منطقه او سیمه چې اسلام یا کفر په کې غالب وي، لکه جنت ته چې «دار السلام» ویل کیږي، او جهنم ته «دار البوار» ویل کیږي ځکه چې په جنت کې سلامتي ده، او په جهنم کې هلاکت دی، او د اسلام او کفر غلبه په هغه منطقه کې د کفر یا اسلام د احکامو د غلبې په معنی ده، نو کله چې په یوه سیمه کې د کفر احکام غالب وي نو هغه دار کفر ګرځي، نو بیا یې هغه ته نسبت درست ګرځي، له همدې امله یوه سیمه هغه وخت دار اسلام ګرځي کله چې د اسلام احکام په کې غالب او څرګند وي، پرته د بل هیڅ کوم شرط څخه، همدا راز کله چې په یوه سیمه کې د کفر احکام څرګند او غالب وي نو هغه دار الکفر ګرځي. والله اعلم.

دویم: د امام ابو حنیفه له نظره هغه سیمه چې یو ځل د اسلام په حلقه کې شامله شي، تر څو چې د دار الاسلام یو څه نښه هم په کې وي هغه باید د اسلام د قلمرو څخه بیرون و نه شمېرل شي، او هغه باید د دار الاسلام برخه وګڼل شي، په دې اړه کاساني وايي: «وَاخْتَلَفُوا في دَارِ الْإِسْلَامِ أنها بِمَاذَا تَصِيرُ دَارَ الْكُفْرِ قال أبو حَنِيفَةَ إنَّهَا لَا تَصِيرُ دَارَ الْكُفْرِ إلَّا بِثَلَاثِ شَرَائِطَ

---

26 - بدائع الصنائع ج۷ ص۱۳۰ مخکینی مصدر.

27 - بدائع الصنائع فی ترتیب الشرائع ج۷ ص۱۳۱.

أَحَدُهَا ظُهُورُ أَحْكَامِ الْكُفْرِ فيها وَالثَّانِي أَنْ تَكُونَ مُتَاخِمَةً لِدَارِ الْكُفْرِ وَالثَّالِثُ أَنْ لَا يَبْقَى فيها مُسْلِمٌ وَلَا ذِمِّيٌّ آمِنًا بِالْأَمَانِ الْأَوَّلِ وهو أَمَانُ الْمُسْلِمِين»[28].

په دې اړه فقهاء اختلاف لري چې دار الاسلام په څه باندې په دار الکفر بدلیږي؟ امام ابو حنیفه وایي: دار الاسلام هغه وخت په دار الکفر بدلیږي چې دا لاندې درې شرطونه ټول په کې موجود شي، که له دې شرطونو څخه یو هم منتفي شو هغه سیمه په دار الحرب یا دار الکفر نه بدلیږي، بلکې په خپل حال دار الاسلام پاتې کیږي:

**لومړی شرط:** د کفر احکام په کې څرګند او غالب وي.

**دویم شرط:** چې هغه سیمه د دار الکفر سره نښتې وي.

**دریم شرط**: چې نه په کې یو مسلمان او نه یو ذمي په لومړي امان په امن کې پاتې شي، یعنې مسلمانان او ذمیان په کې له نوي سر نه د امان د ډاډ تر لاسه کولو ته اړ شي.

د امام ابو حنیفه رحمة الله علیه د مذهب د دلیل په اړه کاساني وايي: کله چې د «دار» نسبت اسلام یا کفر ته کیږي نو معنی یې عین اسلام یا کفر نه دی (حقیقي معنی یې مراد نه ده) بلکې معنی یې «امان» او «ویره» ده، په دې معنی چې که مسلمانان په کې په عامه توګه په امن کې ؤ، او کفار په کې په عامه توګه په ویره کې ؤ، نو هغه سیمه دار الاسلام بلل کیږي، او که په عامه توګه په کې کفار په امن کې ؤ، او مسلمانان په ویره کې ؤ نو هغه دار الکفر بلل کیږي، او د «دار» احکام په «امن» او «خوف» باندې ولاړ دي، نه په کفر او اسلام، نو په «دار الاسلام» او «دار الکفر» کې د «دار» په نسبت کې کفر او اسلام ته د «امان» او «خوف» اعتبار راجح دی (له دې څخه راجح دی چې د اسلام او یا د کفر د احکامو غلبه په دې نسبت کې معتبره وګڼل شي)، نو که د کفارو د غلبې وروسته مسلمانان له نوي سر نه «امان غوښتنې» ته اړ نه شول نو معنی دا ده چې هغه پخوانی عمومي امان پاتی دی، نو سیمه دار الکفر نه ګرځي، همدا راز هغه پخوانی د مسلمانانو د وخت «امان» یوازې هغه وخت له منځه ځي چې دا سیمه د دار الحرب سره نښتې وي، نو د یوې سیمې د دار الحرب کېدو لپاره دا درې شرطونه اړین دي.

د دې تعلیل په پای کې امام کاساني وایي چې د دار الاسلام وصف خو هغه سیمې ته په یقین سره ثابت دی، نو تر څو چې دا وصف ترې په یقیني توګه زایل شوی نه وي باید په شک یې ترې زایل نه کړو، او کوم تعلیل چې صاحبینو کړی دی، په هغه کې شک او احتمال پاتې کیږي چې دا وصف ترې زایل شوی که نه، او قاعده خو دا ده چې «الیقین لا یزول بالشک» او امام ابو حنیفه چې کوم علت مدار ګرځولی دی (امان) او (ویره) نو له هغه وروسته په یقیني توګه د دار الاسلام وصف ترې زایل کیږي، نو بناء د امام ابو حنیفه مذهب او تعلیل راجح دی.

نو لنډه دا چې هغه سیمه چې یو ځل د دار الاسلام برخه وګرځي هغه د امام ابو حنیفه رحمه الله په نزد د دار الاسلام له دائرې څخه ته هغه وخت نه خارجیږي تر څو د مسلمانانو څخه هغه لومړی امان چې د مسلمانانو له لوري ورکړ شوی وه له منځه ولاړ نه شي، په دې اړه امام سرخسي رحمه الله وایي: «لِأَنَّ الْمَوْضِعَ الَّذِي لَا يَأْمَنُ فِيهِ الْمُسْلِمُونَ مِنْ جُمْلَةِ دَارِ الْحَرْبِ، فَإِنَّ دَارَ الْإِسْلَامِ اسْمٌ لِلْمَوْضِعِ الَّذِي يَكُونُ تَحْتَ يَدِ الْمُسْلِمِينَ، وَعَلَامَةُ ذَلِكَ أَنْ يَأْمَنَ فِيهِ الْمُسْلِمُونَ»[29].

28 - بدائع الصنائع فی ترتیب الشرائع ج۷ ص ۱۳۰.
29 - شرح السیر الکبیر (ج 4 ص 86) د امام سرخسي لیکنه، ناشر: المکتبة العلمیة، بیروت لبنان، تاریخ النشر 1997م، لومړی چاپ.

ځکه هغه سیمه چې مسلمانان په کې د امن احساس نه کوي هغه د دارالحرب برخه ده، ځکه دار الاسلام د هغه ځای نوم دی چې د مسلمانانو د لاس لاندې وي، او نبنه یې دا ده چې هلته مسلمانان د امنیت احساس وکړي.

همدا مفهوم معاصرو علماو هم بیان کړی دی، د دوی له جملې څخه شهید عبد القادر عوده وایي: «دار الإسلام: تشمل دار الإسلام البلاد التي تظهر فيها أحكام الإسلام، أو يستطيع سكانها المسلمون أن يظهروا فيها أحكام الإسلام، فيدخل في دار الإسلام كل بلد سكانه كلهم أو أغلبهم مسلمون، وكل بلد يتسلط عليه المسلمون ويحكمونه ولو كانت غالبية السكان من غير المسلمين، ويدخل في دار الإسلام كل بلد يحكمه ويتسلط عليه غير المسلمين ما دام فيه سكان مسلمون يظهرون أحكام الإسلام، أو لا يوجد لديهم ما يمنعهم من إظهار أحكام الإسلام»[30].

دار الاسلام هغه ټولو سیمو ته شامل دی چې د اسلام احکام په کې غالب وي، او یا یې مسلمان اوسیدونکي کولی شي چې اسلامي شعائر په ښکاره اداء کړی شي، نو په دې که هغه ټول هېوادونه شامل دي چې اوسېدونکي یې ټول یا اکثریت مسلمانان وي، او همدا راز هر هغه سیمه په کې شامله ده چې مسلمانان پرې مسلط وي او حکومت پرې کوي سره له دې چې اکثریت خلک غیر مسلمانان هم وي، همدا راز هغه سیمې هم په کې شاملې دي چې غیر مسلمانان پرې حکومت کوي، خو مسلمانان په کې اوسیږي، او اسلامي احکام په ښکاره سرته رسوي، او یا داسې کوم لامل نه وي چې دوی د اسلام د حکامو د اظهار څخه منع کړي.

او شیخ محمد ابو زهرة وایي: «دار الإسلام هي الدولة التي تحكم بسلطان المسلمين، وتكون المنعة والقوة فيها للمسلمين»[31]. دار الاسلام هغه هېواد ته ویل کیږي چې حاکم یې مسلمان وي، او دفاع او قوت په کې د مسلمانانو په لاس کې وي.

د دې تصریحاتو په نتیجه کې ویلی شو چې په اسلامي نړۍ کې موجود هېوادونه خو اکثره د صاحبینو د تعریف سره سم هم دار الاسلام بلل کیږي، ځکه هلته په ټولنو د اسلام رنګ غالب دی، او د امام ابو حنیفه رحمه الله د تعریف سره سم هیڅ یو هم د دار الاسلام د تعریف څخه بیرون نه دي.

**د «د اسلام احکام څرګند او غالب وي» څه معنی ده؟**

د دار الاسلام او دار الکفر یا دار الحرب په تعریفونو کې د دې یادونه وشوه چې د فقهاو له نظره هغه سیمې دار الاسلام ګرځي په کومو سیمو کې چې د اسلام احکام غالب او څرګند وي، او د صاحبینو په نزد د دار الاسلام هغه برخې دار الحرب ګرځي په کومو سیمو کې چې د کفر او شرک احکام غالب او څرګند وي، او کله داسې تعبیر کیږي چې په کومه سیمه کې چې د اسلام احکام جاري شي هغه دار الاسلام بلل کیږي، دلته سوال دا راولاړیږي چې د دې عبارتونه معنی څه ده؟ ایا هغه هېوادونه دار الاسلام بلل کیږي چې مسلمانان پرې حاکم دي خو قوانین په کې مختلط دي، څه د شریعت څخه اخیستل شوي او څه وضعي قوانین دي؟

د دې سوال په ځواب کې باید ووایو چې یو شمېر خلک چې متشدد نظریات لري، هغه دا شرط په ظاهري معنی اخلي، او د اسلامي نړۍ ټول مسلمان هېوادونه ورته دار الحرب ښکاري، او د دې تصریح هم کوي چې د ځمکې پر سر دار الاسلام وجود نه لري، ټول مسلمان هېوادونه دار الحرب دي، دا یو داسې متشدد نظر دی چې ډیرې نادرستې پایلې لري، دا یوازې

30 - التشريع الجنائي الإسلامي مقارنا بالقانون الوضعي ج1 ص 275-276 حواله یې په بدائع الصنائع او اسنی المطالب ورکړی ده.
31 - العلاقات الدولية فی الاسلام د شیخ ابو زهرة لیکنه ص ۵۳ مخکینۍ مرجع.

یوه سیاسي نظریه نه ده، بلکې دې پورې ډېر زیات فقهي احکام تړلي دي، د دې پر بنسټ د ډېرو قضایاو په اړه فقهي احکام بدلیږي په ځانګړی توګه د امام ابو حنیفه رحمه الله د مذهب پر بنسټ، له دې امله دا نادرست تفکیر او نظر دی.

هغه څوک چې دا ډول متشدد نظر نه لري، هغوی په دوه ډلو ویشل شوي دي، لومړی هغه خلک چې په دې اړه د امام ابو حنیفه نظر ته د صاحبینو په نظر ترجیح ورکوي، دوی وایي چې دار الاسلام په دار الکفر یا دار الحرب هغه وخت بدلیږي چې هغه درې واړه شرطونه په کې موجود شي، چې مخکې یې ذکر وشو، که له هغوی درې شرطونو څخه یو هم منتفي شي د دار الاسلام هیڅ سیمه په دار الحرب نه بدلیږي، سره له دې چې خلک یې مرتد شي، یا کفار پرې قبضه وکړي او هلته د کفر احکام هم جاري کړي، او یا هم ذمیان خپل عهد مات کړي او هغه سیمه لاندې کړي، په دې ټولو صورتونو کې دار الاسلام په دار الکفر نه بدلیږي تر څو چې د هغه درې شرطونو څخه یو شرط هم منتفي شي؛ ځکه هغه سیمې ته دا وصف په یقیني توګه ثابت دی، نو یوازې په احتمال ترې دا وصف نه منتفي کیږي، ځکه چې الیقین لا یزول بالشک، له دې څخه هغه اخیري شرط او نبه دا ده چې په هغه سیمه کې د حاکمیت د بدلون څخه وروسته مسلمانان په هغه پخواني امان په امن کې پاتې نه شي، که مسلمانان په پخواني امان په امن کې پاتې شي نو د سیمې حیثیت د دار الاسلام څخه دار الکفر یا دار الحرب ته نه بدلیږي، سره له دې چې د هغه سیمې تسلط د مسلمانانو له لاسه ووځي، او همدا راز د اسلام احکام په کې غالب او څرګند هم نه وي، نو د دوی په نظر خو دا ټول مسلمان هېوادونه د دار الاسلام برخه بلل کیږي او په دې هېوادونو کې هیڅ کوم مشکل نه شته.

او څوک چې د صاحبینو نظر ته ترجیح ورکوي چې یوه سیمه هغه وخت دار الحرب ګرځي چیرته چې د کفر احکام څرګند وي او غلبه ولري، د دوی له نظره هم دا هېوادونه دار الاسلام بلل کیږي، او دار الحرب یا دار الکفر نه بلل کیږي، او دا ځکه چې دوی وایي چې د (اسلام د احکامو د غلبې) مفهوم دا دی چې مسلمانان په ښکاره توګه د خپل دین شعائر اداء کړی شي، او په خپل دین د عمل کولو په حالت کې د چا څخه د ویرې احساس و نه کړي، همدا خبره د فقهاو د تصریحاتو څخه هم څرګندیږي، په الدر المختار کې وایي: «وَدَارُ الْحَرْبِ تَصِيرُ دَارَ الْإِسْلَامِ بِإِجْرَاءِ أَحْكَامِ أَهْلِ الْإِسْلَامِ فِيهَا) كَجُمُعَةٍ وَعِيدٍ». د اهل الاسلام د احکامو مثال یې د جمعې او د اختر د لمونځونو اقامه ښودلې ده.

د دې شرط د تفصیل په اړه ابن عابدین شامي وایي: "(قوله بإجراء أحكام أهل الشرك) أي على الاشتهار، وأن لا يحكم فيها بحكم أهل الإسلام (هندية ط) وظاهره أنه لو أجريت أحكام المسلمين وأحكام أهل الشرك لا تكون دار حرب"

بیا وروسته هغه سیمې چې د دروزو تر ولکې لاندې وې، لکه جبل الدروز چې جبل تیم الله هم نومیږي، دا ټولې سیمې دار الاسلام بولي سره له دې چې حکام یې دروز یا نصرانیان ؤ، او قاضیان یې هم د هغوی له جملې څخه ؤ، او اسلام او مسلمانانو ته به یې بدرد ویل او ښکنځل به یې هم ورته کول. بیا د جامع الفصولین څخه نقل کوي چې په هره سیمه چې د کفارو له لورې مسلمان والي وټاکل شي، په هغه سیمه د دار الاسلام احکام جاري کیږي، ځکه چې حاکم یې مسلمان دی، او د کفارو طاعت په حقیقت کې هغوی ته د فریب ورکولو او یا هم د کوم تړون پر بنسټ دی. همدا راز د مسلمانانو هغه

سیمې چې حاکم یې کافر وي، په هغه هم د دار الاسلام احکام جاري کیږي خو د مسلمان حاکم د راوړلو هڅه پرې واجب ده[32].

د ابن عابدین د تصریحاتو سره سم د اسلام د احکامو غلبه په دې معنی ده چې هلته مسلمانان خپل شعائر سرته ورسولی شي.

الدر المنتقى في شرح الملتقى کې وایي: «وقال شيخ الإسلام (و)[33] الإمام الأسبيجابي: إن الدار محكومة بدار الإسلام ببقاء حكم واحد فيها كما في العمادية وغيرها، فالاحتياط أن تجعل هذه البلاد دار الإسلام، و إن كانت اليد في الظاهر للملاعين[34]، ولهؤلاء الشياطين»[35].

هره هغه سیمه دار الاسلام بلل کیږی چې په هغه کې د هغه درې شرایطو څخه یو شرط هم موجود پاتې شي چې امام ابو حنیفه ذکر کړی دي لکه په عمادیه او نورو کتابونو کې چې راغلي دي، نو احتیاط په دې کې دی چې دا سیمې (کومې سیمې چې په هغه وخت کې د مغولیانو تر ولکې لاندې وی، څکه أبو الحسن علي بن محمد بن اسماعیل الاسبیجابي السمرقندي المعروف بشیخ الاسلام په ۴۵۴هـ کې پیدا شوی او په ۵۳۵هـ کې وفات شوی دی، چې په دې وخت کې په اسلامي نړۍ د مغولو ناتار جوړ وه) دار الاسلام وګڼل شي، سره له دې چې په ښکاره خو پرې قبضه د دې لعنتیانو او شیطانانو ده.

د فقهاو د اقوالو د استقراء او په ځانګړی توګه د امام ابو حنیفه رحمه الله د مذهب پر بنسټ شهید عبد القادر عوده وایي: «دار الإسلام: تشمل دار الإسلام البلاد التي تظهر فيها أحكام الإسلام، أو يستطيع سكانها المسلمون أن يظهروا فيها أحكام الإسلام، فيدخل في دار الإسلام كل بلد سكانه كلهم أو أغلبهم مسلمون، وكل بلد يتسلط عليه المسلمون ويحكمونه ولو كانت غالبية السكان من غير المسلمين، ويدخل في دار الإسلام كل بلد يحكمه ويتسلط عليه غير المسلمين ما دام فيه سكان مسلمون يظهرون أحكام الإسلام، أو لا يوجد لديهم ما يمنعهم من إظهار أحكام الإسلام»[36].

د دې تصریح سره سم هغه سیمې چې یو ځل د دار الاسلام برخه ګرځېدلی وي، د هغې له جملې څخه دا لاندې ټول ډولونه دار الاسلام ګڼل کیږي:

- هغه سیمې چې اکثریت یې مسلمانان وي.
- هغه ټولې سیمې چې حکومت یې د مسلمانانو په لاس کې وي سره له دې چې اکثریت اوسیدونکي یې غیر مسلمانان هم وي.

---

32 - الدر المختار د ابن عابدین د حاشیي رد المحتار سره (4/ 175) د الدر المختار مؤلف محمد بن علي بن محمد بن علي بن عبد الرحمن الحنفي الحصكفي (ت ۱۰۸۸هـ) دی، او رد المحتار مؤلف ابن عابدين، محمد أمين بن عمر بن عبد العزيز عابدين الدمشقي الحنفي (المتوفى: 1252هـ) دی، خپروونکی اداره: دار الفكر-بيروت، دويم چاپ: 1412هـ - 1992م.

33 - همداسې په اصل کې لیکل شوی دی، او داسې معلومیږي چې دا (واو) درست نه دی، څکه د شیخ الاسلام څخه همدا الاسبیجابي مراد دی، همدا په شیخ الاسلام شهرت لري.

34 - په کتاب کې «الملاعنين» لیکلی همداراز په کشاف اصطلاح الفنون کې هم همداسې غلط لیکل شوی دی، درست لفظ «ملاعين» دی چې د ملعون جمع ده.

35 - الدر المنتقى شرح الملتقى ج2 ص 410 على هامش كتاب مجمع الأنهر شرح ملتقى الأبحر، الدر المنتقى لمحمد علي بن محمد بن عبد الرحمن المعروف بالعلاء الحصكفي الحنفي مفتي دمشق، (1021هـ _ 1088هـ) چې د الدر المختار مؤلف هم دی، طبع دار الكتب العلمية ـ بيروت، الطبعة الأولى عام 1998م. تهانوي ترې دا عبارت په همدې لفظ په کشاف اصطلاحات الفنون کې نقل کړی دی،

36 - التشريع الجنائي الإسلامي مقارنا بالقانون الوضعي ج ۱ ص ۲۷۵- ۲۷۶، د دار الكاتب العربي بیروت چاپ، د چاپ نیټه نه ده لیکل شوی.

- هغه ټولې سیمې چې حکومت یې د غیر مسلمانو په لاس کې وي خو هلته مسلمانان اوسیږي او هغوی خپل اسلامي شعائر په ښکاره ډول سرته رسوي، او یا داسې کوم مانع وجود ونه لري چې دوی د اسلام د احکامو د ځرگندولو څخه منع کړي.
- او هغه سیمې چې ټول او یا اکثریت وگړي یې هم مسلمانان وي او قیادت او حکومت هم د مسلمانانو په لاس کې وي خو به په طریق اولی سره د دار الاسلام برخه وي.

نو د دې تفصیل په نتیجه کې موږ د نړۍ هېوادونه په لاندې ډولونو ویشیلی شو:

لومړی: دار الاسلام چې ټول هغه هېوادونه په کې شامل دي چې د شهید عبد القادر عوده شهید په دې مخکې عبارت کې یې یادونه وشوه، چې د اسلامي نړۍ ټول هېوادونه په کې راځي، نو دا ټول هېوادونه د دار الاسلام برخه ده.

دویم: دار الحرب: چې ټول هغه هېوادونه په کې شامل دي چیرته چې سیادت او قیادت د کفارو په لاس کې دی، او هلته د اسلام شعائر برلاسه نه دي، لکه ټول غربي هېوادونه چې اصلا کله د اسلام د قلمرو برخه نه دي گرځېدلي. خو کوم هېوادونه چې یو ځل د دار الاسلام برخه گرځېدلي دي هغه څه وخت دار الحرب گرځي؟ دا قضیه لکه مخکې یې چې یادونه وشوه د امام ابو حنیفه او صاحبینو ترمنځ اختلافي دي چې امام ابو حنیفه هغه سیمې چې یو ځل دار السلام بلل شوي دي په اسانۍ په هغه د دار الحرب حکم نه کوي، بلکې په یو وخت کې باید درې شرطونه په کې وجود ولري (د کفر د احکامو څرگنده اجراء، د دار الحرب سره هم سرحده وي، او مسلمانان په کې د پخواني امان (د مسلمانانو د امان) پر بنسټ په امن کې پاتې نه شي) خو صاحبین بیا یوازې د کفر د شعائرو غلبه د دار الحرب کېدلو لپاره معیار گڼي.

«دار الحرب» ـ لکه مخکې چې په تکرار سره وویل شول ـ دفقهاو له نظره د دار الکفر سره مرادف لفظ دی، له دې امله دار الحرب بیا موږ په درې ډوله ویشلی شو:

لومړی: هغه هېوادونه چې د مسلمانانو سره په جنگ کې ښکېل دي لکه صهیونستي اداره، په دوی باندې هغه ټول احکام جاري کیږي چې د جنگ احکام دي.

دویم: هغه هېوادونه چې د هغوی سره اسلامي هېوادونه تړونونه لري، دې ته موږ دار العهد ویلی شو لکه چې شیخ ابو زهرة یې یادونه کړې ده، د دې ډول سیمو احکام امام محمد بن الحسن الشیباني په السیر الکبیر[37] کې په اخر کې بیان کړي دي، د دوی خپل احکام دي، د دوی سره باید د هغه اصولو سره سم تعامل وشي چې وروسته به یې یادونه وشي.

دریم: هغه هېوادونه چې نه د مسلمانانو سره په جنگ کې ښکېل دي او نه ورسره تړونونه او معاهدات لري، د دوی په اړه د فقهاو ترمنځ اختلاف دی چې د دوی سره د اسلامي امت اصل تعامل په سوله ولاړ دی که په جنگ، یا په بل تعبیر چې د اسلامي امت دائمي تعامل د داسې هېوادونو سره سوله ده که جنگ؟.

### ایا دار الاسلام متعدد هېوادونه کېدلی شي؟

کله چې د فقهاو کتابونو ته رجوع وکړو نو گورو چې هلته یوازې د دار الکفر او دار الاسلام ترمنځ د اړیکو قضیه مطرح کیږي، او دا ځکه چې په هغه وخت کې چې کله دا فقه تدوین کېده نو په هغه وخت کې دار الاسلام یو هېواد شمېرل کېده، نو له دې امله د یو مسلمان هېواد اړیکې د بل مسلمان هېواد سره قابل تصور نه وی، ځکه د اسلامي هېوادونو تعدد وجود نه

37 - د دې لپاره وگورئ: شرح السیر الکبیر د امام محمد بن احمد سرخسي (ت ۴۹۰هـ) اصل کتاب د محمد بن الحسن الشیباني دی، ج۵ ص۳ او له دې وروسته، تحقیق: ابو عبد الله محمد حسن محمد حسن اسماعیل الشافعي، د محمد علي بیضون، دار الکتب العلمیة، بیروت، لبنان د منشوراتو څخه، لومړی چاپ ۱۹۹۷م/ ۱۴۱۷هـ.

درلود، اوس سوال دا را ولاړیږي چې ایا د اسلامي هېوادونو تعدد درست کار دی؟ ایا په یو وخت کې متعدد اسلامي حکومتونه وجود درلودلی شي؟ تر څو یو مسلمان هېواد د بل سره اړیکې ولري؟ په دې اړه باید په لنډو ټکو کې ووایم چې په دې اړه په اسلامي فکري تاریخ کې درې نظرونه وجود لري چې تفصیل یې په لاندې ډول دی:

**لومړی: کرامیه په یو وخت کې د خلفاو د تعدد قائل دي**

د کرامیه فرقې نظر دا دی چې بې له کومې اړتیا او په یوې سیمه کې خلفاء متعدد کېدلی شي، نو بالتبع اسلامي هېوادونه هم متعدد کېدلی شي، دوی حضرت علي او حضرت معاویه په یو وخت کې دواړه خلفاء ګڼي، په طبیعي توګه دا نظر د اسلام د مقاصدو سره په تضاد کې یو نظر دی، چې اهل سنتو مسترد کړی دی، او د یو شاذ نظر په توګه ورته ګوري[38].

**دویم: د جمهورو نظر، د هېوادونو تعدد جواز نه لري**

د اسلامي امت د جمهورو علماو نظر دا دی چې اسلامي نړۍ باید د یو خلیفه د حکومت لاندې وي، د خلفاو تعدد نادرست دی، او د اسلامي امت په وړو وړو هېوادونو تقسیمول چې هر یو ځانته خلیفه، امام، او امیر المؤمنین ووایي درست کار نه دی، امام، خلیفه او امیر المؤمنین په ټوله اسلامي نړۍ کې باید یو تن وي، هو! بېلا بېلې سیمې د سیمه ایزو حاکمانو د لاس لاندې کېدلی شي چې د همدې شرعي امیر المؤمنین له لورې ټاکل شوي وي، یو شمېر خلکو په دې اړه اجماع هم نقل کړی ده، او یو شمېر نور دا قضیه اتفاقي ګڼي، په دې اړه، امام ماوردي وایي: «وَإِذَا عُقِدَتِ الْإِمَامَةُ لِإِمَامَيْنِ فِي بَلَدَيْنِ لَمْ تَنْعَقِدْ إِمَامَتُهُمَا؛ لِأَنَّهُ لَا يَجُوزُ أَنْ يَكُونَ لِلْأُمَّةِ إِمَامَانِ فِي وَقْتٍ وَاحِدٍ، وَإِنْ شَذَّ قَوْمٌ فَجَوَّزُوهُ»[39].

که چېرې د خلافت لپاره دوو تنو سره بیعت وشي په دوو سیمو کې نو د دواړو امامت منعقد نه دی، ځکه چې دا روا نه ده چې د امت دې په یو وخت کې دوه امامان وي، سره له دې چې څه خلک شاذ لري او دا جائز ګڼي.

اوامام نووي رحمه الله وایي:«وَاتَّفَقَ الْعُلَمَاءُ عَلَى أَنَّهُ لَا يَجُوزُ أَنْ يُعْقَدَ لِخَلِيفَتَيْنِ فِي عَصْرٍ وَاحِدٍ سَوَاءٌ اتَّسَعَتْ دَارُ الْإِسْلَامِ أَمْ لَا»[40]. د علماو په دې اتفاق دی چې په یو وخت کې د دوه تنه خلیفه جوړول جواز نه لري، د دار الاسلام مساحت لږ وي او که ډېر.

او ددې علت ټول دا ښایي چې د خلفاو د تعدد په نتیجه کې د امت ترمنځ وحدت نه پاتې کیږي، او افتراق په کې منځته راځي، په دې اړه ابن الرفعة وایي: «قال: ولا يجوز أن ينعقد لاثنين في وقت واحد، أي: في بلدين وإن تباعدتا وانتشر الإسلام حتى عم الأرض [شرقها وغربها]، كما قاله القاضي الحسين، وجهه: أن الأصل في الإمامة نبوة النبي صلى الله عليه وسلم، ولا يجوز التمسك بشريعة غير شريعته لمن بلغته الدعوة، فكذلك لا يجوز لأحد أن يطيع إمامين، ولأن في تعدد الأئمة اختلال أمور المسلمين، وافتراق الكلمة، لأنه قلما يتفق رأي شخصين، فلم يجز أكثر من إمام واحد، لتكون كلمة الإسلام مجتمعة»[41].

شیرازي (د التنبیه مؤلف چې کفایة النبیه یې شرحه ده) وایي: جواز نه لري چې امامت او خلافت په یو وخت کې د دوو تنو لپاره منعقد شي، هدف یې دا دی چې په دوو بیلو سیمو کې هم جایز نه دی سره له دې چې دا سیمې په خپلو کې یو دبل څخه لیرې هم وي، او اسلام په ټوله نړۍ هم خپور شوی وي (هدف یې دا دی چې که ټوله نړۍ هم دار الاسلام وګرځي

38 - د دې لپاره وګورئ: أضواء البيان في إيضاح القرآن بالقرآن د شیخ محمد الأمين الشنقيطي ليكنه. أضواء البيان في إيضاح القرآن بالقرآن (3/ 39) تأليف: محمد الأمين بن محمد المختار بن عبد القادر الجكني الشنقيطي (ت 1393هـ)، خپرونکی اداره: دار الفكر للطباعة و النشر و التوزيع بيروت – لبنان، د چاپ کال: 1415 هـ - 1995 م.
39 - الأحكام السلطانية ص ۲۹، المؤلف: أبو الحسن علي بن محمد بن محمد بن حبيب البصري البغدادي، الشهير بالماوردي (المتوفى: 450هـ)، الناشر: دار الحديث – القاهرة.
40 - شرح النووي على مسلم (12/ 232) د دار احياء التراث العربي، بيروت چاپ، دويم چاپ کال ۱۳۹۲هـ.
41 - كفاية النبيه في شرح التنبيه ج ۱۸ ص ۱۳، المؤلف: أحمد بن محمد بن علي الأنصاري، أبو العباس، نجم الدين، المعروف بابن الرفعة (المتوفى: 710هـ) المحقق: مجدي محمد سرور باسلوم، الناشر: دار الكتب العلمية، الطبعة: الأولى، م 2009م.

نو باید یو خلیفه ولري او یو خلیفه او یو امیر المؤمنین یې اداره کړي) دا خبره قاضي حسین (مشهور شافعي فقیه) کړې ده، دلیل یې دا دی چې امامت او خلافت د محمد صلی الله علیه وسلم په نبوت قیاس دی، او په هغه کې حکم دا دی چې د هغه چا لپاره چې دعوت ورته رسېدلی وي د پیغمبر علیه السلام د شریعت په موجودیت کې په بل شریعت عمل کول ناروا دي، همدا راز (د یو امام په موجودیت کې د بل امام امامت منل درست نه دي) د هیچا لپاره د دوو امامانو امامت منل هم روا نه دي، او بله دا چې د امامانو په تعدد کې د مسلمانانو امور مختل کیږي، وحدت یې له منځه ځي، ځکه دا نادره خبره ده چې دوه تنه دی په قیادت کې وي او دواړه دې په یو نظر متفق شي، نو له دې امله د یو امام او خلیفه څخه د زیاتو موجودیت روا نه دی، او دا د دې لپاره چې د مسلمانانو خبره یوه پاتې شي.

دوي له ډیرو دلائلو څخه استدلال کوي، یو دلیل یې هغه حدیث دی چې امام مسلم په خپل صحیح کې د حضرت ابو سعید الخدري رضي الله عنه څخه روایت کړی دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: «إِذَا بُويِعَ لِخَلِيفَتَيْنِ فَاقْتُلُوا الْآخَرَ مِنْهُمَا». کله چې د دوو تنو سره د خلفاو په حیث بیعت وشي نو د هغوی څخه وروستنی قتل کړئ. همدا راز په صحیح مسلم کې د حضرت عرفجة حدیث نقل شوی چې وایي ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اوریدلي چې ویل یې:«مَنْ أَتَاكُمْ وَأَمْرُكُمْ جَمِيعٌ عَلَى رَجُلٍ وَاحِدٍ يُرِيدُ أَنْ يَشُقَّ عَصَاكُمْ أَوْ يُفَرِّقَ جَمَاعَتَكُمْ فَاقْتُلُوهُ[42]». وَفِي رِوَايَةٍ: «فَاضْرِبُوهُ بِالسَّيْفِ كَائِنًا مَنْ كَانَ». څوک چې تاسې ته راشي او تاسې په یو شخص راټول اوسئ (یو خلیفه او امام لرئ) او هغه غواړي ستاسې اتفاق له منځه یوسي، او جماعت سره وشیندي نو وه یې وژنئ. په یو بل روایت کې راځي: په توره یې ووهئ (مړ یې کړئ) دا چې هر څوک وي.

همدا راز په مسلم شریف کې د حضرت عبد الله بن عمرو بن العاص رضي الله عنهما څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: «وَمَنْ بَايَعَ إِمَامًا فَأَعْطَاهُ صَفْقَةَ يَدِهِ وَثَمَرَةَ قَلْبِهِ، فَلْيُطِعْهُ إِنِ اسْتَطَاعَ، فَإِنْ جَاءَ آخَرُ يُنَازِعُهُ فَاضْرِبُوا عُنُقَ الْآخَرِ» ثُمَّ قَالَ: سَمِعَتْهُ أُذُنَايَ مِنْ رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - وَوَعَاهُ قَلْبِي.

چا چې د یو امام سره بیعت وکړ، هغه سره یې د عهد وکړ او په هغه یې اعتماد وکړ، نو تر څو چې توان لري د هغه اطاعت دې وکړي، که کوم بل څوک راووت چې د هغه سره (د خلافت پر سر) شخړه کوله، نو د دې بل گردن ووهئ! بیا (عبد الله بن عمرو بن العاص) وویل: دا زما غوږونو د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اوریدلي او زما په زړه کې محفوظ شوي.

**دریم نظر: دا قضیه اجتهادي ده، د خلفاو د تعدد امکان شته**

یو شمېر علماء وایي چې په یوه سیمه کې او یا هم په نږدې سیمو کې دوه خلفاء نه شي ټاکل کېدلی، دا خبره خو اتفاقي ده، مگر که سیمې سره لیرې وي، هلته بیا احتمال شته، ځکه چې دا قضیه اجتهادي ده، او د قطعیاتو له جملې څخه نه گڼل کیږي، دا د استاذ ابو اسحاق شیرازي، امام الحرمین، د امام قرطبي او څه نورو علماو نظر دی، د ابو اسحاق شیرازي څخه دا قول ډیرو فقهاو نقل کړی دی، د دوی له جملی ابو البقاء دمیري هم دی، هغه وایي: «ولا يجوز نصب إمامين في وقت واحد وإن تباعد الإقليمان بهما. وحكى أبو القاسم الأنصاري في (الغنية) عن الأستاذ أبي إسحاق: أنه يجوز نصبهما في إقليمين؛ لأنه قد يحتاج إلى ذلك، وهو اختيار الإمام»[43].

---

42 - زیات علماء د فاقتلوه ظاهري معنی نه اخلي او د داسې وژل جایز نه گڼي، بلکې وایي چې هغه عزل کړئ چې په معنوي لحاظ له منځه ولاړ شي، او په کومو روایتونو کې فاضربوه بالسیف کلمات راغلي هغه روایة بالمعنی گڼي.

43 - النجم الوهاج في شرح المنهاج ج ۹ ص ٦٩، المؤلف: كمال الدين، محمد بن موسى بن عيسى بن علي الدَّمِيري أبو البقاء الشافعي (المتوفى: 808هـ) الناشر: دار المنهاج (جدة) المحقق: لجنة علمية، الطبعة: الأولى، 1425هـ - 2004م.

د دوو امامانو موجوديت په يو وخت کې ناروا دي، سره له دې چې سيمې يې سره ليرې هم وي، خو ابو القاسم انصاري په «غنية» کې د استاذ ابو اسحاق څخه نقل کړي چې هغه وايي: په دوو بيلو سيمو کې يې د دوو امامانو سره بيعت کول روا دي، ځکه دا به کله د خلکو اړتيا وي، همدا د امام (امام الحرمين جويني) نظر هم دی. د استاد ابو اسحاق څخه دا خبره، ابن الرفعة، امام قرطبي[44] او حافظ ابن کثير هم نقل کړې ده.

داسې ښکاري چې په پيل کې امام الحرمين ابو المعالي جويني دا نظر درلوده چې هغه حالت چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم له وخت څخه قائم وه، هغه د خلافت د وحدت حالت وه، امام الحرمين دې قضيې ته د علماو نظر را جلب کړي چې که د دې خلافت تعدد ته اړتيا پيدا شي په ځانګړې توګه کله چې د اسلامي نړۍ مساحت پراخه شي نو د خلفاو په تعدد فکر کېدلی شي، او دا يوه اجتهادي قضيه ده، قطعياتو سره تړاو نه لري، هغه په خپل کتاب الارشاد کې وايي:«ذَهَبَ أَصْحَابُنَا إِلَى مَنْعِ عَقْدِ الْإِمَامَةِ لِشَخْصَيْنِ فِي طَرَفِيَ الْعَالَمِ، ثُمَّ قَالُوا: لَو اتَّفَقَ عَقْدُ الْإِمَامَةِ لِشَخْصَيْنِ نُزِّلَ ذَلِكَ مَنْزِلَةَ تَزْوِيجِ وَلِيَّيْنِ امْرَأَةً وَاحِدَةً مِنْ زَوْجَيْنِ مِنْ غَيْرِ أَنْ يَشْعُرَ أَحَدُهُمَا بِعَقْدِ الْآخَرِ. قَالَ: وَالَّذِي عِنْدِي فِيهِ أَنَّ عَقْدَ الْإِمَامَةِ لِشَخْصَيْنِ فِي صُقْعٍ وَاحِدٍ مُتَضَايِقِ الْخِطَطِ وَالْمَخَالِيفِ غَيْرُ جَائِزٍ وَقَدْ حَصَلَ الْإِجْمَاعُ عَلَيْهِ. فَأَمَّا إِذَا بَعُدَ الْمَدَى وَتَخَلَّلَ بَيْنَ الْإِمَامَيْنِ شُسُوعُ النَّوَى فَلِلاحْتِمَالِ فِي ذَلِكَ مَجَالٌ وَهُوَ خَارِجٌ عَنِ الْقَوَاطِعِ»[45].

د شافعي مذهب علماء، دوه تنو ته خلافت سپارل ناروا ګڼي سره له دې چې يو يې د نړۍ په يو سر کې او بل يې په بل سره کې هم وي، او وايي: که د دوو تنو سره د امامت بيعت وشو د دې مثال به داسې وي لکه د يوې ښځې دوه خپلوان (چې ولايت پرې ولري) چې د هغې نکاح د دوو بيلا بيلو سړيو سره وکړي پرته له دې چې يو له بل څخه خبر وي (لکه په دې دواړو عقدونو کې چې لومړی عقد معتبر او دويم ملغی دی، او يا هم دواړه ملغی دي، همدا راز د دې دواړو خليفه ګانو حکم به هم همداسې وي) خو هغه وايي: زما له نظره خو په يوې سيمه کې چې کلي او منطقې سره نږدې وي دوه تنه د امامانو په حيث ټاکل ناروا دي، او دا يوه اجماعي قضيه ده، مګر کله چې فاصلې زياتې وي، او د دواړو امامانو ترمنځ د ليرې والي ډيرې فاصلې حائل وي، نو په دې حال کې بيا د احتمال (اجتهاد) لپاره مجال شته دی، او دا د قطعياتو د مجال څخه بيرون خبره ده.

د دې علماو له نظره هغه احاديث چې په هغه کې د امامانو د تعدد څخه منع راغلی هغه په هغه حالاتو باندې حمل دي چې کله ترې د امت ترمنځ د اختلافاتو د راولاړيدو خطر وي، او دا خطر هغه وخت راپيدا کېدلی شي چې د تصادم خطر وجود ولري، او تصادم هغه وخت رامنځته کېږي چې مناطق يې سره نږدې وي. امام نووي[46] او نورو علماو دې نظر ته فاسد نظر ويلی دی، او وايي چې دا د شرعي نصوصو سره متصادم دی.

### څلورم نظر: دا فعلي حالت (چې د هر هېواد خپل امام وي) درست ګڼي

د محمد علي شوکاني يمني او د هغه د نظرياتو مطلق تابع او مقلد مولانا نواب صديق حسن خان قنوجي هندي د دې قائل دي چې په هېوادونو کې اوسني حاکم نظامونه د امامانو حيثيت لري، او دوی ته هماغه حقوق تر لاسه دي چې په اسلامي نصوصو او فقه کې د امام او خليفه لپاره ثابت دي، او دې ته د ضرورت او حاجت فيصله وايي.

---

44 - امام قرطبي احکام القرآن ج ۱ ص ۲۷۳ کې د سورت بقرې د (۳۰) ايت په تفسير کې په (۱۷) مسأله کې وايي: «وَكَانَ الْأُسْتَاذُ أَبُو إِسْحَاقَ يُجَوِّزُ ذَلِكَ فِي إِقْلِيمَيْنِ مُتَبَاعِدَيْنِ غَايَةَ التَّبَاعُد لِئَلَّا تَتَعَطَّلَ حُقُوقُ النَّاسِ وَأَحْكَامُهُم».

45 - الارشاد إلى قواطع الأدلة في أصول الاعتقاد ص 326- 327 د امام الحرمين الجويني (ت 478هـ) ليکنه، تحقيق: د. احمد عبد الرحيم السايح و توفيق على وهبة، خپرونکی اداره: مكتبة الثقافة الدينية، شارع بورسعيد ـ القاهرة، لومړی چاپ کال ۲۰۰۹م/ ۱۴۳۰هـ.

46 - د صحيح مسلم په شرح (12/ 232) کې وايي: «وَهُوَ قَوْلٌ فَاسِدٌ مُخَالِفٌ لِمَا عَلَيْهِ السَّلَفُ وَالْخَلَفُ وَلِظَوَاهِرِ إِطْلَاقِ الْأَحَادِيثِ وَاللَّهُ أَعْلَمُ» مخکينی مصدر.

په دې اړه شوكاني صاحب وايي: «وأما بعد انتشار الإسلام واتساع رقعته وتباعد أطرافه، فمعلوم أنه قد صار في كل قطر أو أقطار الولاية إلى إمام أو سلطان، وفي القطر الآخر أو الأقطار كذلك، ولا ينفذ لبعضهم أمر ولا نهي في قطر الآخر وأقطاره التي رجعت إلى ولايته، فلا بأس بتعدد الأئمة والسلاطين، ويجب الطاعة لكل واحد منهم بعد البيعة له على أهل القطر الذي ينفذ فيه أوامره ونواهيه، وكذلك صاحب القطر الآخر، فإذا قام من ينازعه في القطر الذي قد ثبتت فيه ولايته، وبايعه أهله، كان الحكم فيه أن يقتل إذا لم يتب، ولا تجب على أهل القطر الآخر طاعته، ولا الدخول تحت ولايته لتباعد الأقطار، فإنه قد لا يبلغ إلى ما تباعد منها خبر إمامها أو سلطانها، ولا يدرى من قام منهم أو مات، فالتكليف بالطاعة والحال هذه تكليف بما لا يطاق، وهذا معلوم لكل من له اطلاع على أحوال العباد والبلاد، فإن أهل الصين والهند لا يدرون بمن له الولاية في أرض المغرب، فضلا عن أن يتمكنوا من طاعته، وهكذا العكس، وكذلك أهل ما وراء النهر لا يدرون بمن له الولاية في اليمن، وهكذا العكس، فاعرف هذا فإنه المناسب للقواعد الشرعية، والمطابق لما تدل عليه الأدلة، ودع عنك ما يقال في مخالفته فإن الفرق بين ما كانت عليه الولاية الإسلامية في أول الإسلام وما هي عليه الآن أوضح من شمس النهار، ومن أنكر هذا فهو مباهت لا يستحق أن يخاطب بالحجة لأنه لا يعقلها»[47].

د اسلام د خپرېدو او د اسلام د مساحت د پراختيا، او د اسلامي نړۍ د ځنډو د يو بل څخه د ليرې والي وروسته نو دا څرګنده خبره ده چې په هره سيمه او يا څو سيمو کې واک او قدرت امام او يا پادشاه او حاکم ته ورسيده، همدا راز په بله سيمه کې هم (بل چا ته قدرت ورسيده) او د يو حاکم امر ونهي د بل حاکم په سيمه يا سيمو کې نافذ نه دي، نو په داسې حالاتو کې د امامانو او حاکمانو په تعدد کې کوم مشکل او ستونزه نه شته، او د هر حاکم طاعت به د بيعت د اخيستلو نه وروسته د هغه سيمې په اوسيدونکو لازم وي چېرته يې چې امر و نهي چليږي، همدا راز به د بلې سيمې حاکم هم وي، که څوک پاڅيږي او په هغه سيمه کې د هغه سره شخړه کوي چې د هغه د واک لاندې ده، او خلکو يې ورسره بيعت کړی دی، نو د هغه حکم دا دی چې هغه ووژل شي که توبه ونه کړي، او د بلې سيمې په خلکو يې اطاعت لازم نه دی، او نه ورته د هغه په قيادت کې داخلېدل لازم دي؛ ځکه چې سيمې يو د بل څخه ليرې دي، کېدلی شي د ليرې سيمو خلکو ته د امام او حاکم معلومات هم ونه رسيږي، او شايد هيڅ خبر هم نه شي چې څوک ژوندی دی او څوک مړ شوی، نو په داسې حالاتو کې د هغه ليرې سيمو خلک په اطاعت باندې مکلف کول «تکليف بما لا يطاق» دی، دا خبره هر هغه چا ته څرګنده او معلومه ده چې د خلکو او د سيمو د حالاتو څخه خبر وي، د چين او هند اوسيدونکي له دې خبر نه دي چې په «المغرب» کې د چا حاکميت دی، دا خو لا پريږده چې دا خلک د هغه اطاعت وکړي! همدا راز بالعکس، همدا راز د ما وراء النهر اوسيدونکي له دې خبر نه دي چې په يمن څوک حکومت کوي! همدا راز بالعکس، نو په دې پوه شه چې همدا د شرعي اصولو او قواعدو سره مناسبه خبره ده، او د هغه څه سره مطابق خبره ده چې نصوص پرې دلالت کوي، او هغه خبرو پسې مه ګرځه چې وايي چې دا (د شريعت) مخالف نظر دی، ځکه د اسلام د لومړنيو وختونو حاکميت او حکومت د اوسني حالت سره ډير تفاوت لري، او دا تفاوت د لمر په څير ځرګند دی، او څوک چې له دې څخه انکار کوي نو هغه يو داسې بې عقله انسان دی چې ددې وړ نه دی چې دليل ورسره وويل شي ځکه هغه پرې نه پوهيږي.

دا خبره هم د محمد علي الشوکاني څخه د نورو ډيرو افکارو په څير مولانا صديق حسن خان په خپل کتاب الروضة

47 - السيل الجرار المتدفق على حدائق الأزهار ج۴ ص ۴۸۱- ۴۸۲، تحقيق: محمد ابراهيم زايد، د المجلس الأعلى للشؤون الاسلامية، لجنة احياء التراث الاسلامى، د چاپ کال ۱۹۸۸م.

الندية[48] کې په حرفي شکل نقل کړی ده، او په اخر کې ليکلي دي (والله المستعان) چې دا د هغه له لورې د دې نظر په تبني کولو دلالت کوي.

لنډه خبره يې دا ده چې همدا اوسنی حالت چې اسلامي نړۍ په کې په بېلا بېلو دولتونو او هېوادونو ويشل شوی ده، د دې هېوادونو مشرانو هر يو ته په خپله منطقه کې د امام او خليفه حقوق تر لاسه دي، او اوس د اسلام د لومړنيو ورځو حالات اعاده کول ممکن نه دي، ځکه په هغه وخت کې د اسلامي نړۍ مساحت دومره پراخه نه وه، نو ټولې سيمې د يو امام د قيادت لاندې راتللی شوی، مګر اوس دا کار ممکن نه دی، او حاکم ته خو حتما اړتيا وجود لري، نو بناء همدې قطري او سيمه ايزو حکومتونو ته بايد د خلافت حيثيت ورکړی شي.

د شوکاني او صديق حسن خان د نظر په اړه بايد ووايو چې د انقسام دې حالت ته مستقل مشروعيت ورکول درسته خبره نه ده، ځکه ډېر نصوص د اسلامي امت په وحدت او د اسلامي نړۍ د قيادت په وحدت باندې دلالت کوي، چې دا نصوص معروف دي، او يو څه احاديثو ته مخکې د جمهورو د مذهب لاندې اشاره هم وشوه.

**پنځم نظر: د خليفه په نه موجوديت کې د هېوادونو تعدد استثنائي حالت**

په دې امت باندې الله تعالی دومره فضل او کرم کړی دی چې ډېر امتونه ترې محروم دي، او هغه د داسې علماو پيدا کېدل دي چې د ډېرو هغه حالاتو په اړه يې ليکل کړي دي چې په پيړيو پيړيو وروسته واقع کېدلی شول، د دوی له جملې څخه يو هم امام الحرمين ابو المعالي الجويني دی چې په ۴۷۸هـ کې وفات شوی دی، او د هغه حالت لپاره يې نظريه پردازي کړې چې اسلامي امت ورسره د تيرې پيړۍ په دويمه لسيزه کې د عثماني خلافت د سقوط په وخت کې مخ شو، او چې اثار يې تر اوسه پورې دوام لري.

امام الحرمين جويني په دې اړه يو کتاب ليکلی چې نوم يې ورته «غياث الأمم في التياث الظلم» يا مختصر نوم يې «الغياثي» ايښی دی، په دې کتاب کې يې بنسټيزې دوه قضيې مطرح کړي دي، لومړۍ دا چې کله د اسلامي خلافت لپاره وړ خلک وجود و نه لري نو خلک به په هغه وخت کې څه کوي؟ او دويمه قضيه دا چې کله په آخره زمانه کې د شريعت علماء وجود ونه لري نو بايد خلک څه وکړي؟. زموږ د حالت سره اړوند قضيه يې په لومړي باب کې بحث کړی ده چې هغه دې دوو بابونو لپاره د تمهيد حيثيت لري، او امامت او خلافت اړوند قضايا يې په کې بحث کړي دي، چې له دې جملې څخه په يو وخت کې د دوو امامانو قضيه هم ده، د دې قضيې اړوند نظريات يې دلته يې په لنډه توګه را نقل کوو، هغه وايي:

دا خو ثابته خبره ده چې د دوو (متعددو) خلفاو ټاکل د فساد سبب ګرځي، بيا که موږ د داسې دوو (متعددو) خلفاو وجود فرض کړو چې پر ټول قلمرو د دواړو حکم چلېږي، نو دا به د دواړو ترمنځ د ټکر او شخړې سبب شي، او د ټکر او شخړو د موجوديت په صورت کې به د خلفاو د تعدد ناوړه اغيزې دومره وي چې د خليفه او امام نه موجوديت به ترې بهتر وګڼل شي.

دويم صورت دا کېدلی شي چې په يوه سيمه کې يو امام او خليفه وټاکل شي، او په بله کې بل وټاکل شي، په داسې حال کې چې دا ممکن وي چې د ټولې اسلامي نړۍ لپاره يو امام وټاکل شي چې په ټوله اسلامي نړۍ يې حکم چلېږي، نو که د ټولې اسلامي نړۍ لپاره يو نافذ الامر امام ټاکل ممکن وي نو بيا خو د دوو امامانو ټاکل د امت په اتفاق سره يو باطل

48 - الروضة الندية شرح الدرر البهية ج۲ ص ۳٦۲ دار الجيل، بيروت چاپ، بې له تاريخ څخه.

کار دی، لکه مخکې مو چې وویل، او بله دا چې په دې د امامت او خلافت اصلي هدف او موخه فوت کېږي چې هغه د امت وحدت او اتفاق دی، دا خبره هم مخکې په تفصيل سره بيان شوې ده، او دا يو څرګند حقيقت هم دی چې هيڅ ډول غموض په کې نشته.

خو د کوم حالت په اړه چې نظريات مختلف دي، او خلک په کې اختلاف لري هغه داسې يو حالت دی چې هلته يو نافذ الامر امام ټاکل ممکن نه وي، او داسې حالت په لاندې څرګندو صورتونو کې رامنځته کېدلی شي:

لومړی: اسلامي نړۍ پراخه شي، او ډېر ليرې ليرې مناطق، او د بحر په اعماقو کې راګيرې جزيرې په خپل احاطه کې راوړي، په داسې حالت کې کېدلی شي څه خلک د دنيا سره منقطع وي، او د امام او خليفه اوامر، مشوره او نظر ورته نه رسيږي.

دويم: کېدلی شي د اسلامي نړۍ د دوو سيمو ترمنځ د دښمن سيمه حائل واقع شي، او کومې سيمې چې د کفارو د سيمو بل لور ته پرتې وي، هغوی د امام او خليفه د نظر، رأی او مشورې څخه محرومې وي[49]. که چېرته داسې صورت حال رامنځته شو نو بيا د علماو ترمنځ اختلاف دی:

يو شمېر علماء په دې نظر دي چې په هغه سيمه کې چې د امام د مشورې او نظر څخه محرومه ده، هلته مستقل امام ټاکل جواز لري، دا نظر ابو الحسن اشعري او استاذ ابو اسحاق اسفرايني او نورو ته منسوب دی، دوی د خلکو د مصلحتونو او ګټو پر بنسټ دا نظر غوره کړی دی، او وايي: کله چې د امامت اصلي موخه او هدف د خلکو ګټې ساتل، د معاملاتو هوارول او د سرحدونو ساتل او حفاظت دی، نو که دا کارونه د داسې يو امام په ټاکنه سرته ورسيدلی شي چې په ټوله نړۍ يې امر او نهي نافذ وي نو دا خو تر هر څه بهتر حال دی، او همدا د سياست او قيادت د غوښتنو سره مناسبت هم لري.

خو که د ټولې اسلامي نړۍ لپاره د يو امام ټاکل مشکل وي، نو هغه خلک چې د امام د مشورې، نظر او قيادت څخه محروم دي، دا خلک خو همداسې مهمل پرېښودل ممکن نه دي چې نه يې د خير په کار د راجمع کولو لپاره کوم باعث وي او نه يې د بدو کارونو څخه کوم منع کونکی قوت وي، نو بناء حل يې دا دی چې په خپله سيمه کې دې د ځان لپاره يو قيادت وټاکي چې د ټولو لپاره د اطمئنان ځای وي، ځکه که بې قيادته پاتې شي نو ټول به ضائع شي، او دا خبره څرګنده ده څوک يې انکار هم نشي کولی.

امام الحرمين وايي: زه په دې اړه د الله په مرسته وايم: که چېرته امامت او خلافت دمخه يو وړ انسان ته سپارل شوی وه، او د خلافت د سپارلو په وخت کې ټولې سيمې د هغه د قيادت لاندې وی، مګر بيا څه داسې اسباب را ښکاره او يا رامنځته شول چې ټولو سيمو ته د هغه د قيادت او امامت په مخ کې خنډ جوړيدل، نو په داسې حالت کې خو هغه خلک مهمل پرېښودل درست نه دي، بلکې د خپل ځان لپاره دې يو امير وټاکي، چې د هغه څخه به مشوره اخلي د هغه اطاعت به کوي، او په خپلو کړنو کې به د رسول الله صلی الله عليه وسلم د شريعت التزام کوي.

مګر دا څوک يې چې د حاکم په حيث ټاکلی دی، دا به د خليفه او امام حيثيت نه لري، او کله چې د دوی او د امام او خليفه د لارښوونې او قيادت ترمنځ حائل خنډونه له منځه ولاړ شول، او امام په دې وتوانېده چې د دوی لارښوونه وکړي، نو د هغه ځای حاکم او رعيت دې ټول د امام او خليفه حکم ته تسليم شي، او اطاعت دې اختيار کړي، او خليفه او امام بايد هغه

49 - امام الحرمين جويني خو دا په هغه وخت کې په تخيل کې راوستي وی، خو اوسنی حالت د دې دواړو څخه جلا يو بل حالت دی چې د خلافت د سقوط نه وروسته د اسلامي نړۍ ټولې يا اکثره سيمې د استعمار د تسلط لاندې راغلی، او بيا داسې يو جهت پيدا نه شو چې دا ټولې سيمې د يو حاکم د سلطې لاندې راولي، نو متعدد هېوادونه رامنځته شول.

مشکلات له منځه یوسي، او د هغوي قیادت دې پرمخ یوسي، او هغه خلک چې هغوی د خپل قیادت لپاره د حاکمانو په توګه ټاکلي دي، که امام او خلیفه وغواړي هغوی دی پر خپل ځای پریږدي، او که وغواړي بدلون دې په کې راوړي، ځکه د امام په حیث یې امر باید اطاعت شي.

مګر که مخکې څخه امام او خلیفه وجود ونه لري، او داسې یوحالت رامنځته شي چې هغه ته موږ د امامت او خلافت د انقطاع زمانه وایو، او په دې سره د اسلامي نړۍ په دننه کې یوه سیمه له بلې څخه جدا شي (بالکل لکه د اسلامي نړۍ فعلي حالت چې یو خلیفه او امام وجود نه لري، او اسلامي نړۍ په بېلا بېلو هېوادونو ویشل شوی ده) او د یو داسې متفق علیه امام او خلیفه ټاکل هم ګران وي چې حکم یې په ټولو سیمو او ټولو خلکو نافذ وي، او په هره سیمه کې یو امیر او حاکم وټاکل شو، او یو سره هم د عام خلیفه په حیث بیعت ونه شو، نو که داسې صورت حال واقع شو نو په دې حالت کې حق خبره دا ده چې د دې سیمه ایزو حاکمانو څخه یو هم خلیفه او امام نه بلل کیږي، ځکه امام، امیر المؤمنین او خلیفه هغه یو شخص دی چې د نړۍ ټول مسلمانان ورسره اړیکه ولري، او د ټولو قیادت وکړي، منطقوي قیادتونو ته امام او امیر المؤمنین نه ویل کیږي.

د مسلمانانو د اړتیا سره سم د هرې سیمې (هېواد) لپاره د مستقل حاکم د ټاکلو د جواز سره مخالف نه یم، او د دې سره هم موافق یم چې په هره سیمه کې دې د هغه ټول هغه احکام نافذ وي چې د شریعت سره برابر دي، خو دوی خلفاء او امامان نه ګڼل کیږي، بلکه دې زمانې ته د امامت د انقطاع زمانه ویل کیږي چې تفصیلات یې په همدې کتاب کې امام الحرمین وروسته ذکر کړي دي.

او بیا چې کله امام وټاکل شو نو په اسلامي نړۍ کې د موجودو هېوادونو د حکامو مسؤولیت دا دی چې امام او خلیفه ته تسلیم شي، او هره هغه فیصله ومني چې د دوی په اړه یې کوي او ګټوره یې بولي.

د امام الحرمین جویني لنډه خبره دا ده چې که مسلمانان د داسې یو حالت سره مخ شول لکه اوس چې اسلامي نړۍ ورسره مخ ده، چې د یو متفق علیه امام ټاکل ګران دي، او اسلامي نړۍ په وړو وړو هېوادونو ویشل شوی ده، نو هر هېواد او سیمه باید د خپل ځان لپاره یو حاکم وټاکي، خو په دوی کې هیڅوک هم د امام او خلیفه حیثیت نه لري، او کوښښ باید ادامه پیدا کړي چې د اسلامي امت لپاره یو موحد او متفق علیه قیادت رامنځته کړی شي، او کله چې داسې متفق علیه قیادت رامنځته شو نو دا ټول واکداران او حاکمان باید هغه ته تسلیم شي او د هغه فیصله ومني[50].

په دې زمانه کې به دا متفق علیه قیادت څه ډول وي، د دې زمانې زیات مفکرین په دې نظر دي چې په امامت او خلافت کې هغه اهداف مهم دي چې له امله یې دا رامنځته کیږي، او په دې اهدافو کې د اسلامي امت یووالی، د اسلامي امت د ګټو څخه دفاع، اسلامي امت د خلکو د ظلمونو او تیریو څخه محفوظول او د اسلامي امت آزادي او د استعمار څخه محفوظ ساتل بنسټیز حیثیت لري.

د دې اهدافو د لاسته راوړلو لپاره اسلامي امت اړتیا لري چې یو متفق علیه قیادت ولري، اوس د دې شکل مهم نه دی، بلکې کېدلی شي چې دا یو جمعي قیادت وي، او یوه داسې اداره رامنځته کړی شي چې په هغه کې دفاع، پولي واحد او

---

50 - د دې لپاره وګورئ: «غیاث الأمم في التیاث الظلم» یا الغیاثي اوم باب «في منع نصب امامین» ص ۱۷۲ تحقیق: دکتور عبد العظیم الدیب، د چاپ کال ۱۴۰۱هـ، همدا یې ښکلې تحقیق دی، هغه بل تحقیق چې د. مصطفی حلمي او فؤاد عبد المنعم کړی هغه اصلا تحقیق نه دی، د امام الحرمین د عبارتونو مفهوم راخیستل شوی دی.

داسې نور مشترک وي، او د هغه ادارې د قيادت لپاره جدي قوانين وټاکل شي، په دې اړه بېلا بېلې طرحې وجود لري چې اوس زموږ د بحث موضوع نه ده[51].

**اړيکې د چا سره؟**

مخکې مو چې کوم سوال مطرح کړی وه چې اسلامي امارت بايد د چا سره اړيکې ولري، نو هلته بحث وشو چې هېوادونه په څو ډول دي؟ او ايا نړۍ اوس هم يوازې په دار الحرب او دار الاسلام ويشلی شو؟ او بيا دا سوال هم بحث شو چې آيا په يو وخت کې څو اسلامي هېوادونه شتون درلودلی شي؟ چې د مسلمان او مسلمان هېواد ترمنځ د اړيکو سوال مطرح شي؟ د تير بحث په نتيجه کې بايد ووايو چې هغه هېوادونه چې د اسلام له نظره په نړۍ کې وجود درلودلی شي په لاندې ډولونو ويشلی شو:

لومړی: اسلامي هېوادونه چې ټول د دار الاسلام برخې دي، مثالي حالت خو نه دی مگر د يو واقعيت په حيث ورسره تعامل اړين دی، همدا د معتمدو فقهاو نظر دی.

دويم: هغه غير مسلمانو هېوادونو سره چې د اسلامي نړۍ سره په جنگ کې قرار لري، د دوی سره بايد اړيکې د جنگ او پريکون وي.

درېم: هغه غير مسلمان هېوادونه چې د دار الحرب (دار الکفر) برخه ده خو د مسلمانانو سره تعهدات او تړونونه لري، چې په اوسنۍ نړۍ کې تقريبا ټول غير مسلمان هېوادونه (د اسرائيلو څخه پرته) د مسلمانو هېوادونو سره اړيکي او تړونونه لري.

څلورم: هغه غير مسلمان هېوادونه چې نه د مسلمانانو سره په جنگ کې واقع دي او نه هم د مسلمانانو سره کوم تړون او تعهد لري، دا ډول هېوادونه به شاذ او نادر پيدا شي.

**لومړی: د اسلامي هېوادونو ترمنځ خپلمنځي اړيکې**

د اسلامي هېوادونو سره په خپلو کې اړيکې د نورو هېوادونو د اړيکو سره توپير په دې لري چې اصل خو دا وه چې د اسلامي نړۍ ټول هېوادونه د يو قيادت لاندې وی، او اصلا دا اختلاف او تعدد موجود نه وی، خو سره له دې چې د انقسام دا حالت شرعا درست نه دی، او د اسلامي امت د وحدت لپاره بايد کار وشي، او دا هېوادونه د يو قيادت لاندې راټول کړی شي، او دا وحدت د معاصرو مسلمانو مفکرينو له نظره متعدد اشکال درلودلی شي، نو دا وحدت خو اصل دی، ځکه که مسلمانان د يو قائد امت په حيث په نړۍ کې رول لوبول غواړي چې همدا د دې امت منصب دی، الله تعالی فرمايي: **{وَكَذَٰلِكَ جَعَلْنَاكُمْ أُمَّةً وَسَطًا لِتَكُونُوا شُهَدَاءَ عَلَى النَّاسِ} [البقرة: 143]** نو اړينه ده چې د يو واحد، يو موټي او قوي امت په حيث را دمخه شي، مگر د دې سره د فقهاو د تصريحاتو سره سم مو لکه مخکې چې ولوستل اسلام د مسلمانانو د مصالحو او گټو د ساتلو لپاره د دې تنوع او تعدد د حالت سره هم د يو واقعيت په حيث تعامل کوي.

خو د دی هېوادونو سره تعامل او اړيکې د غير مسلمانو هېوادونو سره متفاوتې دي، ځکه له دې اړيکو څخه د اسلام هدف د نورو گټو تر څنگ چې د بحث په پيل کې ورته اشاره وشوه يوه بنسټيزه موخه د اسلامي امت وحدت ته رسېدل دي، له دې امله دلته د هغه لارښوونکو اصولو يادونه اړينه بولم چې د مسلمانو هېوادونو سره په اړيکو کې بايد رعايت شي:

51 - په دې اړه شيخ محمد ابو زهرة کتاب الوحدة الاسلامية د لوستلو وړ دی. همدا راز په ترکيه کې يو تحقيقي مرکز دی چې په دې اړه يې تفصيلي ليکنې کړي او سيمينارونه يې جوړ کړي دي، د مرکز نوم (ASSAM) دی او لاندې يې د ويب پاڼې لينک دی (www.assam.org.tr)

### لومړی: اسلامي اخوت

اسلامي ورورولي يو هغه اصل دی چې د مسلمانو هېوادونو سره په اړيکو کې بايد رعايت شي، الله تعالی فرمايي: **{إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ إِخْوَةٌ}** **[الحجرات: 10]** مؤمنان سره ورونه دي. د افرادو په حيث هم ورونه دي او د هېوادونو او تجمعاتو په حيث هم.

دا ورورولي خپل حقوق او واجبات لري، چې د رسول الله صلی الله عليه وسلم په احاديثو او ارشاداتو او لارښوونو کې ډېر په تفصيل سره بيان شوي دي، او يو لړ ارشادات خو يې داسې معلوميږي چې ګويا د هېواد او هېواد ترمنځ اړيکو لپاره يې کړي وي، د بيلګې په توګه دا احاديث په لاندې ډول دي:

يو هېواد به د بل هېواد حق نه خوري، ځمکه، اوبه او بل کوم ملکيت به يې نه لاندې کوي مګر دا چې هغه بل هېواد ورته په خپله خوښه اجازه وکړي.

يو به پر بل ظلم نه کوي، نه به هېواد په هېواد ظلم کوي، او نه به يو هېواد د بل هېواد په رعيت ظلم کوي.

يو د بل پر ضد به جنګ نه کوي، شخړې او مشکلات به د خبرو اترو له لارې هواروي.

په دې اړه رسو الله صلی الله عليه وسلم فرمايي: «إِنَّ كُلَّ مُسْلِمٍ أَخُو الْمُسْلِمِ، الْمُسْلِمُونَ إِخْوَةٌ، وَلَا يَحِلُّ لَامْرِئٍ مِنْ مَالِ أَخِيهِ إِلَّا مَا أَعْطَاهُ عَنْ طِيبِ نَفْسٍ، وَلَا تَظْلِمُوا وَلَا تَرْجِعُوا بَعْدِي كُفَّارًا يَضْرِبُ بَعْضُكُمْ رِقَابَ بَعْضٍ»[52]. هر مسلمان د بل مسلمان ورور دی، او مسلمانان سره ورونه دي، او هيڅ انسان ته دا حلال نه دي چې د خپل ورور مال وخوري مګر هغه چې ورته يې په خپله خوښه ورکړي، يو پر بل ظلم مه کوئ، او له ما وروسته د کفر عمل مه کوئ چې يو د بل ګردنونه وهئ (په خپلو کې جنګونه کوئ او يو بل وژنئ).

د خپلو اړيکو په اړه بايد د هغه جهت خبره ونه مني چې د دوی اړيکې خرابول غواړي.

په دې اړه رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي:«الْمُسْلِمُ أَخُو الْمُسْلِمِ , يَسَعُهُمَا الْمَاءُ وَالشَّجَرُ وَيَتَعَاوَنَانِ عَلَى الْفَتَّانِ - أَوِ الْفُتَّانِ» الْفَتَّانُ: الشَّيْطَانُ وَالْفُتَّانُ: الشَّيَاطِينُ"[53]. مسلمان د مسلمان ورور دی، دواړو د اوبو او بوټو (مشاع مال) څخه استفاده کولی شي، او بايد چې د شيطان او يا شيطانانو پر ضد يو د بل سره همکاري وکړي.

د ليدنو کتنو پر وخت ښه تعامل، او ښه روغبړ.

که يو مسلمان هېواد د بل څخه مشوره وغواړي د خير څخه ډکه مشوره به ورکوي.

که د غير مسلمان هېواد پر ضد ترې مرسته وغواړي مرسته به ورسره کوي، خو د مسلمان پر ضد به ورسره مرسته نه کوي.

که د غير مسلمانو پر ضد ترې وسائل عارية وغواړي ورسره دې همکاري وکړي مګر د مسلمان پر ضد نه.

يو مسلمان هېواد به بل مسلمان هېواد د عادي وړو وړو همکاريو څخه نه محروموي.

په دې اړه رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي: «إِنَّ الْمُسْلِمَ أَخُو الْمُسْلِمِ، إِذَا لَقِيَهُ رَدَّ عَلَيْهِ مِنَ السَّلَامِ بِمِثْلِ مَا حَيَّاهُ بِهِ أَوْ أَحْسَنَ مِنْ ذَلِكَ، وَإِذَا أَسْتَأْمَرَهُ نَصَحَ لَهُ، وَإِذَا اسْتَنْصَرَهُ عَلَى الْأَعْدَاءِ نَصَرَهُ، وَإِذَا اسْتَنْعَتَهُ قَصْدَ السَّبِيلِ يَسَّرَهُ وَنَعَتَ لَهُ، وَإِذَا اسْتَعَارَهُ الْحَدِيدَ عَلَى الْعَدُوِّ أَعَارَهُ، وَإِذَا اسْتَعَارَهُ الْحَدِيدَ عَلَى الْمُسْلِمِ لَمْ يُعِرْهُ، وَإِذَا اسْتَعَارَهُ الْجُنَّةَ أَعَارَهُ، وَلَا يَمْنَعُهُ الْمَاعُونَ»[54].

52 - الاعتقاد والهداية إلى سبيل الرشاد على مذهب السلف وأصحاب الحديث، المؤلف: أحمد بن الحسين بن علي بن موسى الخُسْرَوْجِردي الخراساني، أبو بكر البيهقي (المتوفى: 458هـ)، المحقق: أحمد عصام الكاتب، الناشر: دار الآفاق الجديدة – بيروت، الطبعة: الأولى، 1401هـ.

53 - الأموال لابن زنجويه، المؤلف: أبو أحمد حميد بن مخلد بن قتيبة بن عبد الله الخرساني المعروف بابن زنجويه (المتوفى: 251هـ)، تحقيق الدكتور: شاكر ذيب فياض الأستاذ المساعد - بجامعة الملك سعود، الناشر: مركز الملك فيصل للبحوث والدراسات الإسلامية، السعودية، الطبعة: الأولى، 1406 هـ - 1986 م.

مسلمان د مسلمان ورور دی، کله چې سره ملاقات کوی په څه شکل یې چې ورته سلام کړی وه، په هماغه شکل دی د سلام ځواب ورکړي او یا دې د هغه څخه هم غوره جواب ورکړي، که یې ترې مشوره وغوښته نو د خیر مشوره دې ورکړي، که د دښمن پر ضد یې ترې مرسته وغوښته مرسته دې ورسره وکړي (مګر دا چې د هغه بل غیر مسلمان هېواد سره د دې تړون وه لکه په سورت انفال کې چې ذکر شوی دی) که د لارې په اړه یې ترې پوښتنه وکړه نو لاره دې ورته وښايي او اسان دې یې کړي ورته، که د دښمن پر ضد یې ترې وسله عارية وغوښته ور دې یې کړي، او که د مسلمان پر ضد یې ترې وغوښته نه دې یې ورکوي، که سپر یې ترې وغوښته نو ور دې یې کړي، عادي همکارۍ دې ترې نه سپموي.

دښمن ته به یې تنها او ځان ته نه پرېږدي.

هر مسلمان هېواد به د بل مسلمان هېواد د حاجتونو د پوره کولو هڅه او کوښښ کوي.

که په یو مسلمان هېواد مشکل وخت راشي نو د مشکل په رفع کولو کې باید همکاري او مرسته وکړي.

هیڅ مسلمان هېواد باید د بل مسلمان هېواد مشکلات او اسرار بل چا ته ښکاره نه کړي.

په دې اړه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي: «المُسْلِمُ أَخُو المُسْلِمِ لاَ يَظْلِمُهُ وَلاَ يُسْلِمُهُ، وَمَنْ كَانَ فِي حَاجَةِ أَخِيهِ كَانَ اللَّهُ فِي حَاجَتِهِ، وَمَنْ فَرَّجَ عَنْ مُسْلِمٍ كُرْبَةً، فَرَّجَ اللَّهُ عَنْهُ كُرْبَةً مِنْ كُرُبَاتِ يَوْمِ القِيَامَةِ، وَمَنْ سَتَرَ مُسْلِمًا سَتَرَهُ اللَّهُ يَوْمَ القِيَامَةِ»[55].

مسلمان د مسلمان ورور دی، نه پرې ظلم کوي، نه یې دښمن ته سپاري (په بل روایت کې د خذلان لفظ راغلی) څوک چې د اړتیا په وخت کې د خپل ورور سره مرسته کوي الله تعالی به د هغه سره مرسته وکړي، او چا چې د مسلمان څخه یو مصيبت لیرې کړ، الله تعالی به ترې د قیامت د ورځې د مصیبتونو څخه یو لوی مصيبت لیری کړي، او چا چې پر مسلمان پرده واچوله الله تعالی به په د قیامت په ورځ پرده واچوي.

دا حقوق او واجبات چې د اسلامي اخوت پر بنسټ د مسلمانو هیوادونو پر غاړه پراته دي ډېر زیات دي، او په تفصيل سره په احادیثو کې ذکر شوي دي، چې دلته یې په تفصيل سره بیانول ممکن نه دي، د اسلامي اخوت پر بنسټ د اسلامي هېوادونو مسؤولیتونه، حقوق او واجبات یوه داسې موضوع ده چې باید مستقلې لیکنې پرې وشي، او دا ټول حقوق، واجبات او مسؤولیتونه باید د مسلمانو هېوادونو تر منځ په خپلمنځي اړیکو کې د دواړو لورو له خوا رعایت شي.

**دویم: د اسلامي هېوادونو ترمنځ دوستي**

یو د هغه اصولو څخه چې قرآن کریم د مسلمانانو ترمنځ د اړیکو لپاره وضع کړی دی، هغه د مسلمانانو ترمنځ د دوستۍ اصل دی، په دې اړه قرآن کریم فرمايي: **{إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَهَاجَرُوا وَجَاهَدُوا بِأَمْوَالِهِمْ وَأَنْفُسِهِمْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَالَّذِينَ آوَوْا وَنَصَرُوا أُولَئِكَ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاءُ بَعْضٍ وَالَّذِينَ آمَنُوا وَلَمْ يُهَاجِرُوا مَا لَكُمْ مِنْ وَلَايَتِهِمْ مِنْ شَيْءٍ حَتَّى يُهَاجِرُوا وَإِنِ اسْتَنْصَرُوكُمْ فِي الدِّينِ فَعَلَيْكُمُ النَّصْرُ إِلَّا عَلَى قَوْمٍ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهُمْ مِيثَاقٌ وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ (72) وَالَّذِينَ كَفَرُوا بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاءُ بَعْضٍ إِلَّا تَفْعَلُوهُ تَكُنْ فِتْنَةٌ فِي الْأَرْضِ وَفَسَادٌ كَبِيرٌ} [الأنفال: 72، 73].**

هغه خلک چې ایمان یې راوړی او هجرت یې کړی، او په خپل مالونو ځانونو یې د الله په لار کې جهاد کړی، او هغه

54 - الآداب، المؤلف: أحمد بن الحسين بن علي بن موسى الخُسْرَوْجِردي الخراساني، أبو بكر البيهقي (المتوفى: 458هـ)، اعتنى به وعلق عليه: أبو عبد الله السعيد المندوه، الناشر: مؤسسة الكتب الثقافية، بيروت – لبنان، الطبعة: الأولى، 1408 هـ - 1988 م

55 - الجامع المسند الصحيح المختصر من أمور رسول الله صلى الله عليه وسلم وسننه وأيامه (صحيح البخاري) المؤلف: محمد بن إسماعيل أبو عبدالله البخاري الجعفي، المحقق: محمد زهير بن ناصر الناصر، الناشر: دار طوق النجاة (مصورة عن السلطانية بإضافة ترقيم ترقيم محمد فؤاد عبد الباقي) الطبعة: الأولى، 1422هـ.

خلک چې (مهاجرینو ته یې) ځای ورکړی او مرسته یې (ورسره) کړی، یو د بل دوستان دي، او هغه خلک چې ایمان خو یې راوړی مگر هجرت یې نه دی کړی، هغوی ستاسې دوستان نه دي تر دې چې هجرت وکړي، خو که د دین په اړه یې له تاسې څخه مرسته وغوښته نو مرسته پر تاسې لازمه ده، مگر د داسې چا په مقابل کې نه چې ستاسې او د هغوی ترمنځ تړون وي، او الله تعالی په هغه څه چې تاسې یې عالم دی، او هغه خلک چې کافر دي یو د بل دوستان دي، که دا کار تاسې ونه کړئ نو په ځمکه کې به لویه فتنه او لوی فساد جوړ شي.

د ولایت لفظ سره له دې چې په عامه توگه د دوستۍ په معنی اخیستل کیږي او په ترجمه کې هم ورته همدا لفظ استعمالیږي، خو په دې لفظ کې د حمایت، مدد، همکارۍ، دوستۍ، تر شا درېدل، خپلوۍ او سرپرستۍ معناگانې پرتې دي، بلکې هر ډول نږدې والی افاده کوي، په دې اړه مولانا راغب اصفهاني وایي: «الوَلَاءُ والتَّوَالِي: أن يَحْصُلَ شيئان فصاعدا حصولا ليس بينهما ما ليس منهما، ويستعار ذلك للقرب من حيث المكان، ومن حيث النّسبة، ومن حيث الدّين، ومن حيث الصّداقة والنّصرة والاعتقاد، والوِلَايَةُ النُّصْرةُ»[56].

د ولاء او توالي معنی دا ده چې دوه شیان په داسې پرله پسې توگه وجود ومومي چې په منځ کې یې کوم بل شی وجود و نه لري، دا خو د دې لفظ اصلي معنی ده، خو بیا وروسته د د نږدې والي په معنی کې استعارة استعمال شوی دی، دا نږدې والی که د مکان او محل په لحاظ وي، که د نسبت په لحاظ وي، که د دین په لحاظ وي، که د دوستۍ، مرستې، همکارۍ، نصرت او عقیدې په لحاظ وي، او د الولایة معنی نصرت او مرسته ده.

کله چې د ولاء او ولایة په معنی کې دا ټولې معناگانې شاملې دي، او د مسلمانو هېوادونو ترمنځ اړیکه د ولاء او ولایت اړیکه ده، نو د دې مسلمانو هېوادونو ترمنځ باید دا ټول مسؤولیتونه په نظر کې ونیول شي، یوازې دې ته متوجه کېدل پکار دي چې مسلمان که د کافر هېواد سره هم تړون درلود د یو مسلمان هېواد سره به د هغه پر ضد مرسته نه کوي، که اړتیا وه او مرسته شرعا اړینه وه، نو بیا شرعي حکم دا دی چې په ښکاره باندې دې د تړون د الغاء اعلان وکړي او بیا دې د مسلمان هېواد سره و دریږي، ځکه اسلام په مردانگۍ ایمان لري، منافقت او خیانت هیڅکله هم نه خوښوي، ولو که هغه ته څوک د سیاست نوم هم ورکړي، الله تعالی فرمایي: **{وَإِمَّا تَخَافَنَّ مِنْ قَوْمٍ خِيَانَةً فَانْبِذْ إِلَيْهِمْ عَلَى سَوَاءٍ إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ الْخَائِنِينَ} [الأنفال: 58].** که د کوم قوم د خیانت خطر دې محسوس کړ، نو تړون یې ورته په بشپړ ډول ورگذار کړه، (خیانت مه کوه ځکه) الله تعالی خائنان نه خوښوي.

دا اصولو یوازې د اسلامي هېوادونو ترمنځ د خپل منځي اړیکو لپاره دي، په دې کې نور هېوادونه ورسره شریک نه دي، مگر هغه عام اصول چې وروسته یې د عامو بهرنیو اړیکو لپاره یادونه کیږي هغه اصول بیا د ټولو لپاره دي، مسلمان هېواد وي او که کافر، ټول په کې شریک دي.

**دویم: د غیر مسلمانو هېوادونو سره اړیکې**

په غیر مسلمانو هېوادونو کې موږ مخکې وویل چې درې ډوله هېوادونه شامل دي، او د هر یو حکم جدا دی، چې تفصیل یې په لاندې ډول دی:

56 - المفردات في غريب القرآن، المؤلف: أبو القاسم الحسين بن محمد المعروف بالراغب الأصفهانى (المتوفى: 502هـ) المحقق: صفوان عدنان الداودي، الناشر: دار القلم، الدار الشامية - دمشق بيروت، الطبعة: الأولى - 1412 هـ.

**لومړی: محارب کافر هېوادونه**

د محارب کافرو هېوادونو څخه هغه هېوادونه مراد دي چې بالفعل د مسلمانو هېوادونو سره په جنګ اخته وي، له دې څخه مطلق دار الحرب مراد نه دی چې هغه د دار الکفر سره مرادف دی، په اوسنۍ نړۍ کې دا ډول کفري هېوادونه اوس شاید د صهیونیستي دولت څخه پرته وجود ونه لري، د دوی سره اړیکې به د جنګ اړیکې وي، چې تفصیلات یې د فقهې په کتابونو کې د (کتاب الجهاد) او یا هم د (کتاب السیر) تر عنوانونو لاندې ذکر شوي دي، چې دلته یې د یادونې مجال نشته، او د دوی سره د تعامل بنسټ په هغه ایتونو دی چې په سورت براءه، سورت محمد، سورت انفال وغیره کې ذکر شوي دي، د قرآن کریم خلاصه فیصله د دوی په اړه دا ده چې فرمايي: { **لَا يَنْهَاكُمُ اللَّهُ عَنِ الَّذِينَ لَمْ يُقَاتِلُوكُمْ فِي الدِّينِ وَلَمْ يُخْرِجُوكُمْ مِنْ دِيَارِكُمْ أَنْ تَبَرُّوهُمْ وَتُقْسِطُوا إِلَيْهِمْ إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُقْسِطِينَ (8) إِنَّمَا يَنْهَاكُمُ اللَّهُ عَنِ الَّذِينَ قَاتَلُوكُمْ فِي الدِّينِ وَأَخْرَجُوكُمْ مِنْ دِيَارِكُمْ وَظَاهَرُوا عَلَى إِخْرَاجِكُمْ أَنْ تَوَلَّوْهُمْ وَمَنْ يَتَوَلَّهُمْ فَأُولَئِكَ هُمُ الظَّالِمُونَ} [الممتحنة: 8، 9].**

په دې دوو مبارکو ایتونو کې الله متعال دوه ډوله کافر سره جدا کړي دي، یو ډول هغه کافران دي چې د مسلمانانو سره په جنګ نه دي، او نه یې پرې ظلم کړی، د هغوی په اړه د نیکۍ د معاملې سپارښتنه شوې ده، او دویم محارب کافران دي، د هغوی سره د دوستۍ معامله درسته نه ده، بلکې د مسلمانانو د دښمن سره د دوستۍ معامله ظلم دی، که دا ایتونه یوازې په هغه سیاق کې را خلاصه نه کړو چې مفسرینو د سبب نزول په شکل کې ذکر کړی دی، او د لفظ عموم ته یې وګورو لکه چې د مفسرینو قاعده چې وايي (العبرة بعموم اللفظ لا بخصوص السبب) نو د محارب او د مسلمانانو سره په جنګ کې د اخته کافر سره د مسلمان تعامل او د یو داسې کافر سره د مسلمان تعامل چې د مسلمانانو پر ضد په جنګ کې اخته نه وي دواړه تفاوت لري، او هغه تعامل چې د محارب دښمن سره باید وشي د هغه تفصیلات لکه مخکې مو چې وویل د فقهې د کتابونو په ابواب الجهاد او ابواب السیر کې باید ولیدل شي.

**دویم: هغه هېوادونه چې نه محارب دي او نه معاهد**

هغه هېوادونه چې نه د مسلمانانو سره په جنګ کې ښکیل وي، او نه ورسره تړون ولري، د دوی سره به د مسلمانو هېوادونو تعامل څرنګه وي، په دې اړه د علماو ترمنځ اختلاف نظر وجود لري، او دا اختلاف نظر په دې قضیه کې د علماو په اختلاف ولاړ دی چې د غیر مسلمانانو سره د اسلام د اړیکو بنسټ په جنګ ولاړ دی او که په سوله، په دې معنی چې ایا مستمر او عادي حالت دا دی چې مسلمانان به د کفارو سره په جنګ کې وي، او جهاد بې له کوم لامل څخه لکه د لمانځه او روژې یو دوامداره او مستمر فرض دی؟ هر کله چې مسلمان هېواد قوت پیدا کړي نو باید په غیر مسلمان هېواد حمله وکړي؟ او که عادي او مستمر حالت دا دې چې مسلمانان د غیر مسلمانانو سره په سوله او امنیت کې اوسیږي، خو کله که د جنګ اړتیا شوه بیا جنګ کوي، یعنې کله که غیر مسلم هېواد د اسلامي دعوت مخه ونیوله، د اسلامي هېواد لپاره یې مشکلات ایجادول او یا کوم بل لامل وجود درلود چې په نتیجه کې یې علماو د جهاد فتوی ورکړه نو بیا جهاد لازمیږي، په دې اړه د علماو دوه نظرونه دي.

**لومړی نظر: د داسې هېوادونو سره د اړیکو مستمر حالت جنګ دی**

لومړی نظر چې پخوانیو ډېرو فقهاو ته یې نسبت کېږي دا دی چې د مسلمانانو او غیر مسلمانانو ترمنځ د اړیکو بنسټ پر جنګ ولاړ دی، کفارو ته باید اسلام او یا د جزیې وړاندیز وشي او کله یې چې د دواړو څخه یو پشنهاد هم ونه مانه نو بیا باید جنګ ورسره وشي، که مسلمانان ځواک ولري نو د غیر مسلمانو سره باید هیڅ ډول متارکه و نه شي، ځکه دا د جهاد د له

منځه تللو لامل ګرځي، له دې ځخه یو شمېر علماء په جهاد الطلب هم تعبیر کوي، هدف یې دا دی چې مسلمان باید د جنګ لپاره د کفارو پسې ورشي او حمله پرې وکړي، تر دې چې یو شمېر پخوانیو لیکوالانو دا هم لیکلي دي چې په کال کې یو ځل غزا کول فرض دي، ځکه پخپله د کفر وجود د جهاد فرضیت لامل دی، دوی د خپل نظر لپاره د هغه ټولو قرآني آیتونو او نبوي احادیثو ځخه استدلال کوي چې د کفارو پر ضد د جنګ حکم په کې راغلی دی، په معاصرو علماو کې د نورو ترځنګ همدا د استاذ مودودي او استاذ سید قطب نظر هم دی[57].

**دویم نظر: د غیر مسلمانو سره د مسلمانانو د اړیکو بنسټ سوله ده**

یو شمېر پخواني او معاصر علماء په دې نظر دي چې د مسلمانانو او غیر مسلمانانو ترمنځ د اړیکو بنسټ پر سوله اینبودل شوی دی، دا په معاصرو علماو کې د شیخ عبد الوهاب خلاف، د استاذ عبد الرحمن عزام، د شیخ عبد الله دراز، د شیخ محمد ابو زهرة، د شیخ محمد شلتوت، د محمد سلام مدکور او د وهبة الزحیلي نظر دی، د دوی نظر دا دی چې تر څو د نورو له لورې تیری نه وي شوی تر هغه وخت پورې جهاد نه فرض کېږي، دې ته جهاد الدفع هم ویل شوی دی، یعنې جهاد د نورو د تجاوز او تیري د دفع کولو لپاره فرض کړی شوی دی، او استدلال یې د هغه نصوصو ځخه دی چې په سوله باندې تأکید کوي، دا نصوص ډېر زیات دي، دلته یې نقلول د طوالت لامل ګرځي، په دې نظر باندې استاذ سید قطب شدید نقد کړی دی[58].

**دریم نظر: جهاد د ضرورت او اړتیا په وخت کې**

د غیر مسلمانو سره د اسلام اړیکې یقینا په سوله ولاړې دي، خو جهاد نه په «جهاد الدفع» کې راخلاصه کېږي او نه په «جهاد الطلب» کې، بلکې جهاد یوه وسیله ده، چې د نورو وسائلو په څېر د اسلام ځخه د حفاظت او د اسلامي امت د عزت ځخه د دفاع لپاره ترې استفاده کېږي، او هره وسیله هغه وخت د استفادې وړ وي چې هلته بله وسیله کار ور نه کړي، نو که اسلام په یو لړ حالاتو کې جهاد الطلب ته اړتیا پیدا کړي او د وخت علماء یې فتوا ورکړي جهاد باید په لاره واچول شي، او که جهاد الدفع ته اړتیا پیدا شي نو هلته هم باید د جهاد ځخه استفاده وشي، د دې علماو له نظره جهاد د یوې وسیلې په حیث فرض دی، مقصود بالذات نه دی، او په اصول فقه کې له دې ځخه په حسن لغیره تعبیر کېږي، یعنې هغه عمل چې لذاته خو مطلوب او حسن نه دی، مګر د بل لوی هدف له امله حسن دی[59] چې هغه د اسلام او اسلامي امت عزت او برم ساتل دي، او په دې ډول اعمالو کې قاعده دا ده چې که اړتیا وه سرته رسېږي او که اړتیا نه وه لذاته مطلوب کار نه دی.

همدا شیخ کمال ابن الهمام او ابن امیر الحاج وایي: «ان ما حسن لعینه لا یسقط الا بالاداء او اسقاط من الشارع فیما یحتمل الاسقاط وما حسن لغیره یسقط بحصول ما قصد به فعل ذلك الفعل أو بسقوط ما قصد به، والله سبحانه اعلم»[60]. کوم عمل چې حسن لعینه وي هغه له اداء او د شریعت له ساقطولو (هغه چې د ساقطېدلو احتمال ولري) پرته د انسان له ذمې نه ساقطیږي، او کوم عمل چې حسن لغیره دی نو هغه، هغه وخت ساقطیږي چې مقصود به نتیجه لاسته راشي، او یا هغه

57 - د فقهاو د تصریحاتو او دلائلو لپاره وګورئ: أصول العلاقات الدولية في فقه الإمام محمد بن الحسن الشيباني ج1 ص398- ۴۱۵، د عثمان جمعه ضميرية د دکتوراه رساله، چاپ دار المعالي، عمان، صويلح، اردن، لومړی چاپ ۱۹۹۹م.
58 - تفصیل لپاره وګورئ همدا تیر مرجع ج ۱ ص ۴۱۶ او له هغې وروسته، د دې ترځنګ، العلاقات الدولية فی الاسلام (الجزء الأول) المقدمة العامة للمشروع (مشروع العلاقات الدولية فی الاسلام) د المعهد العالمي للفكر الاسلامي مشروع، د مشروع مشرف عام: أ.د. نادية مصطفی، په دې مجلد کې د دکتور احمد عبد الونيس شتا بحث، چې عنوان یې دی: (الأساس الشرعي والمبادئ الحاكمة للعلاقات الخارجية للدولة الإسلامية) ج 1 ص 131 – ۱۷۱.
59 - دا خبره خو د اصول فقه په ټولو کتابونو کې شته خو د بیلګې په توګه وګورئ: التقرير والتحرير في علم الأصول (2/ 137)، ابن أمير الحاج (سنة الولادة / سنة الوفاة 879هـ.) الناشر: دار الفكر، سنة النشر 1417هـ - 1996م. مكان النشر بيروت.
60 - التقرير والتحبير (2/ 139) همدا مخکینی مصدر.

څه ساقط شي چې له دې څخه مطلوب ؤ. نو جهاد چې کله حسن لغيره شو، دا تر هغه ساقط دی چې د اسلام غلبې ورته اړتيا نه وي پيدا کړي.

دا نظر هغه ټولو نصوصو ته په کتو يو شمېر علماو غوره کړی دی چې د جهاد او سولې په اړه په قرآن کريم او احاديثو کې راغلي دي، دوي وايي: له دې نصوصو څخه يو ډول هم منسوخ نه دي، بلکې د قتال نصوص په خپل محمل حمل دي، او د سولې نصوص په خپل محمل حمل دي، د هر يو محمل هغه حالات دي چې هغه ورسره مناسبت ولري. او همدا درست نظر هم دی[61].

نو کله چې د هغه هېوادونو سره نه د اسلامي امت سره په جنگ کې ښکيل دي او نه ورسره تړونونه لري دائمي حالت د سولې حالت دی، او جنگ د اړتيا په وخت کې غير عادي حالت دی، نو د دې سولې د ساتلو لپاره هم اسلامي هېوادونه بايد د دې ډول هېوادونو سره اړيکې ولري، خو په نړۍ کې فکر نه کوم چې اوس دې داسې کوم هېواد وجود ولري، ځکه ټول هېوادونه يو د بل سره په تړونونو کې ګډون لري په ځانګړې توګه هغه تړونونه چې د نړۍ هېوادنه يې د ملګرو ملتونو په چوکاټ کې غړيتوب لري.

**درېيم: هغه هېوادونه چې اسلامي نړې ورسره اړيکې لري**

درېيم ډول غير مسلمان هېوادونه هغه دي چې مسلمانان ورسره تړونونه او تعهدات لري، د دوی سره هم د هغه تړونونو په دائره کې اړيکې درلودل د شريعت غوښتنه ده، اوس دا خبره چې ايا مسلمانان د غير مسلمانو هېوادونو سره تړونونه درلودلی شي او که نه؟ په دې اړه خو يو شمېر فقهاء په دې نظر دي چې مسلمانانو ته په هغه حالت کې چې د جهاد توان ولري د غير مسلمانو سره تړونونه امضاء کول روا نه دي، او د دوی منطلق هماغه دی چې مخکې مو ورته اشاره درلوده چې د مسلمانانو د اړيکو بنسټ د غير مسلمانو سره په جنگ باندې ولاړ دی، نو چې اصل جنگ شو نو تعهدات او تړونونه د دې سره متعارض دي نو ناروا يې بللي دي، يوازې په يو حالت کې يې روا بللي چې مسلمانان د ضعف په حالت کې وي، او کله يې چې قوت پيدا کړ نو دا تړونونه بيا ماتول پکار دي، او په صراحت سره د تړونونو د ماتولو پرته پر چا حمله هم ناروا ګڼي.

يو شمېر نور دا تړونونه د هېوادونو لپاره د کفر او اسلام مدار ګرځوي، او هر مسلمان هېواد چې د کوم غير مسلمان هېواد او يا ادارې سره کوم تړون لاسليک کړي هغه د دوی له نظره د کفارو سره د ولاء په معنی دی، او هغه د هغوی له نظره د اسلام د نواقضو څخه يو ناقض دی، دا ډول سطحي او د فقاهت څخه ليرې نظرونه د اسلام د درست دريځ تمثيل نه کوي.

د دې ډول تړونونو چې محتوا يې د عقېدې سره په ټکر کې نه وي، مطلق تړون درلودل، يا د جنگ نه کولو تړون درلودل نه د ايمان د نواقضو څخه ده او نه کوم ناروا کار دی، بلکې درسته خبره دا ده چې دا قضيه په مصالحو او مفاسدو ولاړ اجتهاد ته پرېښودل شوی ده، کله که د مسلمانانو مصلحت او ګټې دا ايجاب کړي چې د کفارو سره تړون ولري، د هغوی سره تعهد وکړي نو دا کار ورته روا دی، او که کله يې مصلحت ايجاب نه کړي نو هغه تړون له منځه هم وړلی شي، خو شرط به يې دا وي چې په ښکاره ډول بايد د هغه تړون څخه ووځي، ځکه اسلام منافقت نه خوښوي، ټول تعامل يې په مردانګۍ ولاړ دی، الله تعالی فرمايي: **{وَإِمَّا تَخَافَنَّ مِنْ قَوْمٍ خِيَانَةً فَانْبِذْ إِلَيْهِمْ عَلَى سَوَاءٍ إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ الْخَائِنِينَ} [الأنفال: 58]**، د

61 - د دې د تفصيل لپاره وګورئ: فقه الجهاد، د جهاد په اړه د شيخ يوسف القرضاوي موسوعي کتاب ج ۱ ص ۴۲۸، (الباب الرابع: أهداف الجهاد القتالي في الإسلام) (الفصل الأول: رغبة الإسلام في السلم وكراهيته للحرب) و (الفصل الثاني: أهداف القتال في الإسلام) د مكتبة وهبة چاپ، ۱۴ شارع الجمهورية، عابدين، القاهرة، مصر، څلورم چاپ، ځانګړی چاپ کال ۲۰۱۴م.

دې مصلحت او ګټې معيار يوازې قوت او ضعف نه دی، بلکې نور مصلحتونه او ګټې هم په دې کې شاملې دي چې د امت معتمد علماء يې تشخيص کولی شي، له همدې امله جهاد انفرادي عمل هم نه دی، بلکې جمعي فيصلې ته اړتيا لري.

دويمه قضيه چې دلته يې يادونه اړينه بولم هغه دا ده چې کوم فقهاء په دې نظر دي چې د مسلمانانو او غير مسلمانانو ترمنځ د اړيکو بنسټ پر جنګ ايښودل شوی هغوی دائمي تړونونه هم نه مني، بلکې وايي چې د کفارو سره تړونونه د ضعف او ناتوانۍ په وخت کې جواز لري، کله چې دا حالت له منځه ولاړ شي بيا د دې ډول تړونونو څخه ځان ژغورل پکار دي.

مګر لکه مخکې مو چې اشاره وکړه په نصوصو کې او هغه واقعاتو کې چې د پيغمبر عليه السلام په ژوند کې د کفارو سره د تړونونو او تعهداتو په اړه راغلي په دې کې دا تصريح نشته چې د تړونونو او تعهداتو مدار په ضعف او قوت باندې دی، مناط په همدې يو علت کې را خلاصه کول شايد د نصوصو درست فهم نه وي، بلکې دا د شرعي سياست يعنی مصلحت او مفسدې تابع دی، هر کله که اسلامي هېواد وګوري چې يو تعهد د مسلمانانو په ګټه دی او هغه ګټه او مصلحت شرعا معتبر هم وي نو هغه تړون کولی شي، خو په دې اړه بايد معتبرو پوهانو ته مراجعه وشي، او کله که د مسلمانانو په ګټه نه وه نو ترې وتل هم ورته روا دي، بله دا چې دا تړون دائمي هم کېدلی شي او مؤقت هم، ځکه په دې کې هم بايد مصلحت او مفسدې ته وکتل شي.

هغه دلائل چې امام محمد بن الحسن[62] شيباني په کتاب السير کې او نورو علماو د غير مسلمانانو سره د تړون د جواز لپاره ذکر کړي دي په لنډ ډول په لاندې توګه دي:

لومړی: الله متعال وايي: {وَإِنْ جَنَحُوا لِلسَّلْمِ فَاجْنَحْ لَهَا وَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ إِنَّهُ هُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ } [الأنفال: 61]. که دوی (کافران) د سولې لور ته مايل شول نو ته هم مايل شه، او په الله تعالی باندې توکل وکړه، بې شکه هغه ښه اورېدونکی او ډېر زيات عالم دی. ټول معروف مفسرين د دې ايت په تفسير کې وايي چې په دې ايت کې د مصالحې د تړون د جواز دليل وجود لري، خو په دې شرط چې کفار ورته ميلان ولري، او که په سوله کې د مسلمانانو ګټه وي نو مسلمانان يې پيل هم کولی شي[63].

دويم: الله تعالی فرمايي:**{وَإِنْ كَانَ مِنْ قَوْمٍ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهُمْ مِيثَاقٌ فَدِيَةٌ مُسَلَّمَةٌ إِلَى أَهْلِهِ } [النساء: 92]**. که مقتول د داسې قوم څخه وه چې ستاسې او د هغوی ترمنځ تړون وه نو د هغه خپلوانو ته بايد ديت ورکړ شي. ابن عباس رضي الله عنه وايي له دې څخه هغه کافر مراد دی چې هغه او د هغه قوم تړون او عهد ولري، نو د هغه په قاتل باندې ديت او کفاره دواړه دي[64]. دا ايت کريمه په دې دلالت کوي چې د کفارو سره مسلمانان عهد او تړون درلودلی شي.

درېيم: الله تعالی فرمايي: **{وَالَّذِينَ آمَنُوا وَلَمْ يُهَاجِرُوا مَا لَكُمْ مِنْ وَلَايَتِهِمْ مِنْ شَيْءٍ حَتَّى يُهَاجِرُوا وَإِنِ اسْتَنْصَرُوكُمْ فِي الدِّينِ فَعَلَيْكُمُ النَّصْرُ إِلَّا عَلَى قَوْمٍ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهُمْ مِيثَاقٌ وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ } [الأنفال: 72]**. او هغه خلک چې ايمان يې راوړی، او هجرت يې نه دی کړی، هغوی ستاسې حمايت بالکل مستحق نه دي، تر دې چې هجرت وکړي، خو که د دين لپاره يې له تاسې څخه مرسته وغوښته نو پر تاسې يې مرسته لازم ده، مګر د هغه قوم پر ضد نه چې ستاسې او د هغوی ترمنځ عهد وپيمان او تړون وي، او الله تعالی په هغه څه پوه دی چې تاسې يې کوی.

---

62 - سره له دې چې د امام محمد بن الحسن الشيباني نظر دا دی چې د تعهد، موادعې او تړون جواز يوازې هغه وخت وجود لري چې مسلمانان د ضعف په وخت کې وي، د قوت په وخت کې دا کار ناروا ګڼي.

63 - السير الكبير (1/ 190)، او تفسير طبري ج۱۴ ص ۴۰، تفسير بغوي ج۳ ص ۳۷۳، احكام القرآن د جصاص رازي ج۳ ص ٦٩ـ ٧٠.

64 - أحكام القرآن(1/ 603) المؤلف: القاضي محمد بن عبد الله أبو بكر بن العربي المعافري الاشبيلي المالكي (المتوفى: 543هـ)، علَّق عليه: محمد عبد القادر عطا، الناشر: دار الكتب العلمية، بيروت – لبنان، الطبعة: الثالثة، 1424 هـ - 2003 م.

په دې ايت کې هم په څرگندو ټکو کې قرآن کريم د دې څرگندونه کوي چې د هغه مسلمانانو سره چې هجرت يې نه وي کړی د هغوی حمايت پر تاسې لازم نه دی مگر د دين په اړه ورسره مرسته اړينه ده، مگر که د کوم قوم سره ستاسې تعهد او تړون وي نو د هغوی پر ضد به د مسلمانانو سره هم مرسته نه کوی، نو له دې څخه څرگنديږي چې مسلمانان د کافرو سره تړون درلودلی شي.

څلورم: الله تعالی فرمايي:**{إِلَّا الَّذِينَ يَصِلُونَ إِلَى قَوْمٍ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهُمْ مِيثَاقٌ أَوْ جَاءُوكُمْ حَصِرَتْ صُدُورُهُمْ أَنْ يُقَاتِلُوكُمْ أَوْ يُقَاتِلُوا قَوْمَهُمْ} [النساء: 90].**

(وه يې نيسئ او وه يې وژنئ) مگر هغه کسان چې د داسې قوم سره اړيکې ولري چې ستاسې او د هغوی ترمنځ تړون او عهد وي (د دوی د وژلو او نيولو حق نه لرئ) او يا داسې کسان وي چې تاسې ته راشي او زړه يې نه غواړي چې تاسې سره جنگ وکړي او يا خپل قوم سره جنگ وکړي ( د دوی د وژلو او نيول حق هم نه لرئ).

په دې ايت کې استثناء د مفسرينو په اتفاق سره په مخکې ايت کې د اخيري جملې**(وَلَا تَتَّخِذُوا مِنْهُمْ وَلِيًّا وَلَا نَصِيرًا)** څخه نه ده، بلکې د هغې څخه د مخکې جملې **(فَخُذُوهُمْ وَاقْتُلُوهُمْ حَيْثُ وَجَدْتُمُوهُمْ)** څخه ده. او په ايت کې په دې څرگند دليل دی چې مسلمانان د کفارو سره تړون او عهد درلودلی شي، ايت وايي: که د کوم قوم سره د مسلمانانو تړون وه او د هغه قوم کوم شخص ستاسې لاس ته درغی د هغه وژل او نيول درست کار نه دی[65].

همدا راز علماو د پيغمبر صلی الله عليه وسلم د احاديثو او تعامل څخه هم د کفارو سره د تړونونو د لاسليک کولو لپاره استدلال کړی دی، دلته موږ هغه استدلالات ذکر کوو چې امام محمد بن حسن شيباني په سير کبير او د هغه شارح امام سرخسي د هغه په شرح کې ذکر کړي دي.

لومړی: د پيغمبر صلی الله عليه وسلم څخه د کفارو سره د تړونونو د جواز يو دليل د پيغمبر صلی الله عليه وسلم هغه تعامل دی چې مدينې منورې ته د هجرت نه وروسته يې د يهودو سره کړی وه، او هغه تړون يې چې د هغوی سره لاسليک کړی وه، محمد بن کعب القرظي وايي: کله چې رسول الله صلی الله عليه وسلم مدينې منورې ته راغی (هجرت يې وکړ) د مدينې ټولو يهودانو ورسره تړون لاسليک کړ، د پيغمبر عليه السلام او يهودو ترمنځ يو تړون وليکل شو، د يهودو هره قبيله يې د هغوی د حليفانو پورې وتړله، په هغه تړون کې يو شرط دا وه چې د هيڅ دښمن سره به د پيغمبر عليه السلام پر ضد همکاري نه کوي، بيا چې کله پيغمبر عليه السلام د بدر د غزا څخه مدينې ته راستون شو، نو يهودو بغاوت وکړ، او د رسول الله صلی الله عليه وسلم سره کړی تعهد يې مات کړ، نو رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته پيغام وليږه، نو را ټول يې کړل، او ورته يې وويل: ای يهودو! مسلمانان شئ نو محفوظ به پاتې شئ، د الله قسم چې تاسې پوهيږئ چې زه د الله پيغمبر يم.

نو د يهودو سره د پيغمبر عليه السلام دا تعامل د دې دليل دی چې د مسلمانانو لپاره دا جواز لري چې د کفارو سره تړونونه لاسليک کړي، اوس دا بيا اجتهادي خبره ده چې دا يوازې د ضعف په حالت کې جواز لري، که د نورو مصلحتونو په وخت کې هم جواز لري، دا د فقهاو ترمنځ د مناقشې وړ موضوع ده، په دې کې کوم نص وجود نه لري.

دويم: د هغه واقعې څخه هم په دې استدلال کيږي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم د خندق په غزا کې عيينة بن حصن ته او په بل روايت کې عيينة او حارث بن عوف چې دواړه د غطفان قبيلې مشران ؤ، پيغام وليږه چې: که د انصارو

65 - د دې لپاره وگورئ د شرح السير الكبير ص 1689، باب الموادعة، المؤلف: محمد بن أحمد بن أبي سهل شمس الأئمة السرخسي (المتوفى: 483هـ)، الناشر: الشركة الشرقية للإعلانات، الطبعة: بدون طبعة، تاريخ النشر: 1971م.

دریمه برخه مېوی درکړو، ایا تاسې د غطفان د خلکو سره یو ځای د احزابو صف پرېښودلو ته اماده یاست؟

په یو بل روایت کې راځي چې: عیینة بن حصن پیغمبر علیه السلام ته پیغام ولیږه چې د مدینې د سږکال د میوو ټول حاصلات موږ ته راکړئ موږ به در څخه وګرځو، او تا او ستا قوم به پرېږدو چې جنګ ورسره وکړی؟ پیغمبر علیه السلام انکار وکړ، نو عیینة وویل: ښه، نیمه برخه حاصلات موږ ته راکړئ، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ورسره ومنله، بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم حضرت سعد بن معاذ او سعد بن عباده ته پیغام ولیږه، (دوی د اوس او خزرج مشران ؤ) نو په دې اړه یې ورسره مشوره وکړه، نو عیینة راغی او وه یې ویل: په دې اړه زموږ ترمنځ یو تعهد ولیکه، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم کاغذ او دوات راوغوښته چې دا تړون او عهد ولیکي، او په یو روایت کې راځي: د پیغمبر علیه السلام او هغوی ترمنځ سوله وشوه، تر دې چې تړون یې هم ولیکه، مګر تر اوسه تړون لیکل شوی نه وه، او نه پرې ګواهان ثبت شوي ؤ، او د سولې خبره هم نهایي شوی نه وه، یوازې یو د بل د قائل کولو خبرې شوی وی.

نو په دې وخت کې (سعد بن معاذ او سعد بن عباده) وویل: یا رسول الله ایا په دې اړه تاسې ته وحي شوی ده؟ نو پیغمبر علیه السلام وویل: نه، مګر ما ولیدل چې ټول عرب ستاسې پر ضد یو شوي دي، نو وه مې غوښتل چې دوی له تاسې دفع کړم. نو دې دواړو (سعد بن معاذ او سعد بن عبادة) وویل: د الله قسم دوی به په جاهلیت کې سختیو له امله (علهز) ګنده ګي خوړله، په هغه وخت کې هم دوی د دې توقع او طمع نه درلوده چې زموږ یوه دانه خرما له موږ څخه واخلي مګر دا چې وه یې پیرې او یا یې په ملمستیا کې ورکړو، نو اوس چې الله تعالی موږ ته ستاسې په موجودیت عزت را په برخه کړ، او ستاسې په ذریعه یې موږ ته هدایت وکړ، او ستاسې په وجود یې موږ سره مرسته وکړه، ایا اوس به موږ دا ذلت تحمل کوو؟ موږ غیر د تورې بل څه د دوی لپاره نه لرو. (ددې خبرې په اورېدو) رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه لیکلی ورقه څیری کړه، او ورته یې وویل: ځئ ولاړ شئ، تاسې ته د تورې پرته بل څه نه درکوو[66].

دا واقعه په دې دلالت کوي چې کله د مسلمانانو ګټې د دې غوښتنه وکړي نو بیا د مسلمانانو امام ته د دې اجازه شته چې د غیر مسلمانانو سره تړون لاسلیک کړي.

دریم: د حدیبېې سوله

هغه علماء چې د غیر مسلمانو سره د تعهداتو او تړونونو قائل دي هغوی د حدیبیې د سولې د تړون څخه هم استدلال کوي، هغه تړون چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د لسو کلونو[67] لپاره د قریشو په نماینده ګی د سهیل بن عمرو سره لاسلیک کړی وه[68]، هغه مشهور تړون دی او په دې څرګند دلالت کوي چې د مصلحت په وخت کې داسې تړون لاسلیک کول روا کار دی.

دلته د ابوبکر جصاص رازي دا عبارت سره له دې چې لږ اوږد دی خو ډیر ښه لنډیز یې د دې مسألې او د نصوصو تر منځ د توافق ښه حالت یې وړاندې کړی دی له دې امله یې دلته سره یو ځای لولو، هغه وایي:

66 - د دي روایاتو د تفصیل لپاره وګورئ: المصنف د ابن ابی شیبة ج ۱۴ ص ۴۲۰، مجمع الزوائد ومنبع الفوائد (6/ 191)، المؤلف : نور الدين علي بن أبي بكر الهيثمي، الناشر : دار الفكر، بيروت - 1412 هـ. مغازي الواقدي، ج 1 ص 478، المؤلف : أبو عبد الله محمد بن عمر بن واقد الواقدي (المتوفى : 207هـ)، إمتاع الأسماع بما للنبي من الأحوال والأموال والحفدة والمتاع ج1 ص 240، المؤلف: أحمد بن علي بن عبد القادر، أبو العباس الحسيني العبيدي، تقي الدين المقريزي (المتوفى: 845هـ)، المحقق: محمد عبد الحميد النميسي، الناشر: دار الكتب العلمية – بيروت، الطبعة: الأولى، 1420 هـ - 1999 م.

67 - په څه روایتونو کې دا هم راغلي چې د تړون موده دوه کاله وه، خو راجح هغه روایتونه دي چې موده لس کاله ښايي.

68 - د حدیبیې د تړون حدیث خو تقریبا ټولو محدثینو روایت کړی دی، یوازې د بیلګې په توګه وګورئ: صحيح البخاري (3/ 195) مخکینی مصدر.

امام جصاص رازي وايي: کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم مدینې ته هجرت وکړ، د بېلا بېلو مشرکانو سره یې معاهدات او تړونونه لاسلیک کړل، چې په دوی کې بنو النضير، بنوقینقاع او بنو قريظه شامل ؤ، او د مشرکانو يو شمېر قبائلو سره يې معاهدات وکړل، بيا د رسول الله صلی الله علیه وسلم او قریشو ترمنځ د حديبيې سوله وشوه، تر دې چې قريشو هغه د پیغمبر علیه السلام د حلفاو بنو خزاعه سره د جنګ په نتيجه کې ماته کړه، او د سیرو او مغازيو په اړه ليکوالان ټول په دې اتفاق لري، او دا کارونه يې هغه وخت کړي چې مسلمانان لا نه ؤ زیات شوي، او د اسلام اتباع لا قوي شوي نه ؤ، نوکله چې مسلمانان زيات شول او دين قوي شو نو د عربو د مشرکان د قتل امر ورته وشو، او له هغوی څخه د اسلام یا قتال څخه پرته بل څه ورته د منلو وړ نه ؤ د الله تعالی د دې وينا سره سم چې فرمايي: {فَاقْتُلُوا الْمُشْرِكِينَ حَيْثُ وَجَدْتُمُوهُمْ} [التوبة:5]، او د الله تعالی د دې وينا چې فرمايي:{قَاتِلُوا الَّذِينَ لا يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَلا باليوم الآخر} إلَى قَوْلِهِ {وَهُمْ صَاغِرُونَ} [التوبة:29] په ذريعه ورته د اهل کتابو پر ضد تر هغه وخته پورې د قتال امر وشو چې يا مسلمانان شي او يا جزيه ورکړي.

په دې کې اختلاف نه شته چې سورت براءة د قرآن کريم د اخيري نازل شوو سورتونو له جملې څخه دی، چې د هجرت په نهم کال نازل شوی، او سورة انفال د بدر د غزا نه وروسته نازل شوی دی، چې په کې د «انفالو» «غنائمو» «تړونونو» او «تعهداتو» احکام بيان شوي دي، نو د سورة براءة احکام لکه څرنګه چې نازل شوي پر خپل حال قائم دي (منسوخ نه دي). او د سولې او مصالحې حکم چې کله کفار سولې ته ميلان ولري هغه هم پر خپل ځای باقي او ثابت دی، يوازې اختلاف د حالاتو د اختلاف له امله دی، په کوم حالت کې چې سولې حکم ورکړ شوی دی هغه د مسلمانانو د شمېر د لږوالي او د دښمن د زياتوالي حالت دی، او په کوم حالت کې چې د مشرکانو د قتل امر شوی دی، او يا د اهل کتابو سره د قتال امر شوی تر څو يا مسلمانان شي او يا جزيه ورکړي نو دا هغه حالت دی چې مسلمانان د دښمن په مقابل کې قوي او زيات وي.[69]

د ابو بکر الجصاص دا خبره ډيره پر ځای او درسته ده چې د قتال آيتونو د سولې ايتونه نه دي منسوخ کړي، او نه د سولې ايتونو د قتال آيتونه منسوخ کړي دي، بلکې دا دواړه ډوله آيتونه هر يو په خپل ځای قابل عمل دي، کله چې د جنګ اړتيا وي هلته د جنګ ايتونه قابل عمل دي، او کله چې د سولې حالت وي هلته د سولې آيتونه قابل عمل دي، خو د جصاص صاحب دې خبرې سره اختلاف کېدلی شي او علماو ورسره کړی دی چې د سولې حالت يوازې هغه حالت دی چې مسلمانان ضعيف او په لږ شمېر کې وي، او د جنګ حالت هغه دی چې دښمن د مسلمانانو په مقابل کې لږ او ضعيف وي، دا يې يو حالت کېدلی شي، له دې څخه پرته نور حالتونه هم کېدلی شي.

نو لنډه خبره دا شوه چې د غير مسلمانو هېوادونو سره اسلامي امارت اړيکې جوړولی شي، دا د قرآن کريم نه هم ثابته ده او د رسول الله صلی الله علیه وسلم د احاديثو او سيرت نه هم ثابته ده، او عقل هم د دې غوښتنه کوي، ځکه دې پورې ډيرې زياتې ګټې تړلې دي چې له دې پرته يې تر لاسه کول ممکن نه دي.

**د نورو سره د اړيکو لپاره اصول**

مخکې مو د اسلامي هېوادونو سره د اړيکو لپاره د دوو اصولو يادونه وکړه، ځکه چې هغه د اسلامي هېوادونو پورې ځانګړي اصول دي، غير مسلمانو هېوادونو ته هغه حيثيت نه دی ترلاسه، دلته په ډيرو لنډو ټکو کې د هغه اصولو يادونه کول

---

69 - أحكام القرآن (3/ 90)، المؤلف: أحمد بن علي أبو بكر الرازي الجصاص الحنفي (المتوفى: 370هـ)، المحقق: عبد السلام محمد علي شاهين، الناشر: دار الكتب العلمية بيروت – لبنان، الطبعة: الأولى، 1415هـ/1994م.

غواړم چې د نورو سره په اړیکو کې يې اسلامي هېواد په نظر کې نيسي، دا هم اړينه نه ده چې په هر حالت کې دې ټول اصول په نظر کې ونيول شي، کېدلی شي په يو حالت کې يو اصل په نظر کې نيول اړين وي او په بل حالت کې بل اصل، له همدې امله کېدلی شي دا اصول په خپلو کې سره همغږي هم و نه لري، ځکه دا هر اصل په خپل حالت کې د تطبيق وړ دی، دا اصول په ډېره لنډه توگه په لاندې ډول دي:

**لومړی اصل: عدل او انصاف**

عدل د نورو هېوادونو سره د اړيکو يو بنسټيز اصل دی، عدل او انصاف په اسلام کې يو ډېر مهم اصل دی، بلکې همدا د اسلامي شريعت او قانون بنسټ تشکيلوي، همدا د ټولو نظامونو په بنياد کې پروت دی، له همدې څخه نور ډېر فروع او جزئيات سرچينه نيسي، په ټولو پخوانيو شريعتونو کې په همدې تأکيد شوی، او په اسلام کې په دې اړه ډېر زيات نصوص راغلي دي، موږ دلته په يو باندې اکتفاء کوو، الله تعالی فرمايي: **{يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُونُوا قَوَّامِينَ لِلَّهِ شُهَدَاءَ بِالْقِسْطِ وَلَا يَجْرِمَنَّكُمْ شَنَآنُ قَوْمٍ عَلَى أَلَّا تَعْدِلُوا اعْدِلُوا هُوَ أَقْرَبُ لِلتَّقْوَى وَاتَّقُوا اللَّهَ إِنَّ اللَّهَ خَبِيرٌ بِمَا تَعْمَلُونَ } [المائدة: 8].**

ای مؤمنانو يوازې د الله په خاطر د انصاف او عدل د گواهۍ لپاره تيار او اماده اوسئ، د چا سره بغض، کينه او دښمني بايد تاسې دې ته ونه هڅوي چې عدل ونه کړئ، عدل وکړئ؛ ځکه عدل د تقوی سره ډېر نږدې دی، او تقوی اختيار کړئ، بې له شکه الله تعالی په هغه هر څه ښه باخبر دی چې تاسې کوئ.

په دې ايت کريمه کې په هر حالت کې د عدل او انصاف پر بنسټ د تعامل امر شوی دی، او د هر چا سره، سره له دې چې که هغه سره د انسان دښمني هم وي او کوم هېواد يې بدې هم راځي بايد بې انصافي او ظلم ورسره ونه کړي، په دې اړه امام ابن تيمية وايي: «أَنَّ كُلَّ خَيْرٍ فَهُوَ دَاخِلٌ فِي الْقِسْطِ وَالْعَدْلِ وَكُلَّ شَرٍّ فَهُوَ دَاخِلٌ فِي الظُّلْمِ. وَلِهَذَا كَانَ الْعَدْلُ أَمْرًا وَاجِبًا فِي كُلِّ شَيْءٍ وَعَلَى كُلِّ أَحَدٍ وَالظُّلْمُ مُحَرَّمًا فِي كُلِّ شَيْءٍ وَلِكُلِّ أَحَدٍ فَلَا يَحِلُّ ظُلْمُ أَحَدٍ أَصْلًا سَوَاءٌ كَانَ مُسْلِمًا أَوْ كَافِرًا أَوْ كَانَ ظَالِمًا»[70].

هر ډول خير د قسط او عدل په مفهوم کې داخل دی، او هر ډول شر د ظلم برخه ده، له همدې امله عدل په هر شي کې يو فرض امر دی، او په هر چا باندې فرض دی، او ظلم په هر شي کې او په هر چا حرام دی، نو په هيچا اصلا ظلم روا نه دی، هغه که مسلمان او کافر او تر که ظالم هم وي په هغه ظلم روا نه دی.

**دويم اصل: بالمثل معامله**

د نورو هېوادونو سره د اړيکو يو بل اصل معامله بالمثل ده، هغه هېوادونه مسلمان وي او که کافر، دا په حقيقت کې د عدل د اصل څخه يو مستفاد اصل دی، نو هغه ټول نصوص چې د عدل په فرضيت دلالت کوي هغه د معامله بالمثل په فرضيت هم دلالت کوي، سره له دې چې په دې اړه ځانگړي نصوص هم راغلي دي، الله تعالی فرمايي**{وَجَزَاءُ سَيِّئَةٍ سَيِّئَةٌ مِثْلُهَا فَمَنْ عَفَا وَأَصْلَحَ فَأَجْرُهُ عَلَى اللَّهِ إِنَّهُ لَا يُحِبُّ الظَّالِمِينَ} [الشورى: 40].** د زورولو جزا په هماغه اندازه زورول دي، خو که څوک معافول وکړي، او د اصلاح لاره خپله کړي نو د هغه اجر په الله تعالی باندې دی، بې له شکه الله تعالی ظالمان نه خوښوي.

70 - مجموع الفتاوى (18/ 166)، المؤلف: تقي الدين أبو العباس أحمد بن عبد الحليم بن تيمية الحراني (المتوفى: 728هـ)، المحقق: عبد الرحمن بن محمد بن قاسم، الناشر: مجمع الملك فهد لطباعة المصحف الشريف، المدينة النبوية، المملكة العربية السعودية، عام النشر: 1416هـ/1995م.

د دې د تفسیر په اړه امام رازي رحمه الله وايي: دا ایت د فقهې یو ډېر لوی اصل دې، ځکه د دې غوښتنه دا ده چې دهر جنایت په مقابل کې باید د هغه سره متوازنه جزا ورکړ شي، او دا ځکه که بې جزا پرېښودل شي نو د شر او ظلم دروازه په خلاصه شي، ځکه چې د هر انسان په طبیعت کې ظلم، د نظام څخه سرغړونه او ظلم پروت دی، که ترې په زوره منع نه کړی شي همیشه به يې ارتکاب کوي او پربېږدي به يې نه، او که د ګناه څخه زیاته جزا ورکړی شي نو هغه بیا ظلم ګرځي چې شریعت ترې پاک دی، نو یوازې همدا صورت پاتې شو چې بالمثل جزا ورکړی شي[71].

همدا اصل په نورو ایتونو کې هم ذکر شوی دی، چې له دې جملې څخه هغه ایت دی چې الله تعالی په کې فرمايي:**{فَمَنِ اعْتَدَى عَلَيْكُمْ فَاعْتَدُوا عَلَيْهِ بِمِثْلِ مَا اعْتَدَى عَلَيْكُمْ} [البقرة:194].** نو چا چې پر تاسې تیری وکړ، هغه ته په هماغه اندازه جزا ورکړئ چې په تاسې يې تیری کړی دی.

همدا راز په هغه ایت کې هم دې ته اشاره ده چې الله تعالی په کې فرمايي: **{وَإِنْ عَاقَبْتُمْ فَعَاقِبُوا بِمِثْلِ مَا عُوقِبْتُمْ بِهِ وَلَئِنْ صَبَرْتُمْ لَهُوَ خَيْرٌ لِلصَّابِرِينَ} [النَّحْلِ:129].** که تاسې جزا ورکوئ نو په هغه اندازه جزا ورکړئ چې تاسې ته يې ضرر رسولی دی، او که صبر وکړئ نو دا د صبر کوونکو لپاره غوره کار دی.

**{كَيْفَ يَكُونُ لِلْمُشْرِكِينَ عَهْدٌ عِنْدَ اللَّهِ وَعِنْدَ رَسُولِهِ إِلَّا الَّذِينَ عَاهَدْتُمْ عِنْدَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ فَمَا اسْتَقَامُوا لَكُمْ فَاسْتَقِيمُوا لَهُمْ إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُتَّقِينَ } [التوبة: 7].** په دې اخیري ایت کې هم تعامل بالمثل مطرح دی، ځکه ایت وايي چې تر څو هغوی په خپل تعهد باندې ولاړ وي تاسې هم پرې ودرېږئ، یعنې بالمثل تعامل ورسره وکړئ، هغوی چې کله تعهد مات کړی تاسې يې هم د ماتولو حق لرئ.

نو دا یو بنسټیز اصل دی، چې باید د هېوادونو په خپل منځي اړیکو کې رعایت شي، یعنې حالت باید داسې نه وي چې یو هېواد دې ظلم او تعدي کوي، او د بل هېواد څخه دې د ورورولۍ توقع لري، یو هېواد دې د بل د تباه کولو هڅې کوي او د بل څخه دې د مسلمان په حیث د ولاء غوښتنه کوي!!.

**دریم اصل: په خپل عهد او تړون وفا کول**

یو د هغه اصولو څخه چې د مسلمانو هېوادونو اړیکې باید پرې ولاړې وي هغه په خپلو تعهداتو باندې وفا کول دي، د هېوادونو ترمنځ اړیکې په دوه اړخیزو تعهداتو باندې ولاړې وي، همدا راز د هېوادونو ترمنځ امن او سوله، د سولې او امنیت په دوه طرفه تړونونو ولاړ وي، او دا تړونونه که عملي نه شي او پر دې تعهداتو که وفا و نه شي دا د کاغذ د یوې ټوټې څخه اضافه کوم بل شی نه دي، له همدې امله اسلامي شریعت خپلو پیروانو ته په تعهداتو د عمل کولو په اړه ډېر جدي هدایات لري، په قرآن کریم کې په ډېرو زیاتو ایتونو کې په عهد باندې د وفا امر شوی دی، **{وَأَوْفُوا بِالْعَهْدِ إِنَّ الْعَهْدَ كَانَ مَسْئُولًا} [الإسراء: 34].** په عهد باندې وفا وکړئ، بې له شکه د عهد په اړه به پوښتنه کیږي.

په احادیثو کې په خپل عهد باندې د وفا دومره تأکید راغلی دی چې د هیچا څخه پټ نه دی، تر دې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د هغه چا څخه دین نفي کړی دی چې په عهد باندې وفا نه لري، او د مسلمانانو تاریخ په دې شاهد دی چې په ډېرو ستونزمنو حالاتو کې يې هم په خبلو وعدو باندې وفا کړی او په خپلو تړونونو يې التزام کړی، له دې امله په اسلام کې د نورو هېوادونو سره د اړیکو لپاره یو اصل په عهد باندې وفا ده.

71 - مفاتيح الغيب أو التفسير الكبير (27/ 605) تأليف: أبو عبد الله محمد بن عمر بن الحسن بن الحسين التيمي الرازي الملقب بفخر الدين الرازي خطيب الري (المتوفى: 606هـ)، خپرونکی اداره: دار إحياء التراث العربي – بيروت، دریم چاپ ۱۴۲۰هـ.

**څلورم اصل: د خیر په کارونو کې د همکارۍ لپاره مبادرت**

مسلمان فرد وي او که جماعت او که هېواد د خیر په کارونو کې مبادرت او په دې اړه د نورو سره همکاري او تعاون یې شعار دی، او دا ځکه چې دا امت د خیر امت او الله تعالی ورته مطلق امر کړی چې د هر چا سره د نیکیو او تقوی په کارونو کې همکاري وکړي، او د گناه او ظلم او په نورو باندې په تیري کولو کې د چا سره مرسته ونه کړي، له دې امله دا یو اصل دی چې مسلمان هېوادونه باید په خپلو اړیکو کې پرې ملتزم وه اوسیږي.

**پنځم: زغم او خود گذري**

اسلامي امت د عزت امت دی، چا ته سر ټیټول یې په قاموس کې نه شته **{مَنْ كَانَ يُرِيدُ الْعِزَّةَ فَلِلَّهِ الْعِزَّةُ جَمِيعًا} [فاطر: 10]**. که څوک عزت غواړي (نو د الله لور ته راشي) ځکه ټول عزت د الله لپاره دی. او په بل ایت کې فرمايي: **{وَلِلَّهِ الْعِزَّةُ وَلِرَسُولِهِ وَلِلْمُؤْمِنِينَ وَلَكِنَّ الْمُنَافِقِينَ لَا يَعْلَمُونَ} [المنافقون: 8]** او عزت یوازې الله تعالی د هغه پیغمبر او مؤمنانو لپاره دی، مگر منافقین نه پوهیږي. د دې سره چې اسلام چا ته سر نه ټیټوي او نه چا ته تسلیمیږي مگر تکبر هم نه کوي، او کله چې دښمن اړیکو ته مایل شي نو مسلمان ته هم امر دی چې سولې ته غاړه کیږدي، **{وَإِنْ جَنَحُوا لِلسَّلْمِ فَاجْنَحْ لَهَا وَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ إِنَّهُ هُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ } [الأنفال: 61]**. همدا راز کله که د دښمن له لورې تعنت او بې ځایه عناد گوري او مسلمان قیادت گوري چې په سوله او معاهدې په لاسلیک کولو کې د اسلامي امت او مسلمان ملت گټه ده، په هغه وخت کې بیا د صبر، زغم او خود گذرۍ څخه کار اخلي، او حتی داسې تنازل هم کوي چې شاید تحمل یې هم په بعضې وختونو کې گران وي، لکه رسول الله صلی الله علیه وسلم چې د حدیبیې په سوله کې وکړل، حضرت عمر رضي الله عنه ته یې تحمل گران وه، همدې ته د اشارې لپاره امام بخاري رحمه الله په خپل صحیح کې یو باب ترلی چې عنوان یې دی:«بَابُ الشُّرُوطِ فِي الجِهَادِ وَالمُصَالَحَةِ مَعَ أَهْلِ الحَرْبِ وَكِتَابَةِ الشُّرُوطِ»[72]. او د حدیبیې واقعه یې په کې راوړی ده چې دې ته اشاره کول غواړي چې داسې شروط هم درست دي چې په ښکاره د منلو وړ نه وي، مگر دا چې په هغه کې د اسلامي امت او مسلمان ملت لپاره خیر وي.

**شپږم: د اسلام د لوړو اخلاقیاتو التزام**

یو اصل چې اسلام یې د نورو سره په اړیکو کې رعایت کوي او هغه د مسلمانانو د ټولو کارونو لپاره یو بنسټیز اصل دی هغه د اسلامي لوړو اخلاقیاتو التزام دی، دا یو داسې اصل دی چې ډېر زیاتو اصولو ته شامل دی، همدا هغه اصل دی چې اسلامي امت د نورو څخه متمیز گرځوي په ځانگړې توگه په اوسنۍ زمانه کې چې غربي نړۍ په بشپړ ډول د نفعي فلسفې تر اغیز لاندې ده.

د اسلامي اخلاقیاتو څخه مراد هغه اصول او معتقدات دي چې د انسان په زړه او عقل کې ځای نیسي، چې په نتیجه کې یې څه کارونه ورته ښه او درست ښکاري نو په ژوند کې د هغوی د سرته رسولو کوښښ کوي، او څه شیان ورته بد او نادرست ښکاري چې په ژوند کې تر اجتناب کوي، د بیلگې په توگه «ظلم» یو انسان ته بد ښکاري نو په ژوند کې د ظلم څخه د ځان ساتلو التزام کوي، دې ته موږ اسلامي اخلاقیات وایو.

د مخکې بیان څخه څرگندیږي چې اخلاقیات په دوه ډوله دي:

---

72 - «صحیح البخاري» (2/ 974 ت البغا)

- مثبت او ښه اخلاقيات، دا هغه څه دي چې اسلام خلکو ته پرې د التزام لارښوونه او امر کوي، لکه په وعدو وفا، صبر، عفت، امانت، رښتيا ويل، رحمت، نرمي، شجاعت او داسې نور، چې په تفصيل سره په قرآن کريم او نبوي سنتو کې يې يادونه شوې ده، او د اخلاقو اړوند کتابونو کې علماو راټول کړي دي.
- بد، خراب او منفي اخلاق، دا هغه صفات دي چې اسلام ترې خلک منع کړي دي، او څوک يې چې لري د هغه تقبيح يې کړې دی، لکه خيانت، غدر، منافقت، دروغ، ظلم او داسې نور، چې دا هم په تفصيل سره په کتاب او سنت کې راغلي دي، او علماو په خپلو کتابونو کې راټول کړي دي.

اسلام د دې امر کوي چې دا اخلاقيات (مثبت او منفي داوړه) بايد په ټولو انفرادي او اجتماعي اړيکو کې رعايت شي، نو مسلمان هېواد هم په دې ملزم دی لکه يو مسلمان فرد چې پرې ملزم دی، نو بايد چې په نړيوالو اړيکو کې په مثبتو اخلاقو التزام ولري او د بدو او نادرستو او منفي اخلاقو څخه ځان وساتي، د بيلگې په توگه منافقت او خيانت منفي اخلاق دي چې الله تعالی ترې منع کړې ده، الله تعالی په نړيوالو اړيکو کې په ځانگړې توگه د کفارو سره هم خيانت، غدر او منافقت ته اجازه نه ورکوي، الله تعالی فرمايي: **{وَإِمَّا تَخَافَنَّ مِن قَوۡمٍ خِيَانَةً فَٱنۢبِذۡ إِلَيۡهِمۡ عَلَىٰ سَوَآءٍۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُحِبُّ ٱلۡخَآئِنِينَ} [الأنفال: 58].**

که د کوم قوم له لورې د خيانت د خطر احساس وکړې نو د هغوی تړون ورته په څرگند ډول ورگذار کړه (په څرگند ډول يې مات کړه) (خيانت مه کوه) ځکه الله تعالی خائنان نه خوښوي.

تر دې چې د يو مسلمان ورور سره هم د داسې چا پر ضد دريدل او همکاري کول نه دي پکار چې مسلمان هېواد ورسره تړونونه لري، په دې اړه الله تعالی فرمايي:**{وَإِنِ ٱسۡتَنصَرُوكُمۡ فِي ٱلدِّينِ فَعَلَيۡكُمُ ٱلنَّصۡرُ إِلَّا عَلَىٰ قَوۡمِۭ بَيۡنَكُمۡ وَبَيۡنَهُم مِّيثَٰقٌ} [الأنفال: 72].**

که مسلمانان (چې هجرت يې نه دی کړی) له تاسې څخه په دين کې مرسته وغواړي نو پر تاسې يې مرسته لازم ده، مگر د داسې يو قوم پر ضد نه چې ستاسې او د هغوی ترمنځ تړون وجود ولري.

په اخلاقياتو د التزام قضيه په اسلامي شريعت کې دومره مهمه ده چې کله کله د فقهاو په تصريح سره د دې لپاره د «تعامل بالمثل» قاعده هم پرېښودل کيږي، د بيلگې په توگه که کوم هېواد د مسلمان هېواد په اتباعو ظلم وکړي، او يا يې د تاجرانو څخه په ناروا توگه مالونه واخلي، نو له دې امله چې مسلمان هېواد په اسلامي اخلاقياتو ملزم دی او ظلم ورته ناروا دی، نو د هغه هېواد د اتباعو سره ظالمانه رويه نه شي کولی او دا کار ورته ناروا دی.

په اسلامي اخلاقيات د التزام له دې څخه هم څرگنديږي چې اسلام هم په وسائلو کې او هم په اهدافو کې خپل پيروان په اسلامي اخلاقياتو ملزم گڼي، يعنې اسلامي هېوادونو ته دا جواز نه لري چې د چا سره خيانت وکړي، چا ته دروغ ووايي، چا ته فريب ورکړي، او دليل يې دا وي چې له دې څخه خو زما هدف او مقصد نيک او مسلمانانو ته خير رسول ؤ، په هغه څه کې خير نه شته چې الله تعالی ترې منع کړي وي، هو په حکمت سره تگ او په خپل ذکاوت د دښمن چلونو خنثی کول او له منځه وړل د غدر او خيانت په دائره کې داخل نه دي.

**د اړيکو مجالات**

اوس دا سوال چې په کومو ميدانونو کې يو اسلامي حکومت د نورو خلکو سره اړيکي درلودلی شي، لکه مخکې مو چې وويل دا ټول کارونه د مسلمان قيادت اجتهاد ته پرېښودل شوي دي، چې د مصالحو او مفاسدو په نظر کې نيولو سره د

درست او صحیح اجتهاد په نتیجه کې مشخص کړی شي، خو په ابتدائي ډول لاندې میدانونه دي چې په ځانګړې توګه زموږ هېواد په کې د نورو سره اړیکو ته اړتیا لري:

- اقتصادي او تجارتي اړیکي، هغه پخواني اجتهادات چې مالکیه د مشخصو شیانو تجارت د کفارو سره حرام ګڼي، د حکم د مبنی د تغییر او د ظروفو د تغییر له امله بیا کتنې ته اړتیا لري.
- امنیتي اړیکې، زموږ امنیت په پرله پسې توګه د پردیو د لاس وهنو له امله زیانمند شوی دی، دا ډول اړیکې زموږ اړتیا او ضرورت دی.
- سیاسي اړیکې چې دا په خپله د نورو ډېرو اړیکو لپاره بنسټ او بنیاد مهیا کوي.
- ټولنیزې او اجتماعي اړیکې، په ډېرو مجالاتو کې د نورو او په ځانګړې توګه د مسلمانو هېوادونو د مثبتو تجاربو څخه د استفادې لپاره ډېرې اړینې دي.

### د پای ټکي

که وغواړو چې په پای که هغه ټکي چې د څېړنې په نتیجه کې ورته ورسیدو د درنو لوستونکو په مخ کې کیږدو نو وبه وایو چې:

لومړی: د یو اسلامي هېواد لپاره د نورو هیوادونو سره اړیکې درلودل یو شرعي حکم او انساني اړتیا ده، ځکه چې د دې ډول اړیکو د ایجادولو څخه پرته په اوسنۍ نړۍ کې د یو هېواد لپاره قائم پاتې کېدل ډېر ګران کار دی، همدا راز د وګړو ډېرې ګټې هم د همدې اړیکو په درلودلو سره تر لاسه کېدلی شي.

دویم: د دې اړیکو دلائل ډېر زیات دي، یو لړ یې په پیل کې د نورو سره د اړیکو لپاره د بنسټونو تر عنوان لاندې ذکر شوي، او نور شرعي دلائل چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د کفارو سره معاهدې او تړونونه درلودل د معاهدو هیوادونو تر عنوان لاندې ذکر شوي دي.

درېیم: نړۍ په ټوله کې په دوه ډوله ویشل شوی (دار الاسلام) او (دار الحرب) او دا ثنائي تقسیم درست دی، ځکه د فقهاو په اصطلاح کې (دار الحرب) د (دار الکفر) سره مرادف دی، او د (دار الحرب) معنی د هغه هېواد نه ده چې بالفعل د مسلمانانو سره په جنګ کې ښکیل وي.

څلورم: دار الحرب چې د دار الکفر مرادف دی، په درې ډوله ویشلی شو (لومړی: هغه هېوادونه چې بالفعل د مسلمانانو سره په جنګ کې ښکیل دي، او محاربین دي) (دویم: هغه هیوادونه چې د اسلامي هېوادونو سره تړونونه او تعهدات لري، چې اوس د نړۍ تقریبا اکثره هېوادونه همدا ډول دي) (درېیم: هغه غیر مسلمان هېوادونه چې نه د مسلمانانو سره په جنګ کې ښکیل دي او نه ورسره تعهدات لري).

پنځم: د دې ټولو هېوادونو سره اړیکې درلودل اړینې دي، د محاربینو سره اړیکې د جنګ دي (چې تفصیلات یې موږ په دې بحث کې نه دي بیان کړي) او د نورو سره اړیکې د موادعې، متارکې او سولې دي، او دا کار د قرآن او سنت او د پیغمبر علیه السلام د سیرت کریمه څخه ثابت دی.

شپږم: اسلامي هېوادونه خو په اصل کې باید یو موټی وی، او د یو قیادت لاندې وی، مګر اوس چې هغه مطلوب حالت وجود نه لري، نو علماو د دې تصریح کړې ده چې د هرې سیمې خلک باید د خپل ځان لپاره یو حاکم وټاکي تر څو یې

مشکلات حل وي، او د اسلامي امت د وحدت لپاره خپلو هلو ځلو ته ادامه ورکړي، او کله چې دا ډول وحدت رامنځته شو نو ټول مسلمان هېوادونه باید د هغه برخه شي.

اوم: کله چې اسلامي فقه د يو واقعيت په توګه د اسلامي هېوادونو په تعدد باندې اعتراف کوي، نو د نورو څخه دمخه باید يو اسلامي هېواد د دوی سره د اړيکو د جوړولو هڅه وکړي، څکه له نورو څخه اسلامي هېوادونه يو بل ته سره نږدی دي، او دا اړيکې باید په اسلامي اخوت او د مسلمانانو ترمنځ يو بل سره په دوستۍ، حمايت او ولاء باندې ولاړې وي.

اتم: په اسلام کې د نورو سره د اړيکو لپاره اصول وجود لري چې په قرآن کريم او نبوي سنتو کې يې يادونه شوی ده، چې په نهايت کې دوو اصولو ته راجع کېږي، چې لومړی يې عدل او انصاف دی، او دويم يې د اسلامي مثبتو اخلاقياتو التزام او د منفي اخلاقياتو څخه اجتناب دی، اسلامي امارت په خپلو اړيکو کې باید دې اصولو ته التزام ولري.

و سبحانک اللهم و بحمدک نشهد أن لا إله إلا أنت نستغفرك ونتوب إليك.

**د مصادرو او مراجعو نوم لړ**


1. الأحكام السلطانية، المؤلف: أبو الحسن علي بن محمد بن محمد بن حبيب البصري البغدادي، الشهير بالماوردي (المتوفى: 450هـ)، الناشر: دار الحديث – القاهرة.
2. أحكام القرآن المؤلف: القاضي محمد بن عبد الله أبو بكر بن العربي المعافري الاشبيلي المالكي (المتوفى: 543هـ)، علَّق عليه: محمد عبد القادر عطا، الناشر: دار الكتب العلمية، بيروت – لبنان، الطبعة: الثالثة، 1424 هـ - 2003 م.
3. أحكام القرآن، المؤلف: أحمد بن علي أبو بكر الرازي الجصاص الحنفي (المتوفى: 370هـ)، المحقق: عبد السلام محمد علي شاهين، الناشر: دار الكتب العلمية بيروت – لبنان، الطبعة: الأولى، 1415هـ/1994م.
4. الارشاد إلى قواطع الأدلة في أصول الاعتقاد د امام الحرمين الجويني (ت 478هـ) ليكنه، تحقيق: د. احمد عبد الرحيم السايح و توفيق على وهبة، خپرونکی اداره: مكتبة الثقافة الدينية، شارع بورسعيد ـ القاهرة، لومړی چاپ کال ۲۰۰۹م/ ۱۴۳۰هـ.
5. أسنى المطالب في شرح روض الطالب (4/ 204) د شافعي عالم شيخ الإسلام زكريا بن محمد بن زكريا زين الدين أبو يحيى السنيكي الأنصاري (ت ٩٢٦) ليكنه، د دار الكتاب الاسلامي چاپ.
6. الأشباه والنظائر تأليف: الإمام العلامة / تاج الدين عبد الوهاب بن علي ابن عبد الكافي السبكي، خپرونکی اداره: دار الكتب العلمية، لومړی چاپ: 1411 هـ - 1991م.
7. أصول العلاقات الدولية في فقه الإمام محمد بن الحسن الشيباني، د عثمان جمعه ضميرية د دکتوراه رساله، چاپ دار المعالي، عمان، صويلح، اردن، لومړی چاپ ۱۹۹۹م.
8. أضواء البيان في إيضاح القرآن بالقرآن د شيخ محمد الأمين الشنقيطي ليكنه. أضواء البيان في إيضاح القرآن بالقرآن تأليف: محمد الأمين بن محمد المختار بن عبد القادر الجكني الشنقيطي (ت 1393هـ)، خپرونکی اداره: دار الفكر للطباعة و النشر و التوزيع بيروت – لبنان، د چاپ کال: 1415 هـ - 1995 م.

9. الاعتقاد والهداية إلى سبيل الرشاد على مذهب السلف وأصحاب الحديث، المؤلف: أحمد بن الحسين بن علي بن موسى الخُسْرَوْجِردي الخراساني، أبو بكر البيهقي (المتوفى: 458هـ)، المحقق: أحمد عصام الكاتب، الناشر: دار الآفاق الجديدة – بيروت، الطبعة: الأولى، 1401هـ.
10. إمتاع الأسماع بما للنبي من الأحوال والأموال والحفدة والمتاع، المؤلف: أحمد بن علي بن عبد القادر، أبو العباس الحسيني العبيدي، تقي الدين المقريزي (المتوفى: 845هـ)، المحقق: محمد عبد الحميد النميسي، الناشر: دار الكتب العلمية – بيروت، الطبعة: الأولى، 1420 هـ - 1999 م.
11. الأموال لابن زنجويه، المؤلف: أبو أحمد حميد بن مخلد بن قتيبة بن عبد الله الخرساني المعروف بابن زنجويه (المتوفى: 251هـ)، تحقيق الدكتور: شاكر ذيب فياض الأستاذ المساعد - بجامعة الملك سعود، الناشر: مركز الملك فيصل للبحوث والدراسات الإسلامية، السعودية، الطبعة: الأولى، 1406 هـ - 1986 م.
12. آثار الحرب في الفقه الإسلامي دراسة مقارنة، شيخ وهبة الزحيلي ليكنه چې په اصل کې د هغه د دکتوراه رساله ده، چاپونکی اداره: دار الفكر، دمشق د دريم چاپ کاپي کال ۱۹۹۸م.
13. الآداب الشرعية د عبد الله بن محمد بن مفلح مقدسي (ت ۷٦۳هـ) ليکنه، تحقيق: شعيب الآرناؤوط، مؤسسة الرسالة، بيروت، د چاپ کال ۱۹۹۹م دريم چاپ.
14. الآداب، تأليف: أحمد بن الحسين بن علي بن موسى الخُسْرَوْجِردي الخراساني، أبو بكر البيهقي (المتوفى: 458هـ)، اعتنى به وعلق عليه: أبو عبد الله السعيد المندوه، الناشر: مؤسسة الكتب الثقافية، بيروت – لبنان، الطبعة: الأولى، 1408 هـ - 1988 م.
15. بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع دار الكتب العلمية، بيروت، لبنان، دويم چاپ ۱۹۸٦م.
16. التشريع الجنائي الإسلامي مقارنا بالقانون الوضعي، د دار الكاتب العربي بيروت چاپ، د چاپ نيټه نه ده ليکل شوې.
17. التقرير والتحرير في علم الأصول، ابن أمير الحاج (سنة الولادة / سنة الوفاة 879هـ.) الناشر: دار الفكر، سنة النشر 1417هـ - 1996م. مكان النشر بيروت.
18. تيسير التفسير تأليف: نجم الدين عمر بن محمد بن أحمد النسفي الحنفي (۴٦۱- ۵۳۷هـ) (دا د امام أبو البركات النسفی (ت 710) د مدارک التنزيل د مؤلف څخه بيل عالم دی چې له هغه څخه ډير مخکې تير شوی دی، او هغه يې د تفسير څخه ډيره استفاده هم کړې ده) تحقيق: ماهر اديب حبوش، ناشر: دار اللباب للدراسات وتحقيق التراث، اسطنبول، ترکيا، لومړی چاپ کال ۲۰۱۹م – ۱۴۴۰هـ.
19. جامع البيان عن تأويل آي القرآن، تأليف: محمد بن جرير بن يزيد بن كثير بن غالب الآملي، أبو جعفر الطبري (المتوفى: 310هـ)، تحقيق: الدكتور عبد الله بن عبد المحسن التركي، خپرونکی اداره: دار هجر للطباعة والنشر والتوزيع والإعلان، لومړی چاپ، کال: 1422 هـ - 2001 م.

20. الجامع المسند الصحيح المختصر من أمور رسول الله صلى الله عليه وسلم وسننه وأيامه (صحيح البخاري) المؤلف: محمد بن إسماعيل أبو عبدالله البخاري الجعفي، المحقق: محمد زهير بن ناصر الناصر، الناشر: دار طوق النجاة (مصورة عن السلطانية بإضافة ترقيم ترقيم محمد فؤاد عبد الباقي) الطبعة: الأولى، 1422هـ..

21. الجامع لأحكام القرآن، تأليف: أبو عبد الله محمد بن أحمد بن أبي بكر بن فرح الأنصاري الخزرجي شمس الدين القرطبي (المتوفى: 671هـ)، تحقيق: أحمد البردوني وإبراهيم أطفيش، خپرونکی اداره: دار الكتب المصرية – القاهرة، دويم چاپ 1384هـ - 1964 م.

22. الدر المختار د ابن عابدين د حاشيې رد المحتار سره د الدر المختار مؤلف محمد بن علي بن محمد بن علي بن عبد الرحمن الحنفي الحصكفي (ت ١٠٨٨ هـ) دی، او رد المحتار مؤلف ابن عابدين، محمد أمين بن عمر بن عبد العزيز عابدين الدمشقي الحنفي (المتوفى: 1252هـ) دی، خپروونکی اداره: دار الفكر-بيروت، دويم چاپ: 1412هـ - 1992م.

23. الدر المنتقى شرح الملتقى على هامش كتاب مجمع الأنهر شرح ملتقى الأبحر، الدر المنتقى لمحمد علي بن محمد بن عبد الرحمن المعروف بالعلاء الحصكفي الحنفي مفتي دمشق، (1021هـ _ 1088هـ) چې د الدر المختار مؤلف هم دی، طبع دار الكتب العلمية ـ بيروت، الطبعة الأولى عام 1998م.

24. روح المعاني في تفسير القرآن العظيم والسبع المثاني، تأليف: شهاب الدين محمود بن عبد الله الحسيني الألوسي (المتوفى: 1270هـ)، تحقيق: علي عبد الباري عطية، خپرونكي اداره: دار الكتب العلمية – بيروت، لومړی چاپ: ١٤١٥هـ..

25. الروضة الندية شرح الدرر البهية دار الجيل، بيروت چاپ، بې له تاريخ څخه.

26. سنن أبي داود، أبو داود سليمان بن الأشعث بن إسحاق بن بشير بن شداد بن عمرو الأزدي السِّجِسْتاني (المتوفى: 275هـ)، تحقيق: محمد محيي الدين عبد الحميد، خپرونکی اداره: المكتبة العصرية، صيدا – بيروت.

27. السنن الكبرى تأليف: أحمد بن الحسين بن علي بن موسى الخُسْرَوْجِردي الخراساني، أبو بكر البيهقي (المتوفى: 458هـ) تحقيق: محمد عبد القادر عطا، خپرونکی اداره: دار الكتب العلمية، بيروت – لبنان، دریم چاپ: 1424 هـ - 2003 م.

28. السيل الجرار المتدفق على حدائق الأزهار، تحقيق: محمد ابراهيم زايد، د المجلس الأعلى للشؤون الاسلامية، لجنة احياء التراث الاسلامى، د چاپ کال ١٩٨٨م.

29. شرح السير الكبير د امام محمد بن احمد سرخسي (ت ٤٩٠هـ) اصل كتاب د محمد بن الحسن الشيباني دی، او له دې وروسته، تحقيق: ابو عبد الله محمد حسن محمد حسن اسماعيل الشافعي، د محمد علي بيضون، دار الكتب العلمية، بيروت، لبنان د منشوراتو څخه، لومړی چاپ ١٩٩٧م/ ١٤١٧هـ.

30. شرح النووي على مسلم د دار احياء التراث العربي، بيروت چاپ، دويم چاپ کال ١٣٩٢هـ.

31. الشريعة الاسلامية والقانون الدولي العام، د المستشار علي علي منصور تأليف، الجمهورية العربية المتحدة، المجلس الأعلى للشؤون الاسلامية، القاهرة، لومړی چاپ ۱۹۷۱م موافق ۱۳۹۰هـ ش.

32. العلاقات الدولية في الإسلام، د امام محمد ابو زهرة ليكنه، د چاپونكى او نشرونكى اداره: دار الفكر العربى، مدينة نصر ـ القاهرة، د چاپ كال ۱۴۱۵هـ / ۱۹۹۵م.

33. العلاقات الدولية فى الاسلام (الجزء الأول) المقدمة العامة للمشروع (مشروع العلاقات الدولية فى الاسلام) د المعهد العالمي للفكر الاسلامي مشروع، د مشروع مشرف عام: أ.د. نادية مصطفى، په دې مجلد کې د دكتور احمد عبد الونيس شتا بحث، چې عنوان يې دى: (الأساس الشرعي والمبادئ الحاكمة للعلاقات الخارجية للدولة الإسلامية).

34. غياث الأمم في التياث الظلم يا الغياثي تحقيق: دكتور عبد العظيم الديب، د چاپ كال ۱۴۰۱هـ، همدا يې بشكلې تحقيق دى.

35. فقه الجهاد، د جهاد په اړه د شيخ يوسف القرضاوي موسوعي كتاب د مكتبة وهبة چاپ، ۱۴ شارع الجمهورية، عابدين، القاهرة، مصر، څلورم چاپ، ځانګړى چاپ كال ۲۰۱۴م.

36. الكشاف عن حقائق التنزيل، وعيون الأقاويل في وجوه التأويل تأليف: أبو القاسم محمود بن عمرو بن أحمد، الزمخشري جار الله (المتوفى: 538هـ) الناشر: دار الكتاب العربي – بيروت، الطبعة: الثالثة - 1407 هـ.

37. كفاية النبيه في شرح التنبيه، المؤلف: أحمد بن محمد بن علي الأنصاري، أبو العباس، نجم الدين، المعروف بابن الرفعة (المتوفى: 710هـ) المحقق: مجدي محمد سرور باسلوم، الناشر: دار الكتب العلمية، الطبعة: الأولى، م 2009م.

38. المبسوط تأليف: محمد بن أحمد بن أبي سهل شمس الأئمة السرخسي (المتوفى: 483هـ)، خپرونكى اداره: دار المعرفة – بيروت، د طبعې شمېر: نا څرګند، د چاپ كال: 1414هـ - 1993م.

39. مجمع الزوائد ومنبع الفوائد، المؤلف : نور الدين علي بن أبي بكر الهيثمي، الناشر : دار الفكر، بيروت - 1412 هـ،

40. مجموع الفتاوى، المؤلف: تقي الدين أبو العباس أحمد بن عبد الحليم بن تيمية الحراني (المتوفى: 728هـ)، المحقق: عبد الرحمن بن محمد بن قاسم، الناشر: مجمع الملك فهد لطباعة المصحف الشريف، المدينة النبوية، المملكة العربية السعودية، عام النشر: 1416هـ/1995م.

41. المطلع على أبواب المقنع، د ابو عبد الله شمس الدين محمد بن ابي الفتح البعلي الحنبلي (ت 709هـ) ليكنه، ناشر: المكتب الاسلامي، بيروت، ۱۹۸۱م، تحقيق: محمد بشير الادلبي.

42. معلمة زايد للقواعد الفقهية والأصولية، تأليف د علماو يوه لويه مجموعه، خپرونكى اداره: مؤسسة زايد بن سلطان آل نهيان للأعمال الخيرية والانسانية، ومجمع الفقه الاسلامى الدولي، لومړی چاپ ۲۰۱۳م/۱۴۳۴هـ ابو ظبي – متحده عربي امارات.

43. مغازي الواقدي، المؤلف : أبو عبد الله محمد بن عمر بن واقد الواقدي (المتوفى : 207هـ)،

44. مفاتيح الغيب أو التفسير الكبير تأليف: أبو عبد الله محمد بن عمر بن الحسن بن الحسين التيمي الرازي الملقب بفخر الدين الرازي خطيب الري (المتوفى: 606هـ)، خپرونكى اداره: دار إحياء التراث العربي – بيروت، دريم چاپ ۱۴۲۰هـ.

45. المفردات في غريب القرآن، المؤلف: أبو القاسم الحسين بن محمد المعروف بالراغب الأصفهانى (المتوفى: 502هـ) المحقق: صفوان عدنان الداودي، الناشر: دار القلم، الدار الشامية - دمشق بيروت، الطبعة: الأولى - 1412 هـ.

46. من اجل نظرية فى القانون الدولي، د ادمون رباط ليكنه، ترجمه ابراهيم عوض په (المجلة المصرية للقانون الدولي په كال ۱۹۵۰م) ص ۱-۲۳ كې چاپ شوى دى.

47. النجم الوهاج في شرح المنهاج، المؤلف: كمال الدين، محمد بن موسى بن عيسى بن علي الدَّمِيري أبو البقاء الشافعي (المتوفى: 808هـ) الناشر: دار المنهاج (جدة) المحقق: لجنة علمية، الطبعة: الأولى، 1425هـ - 2004م.

48. نهاية المحتاج د شمس الدين محمد بن أبي العباس أحمد بن حمزة بن شهاب الدين الرملي الشهير بالشافعي الصغير (ت ۱۰۰۴هـ) چاپ دار الفكر للطباعة، د چاپ كال ۱۹۸۴م.